# سيند په منگي کې

( ادبي رساله )

ليکوال : اسحاق ننګيال

www.samsoor.com

# ژمنه اما د چا پر وړاندې

د هنري ژورو واقعيتونو او د هغه د پراخو بعدونو سم او ژور درک او د هنر استا تيکي او د هغه د وګړنيز رسالت د اړيکو پيدا کول او د هغو اندونو پر ژورتيا پوهونه چې تاکلې هنري پديدې ورڅخه د يوه ضرورت او يوې ټاکلې اړتيا په توګه منځ ته راځي، زمونږ د وخت او زمونږ د مهال اساسي غوښتنه ده، چې د هنر د پراخو، پټو او برالاوو پديدو کشف، څېړنه او کره کول هر يو ځان ته ځانګړې او هر اړخيز بحث غواړي او د هنر پر وړاندې له مسووليت څخه ډک بحث .کله چې وغواړو د هنري ټاکلو پديدو د هستېدنې، خلاقيت، رسالت او مسووليت په اړوند څه ووايو او ويې ليکو لازمه برېښي څو د اړوندې ټولنې د سرشت او د هغې د خاصو زماني او مکاني شرايطو په دننه کې د تاريخي وګړنيزو او اقتصادي متضادو پديدو د څه رنګوالي، حرکت او رمختيا په باب لازمه پلټنه وشي او د هنري پديدو د پيدا ايښت، پرمختګ او نوي کېدو په اړوند د ټولنې د تمدن او فرهنګ بهير مطالعه شي او د ټولنې د انسانانو تر منځ او د انساني ټولنې او طبيعت تر منځ د عاطفي اړيکو په هکله کره کتنه وشي او په ټولنه کې د هنر د رامنځته کېدو عوامل وڅېړل شي او د ژوند او هنر تر منځ اړيکې را برسېره شي. دلته خبره پر هنر، د ټولنې، د ټولنې له انسان او د ټولنې او انسانانو تر منځ د هنر د اړيکو او د هغوی د ټولنيز سياسي _ اقتصادي ژوند په دننه کې د تاريخي او زماني پېښو په باب ده، چې بې له شکه يو له بل سره د مولد او مولود ، د هستي او هستوونکي پيوند لري او دلته خبره پر هنر او د خلکو په ذهن او روان کې د هنري پديدو د اثر ښندنې او پاېښت په باب ده او په هنر کې د ژمنې په باب .

هنر او ټولې ادبي پديدې هر کله او هر وخت د يوې ټولنې د خاصو زماني او مکاني شرايطو او پېښو زېږنده او د ټولو زېربنايي مناسباتو د موجوديت، خصلت، بدلون او حرکت روبنايي محصول دی او تر نن پورې يې يا خو په هماهنګ او کله هم په نا هماهنګ ډول دوام موندلی او تر مونږ پورې رارسېدلي دي .

ومو ويل چې هنر او ټولې ادبي پديدې د ټولنيزو ، تاريخي او اقتصادي مناسباتو زېږنده او د ټولنې او د ټولنې د خلکو د ذهني اړتياوو او غوښتنو پر اساس منځ ته راغلې دی او وده يې موندلې ده. هېڅوک نه شي کولی هنري پديدې له طبيعت، ټولنې، تاريخ او د خلکو له ژوندانه څخه بېل او مجزا وبولي. هنر د ټولنې د ژوندانه تجسم او انعکاس دی، نو که چېرې هنر او هنرمند وغواړي له ټولنې او د ټولنې له روانو پېښو

سره او د خلکو د ژوند له روال سره پرېکړه وکړي د عاج د خيالي ماڼۍ له برجونو څخه لوېږي او ځان ته په حتمي توګه د مرګ او نېستۍ بې رحمه منګولو ته سپاري هنرمند ، اديب، شاعر او ليکوال د ټولنې مخکښ استازي او د هغه د عيني موجوديت پېښو او تاريخ منعکس کوونکي او آيينه دار دي. هنر مند پخپله د خپلې ټولنې غړي دي او پخپله ټولنه کې ژوند کوي .هنر مند (( پر ځمکې ولاړ دی او بياد د اشياوو پر موجوديت. شهادت ورکړي .که هغه خپل زمان ونه ګوري له خپل تاريخ سره يې خيانت کړی دی او که خپل محل، مکان او چاپېريال ونه ويني او که د خپل ماضي قاضي، د حال لېدونکی او د راتلونکې پيشګوی اونه اوسي خيانت يې کړی دی ... )).

هنرمند ، اديب، شاعر او ليکوال په ټولنه کې ژوند کوي او بايد د خپلې ټولنې او د خپلې نړۍ د پېښو انعکاسګر او د خپلو خلکو د ناپايه رنځونو ، وينو او اوښکو د شېبو انځورګر او برعکس هم د خپلې ټولنې د انسانانو د خوښيو او ښاديو د شېبو عاطفي مترجم وي .

زمونږ په لوغړنه ټولنه کې چې همدا اوس هم د مرګ او وينو سوداګران هره ورځ او هره شېبه د خلکو د کورونو پر نغريو کې د مرګونو او نېستيو زړي کري او زمونږ پر لوغړنه ټولنه کې چې د جګړې اورونو زمونږ د هيواد پراخ او سمسور طبيعت هم پر چېغو او زګېرويو راوستی دی نه ښايي چې زمونږ د دغې سوې سوځېدلې ټولنې هنر مند ، اديب ، شاعر او ليکوال د عاج په خيالي ماڼۍ کې ناست او د خلکو په وړاندې د بې مسووليتۍ پلتۍ ووهي او حتی د خپلو عواطفو او احساساتو پر (( بې طرفه )) کولو سره د خپلو هيوادوالو د زړونو د وينو د لښتيو او د هغوی د ماتو هډوکو د غنډيو بې پروا ننداري وکړي . (( څومره به لويه ګناه وي هغه خه چې ويلی يې شو ونه يې وايو او څومره به له انسانيته لرې وي هغه څه چې وينو يې ونه يې ښيو او پرېوتي له لاسه ونه نيسو )).

# سیند په منګي کې

په زلفو ورو ورو ډمنځ راکاږه
هلته زما د زړګي کور دی وران به شینه

دا زمونږ د فرهنګي ټولنې د یوه غړني او یا خود یوه کلیوالي انسان دا یشنده مینې شاعرانه انګازه ده، چې د لسګونو او ښایي د پیړیو په تیرېدو سره موږ ته په همدومره خوږوالي او نوي والي رارسېدلې ده او د پیړیو، پیړیو ژوندکولو وس، تومنه او قابلیت لري. شعر په لنډه او اهنګینه ژبه د اند او تخیل عاطفي پیوند دی. شعر له کلیماتو څخه جوړه شوې او سینګاره شوې ناوې ده. شعر د تخیل، تصویر او هنر یوه ښکلې او ارته نړۍ ده او له بله پلوه شعر په یوه څپک کاغذ کې زموږ د ټولې مادي نړۍ انځورونه او په بل عبارت په منګي کې د سیند ځایول دي .
زمونږ پښتو لنډۍ همداسې شعرونه دي، په منګي کې سیندونه ځایوي او د څو کلیمو په روح کې یوه دنیا ښایسته او اند ښېمنده مینه هم .
دا چې زموږ په ټولنه کې د لنډۍ شعر د هر لوستي او نالوستي پر ژبه حک دی او دا چې د لنډۍ شعر د وخت او زمان په ټولو شرایطو کې ژوندی پاتې شوی دی، دلیل یې لپه همدې لنډیز، ښکلا او سپېڅلتیا کې دی او بس .
د دې لپاره چې د پښتو د اوسني شعر یو لړ لنډ جاج واخلو دا خبرې مو یواځې د یوې کوچنۍ سریزې په توګه طرحه کړې . په هر شعر کې دوه ډوله جولۍ (شکلونه )لرو :
۱ _ظاهري شکل: د مسرو وزن، بې وزني، قافیې که وجود ولري او د مسرو او کلیماتو تول، شمېر او د حرکت بڼه یې .
۲ _ذهني شکل: احساس، اند، تخیل (د محتوا حرکت ) کله چې د پښتو شعر د پورته شکلونو یادونه کوو مقصد مو دا نه دی، چې په دې لنډه اخباري لیکنه کې د شعر پر دغو ځانګړو برخو بحث وکړو. دلته غواړو یواځې د شعر پر ((قد او قامت ))او د هغه پر شعري محتوا لنډې خبرې وکړو .
زمونږ د پښتو شعر د تاریخ په اوسني بهیر کې یو شمېر شاعرانو د څرنګوالي پر ځای څومره والي ته مخه کړه . لکه د مخه مو چې وویل ، شعر چې په لنډه او اهنګینه ژبه د اند او تخیل عاطفي پیوند دی پر اوږده او غځېدلې ژبه د هغه او دغه ځای د تشو خبرو پر لفاظي او پرېړ پیوند بدل شو .
شعر چې باید د شاعرانه او هنري انځورنو راغونډ شوی او راپیل شوی امېل وي، د غیر هنري او غیر هنري ورځنیو کلیماتو په اوږدو پړو بدل شو او په همدغو ((شعرونو

))سره مو د چا خبره ختيځ او لوېديځ سره ګز کړل .
موږ نه وايو چې خدای مکړه اوږد شعر، شعر نه دی او هېڅکله شعري او هنري ارزښت نه لري ،که چېرې موږ وکولی شو چې په خپلو همدغو اوږدو شعرونو کې همغومره شعري او هنري مفاهيم او انځورونه ځای کړای شو دا به زموږ کمال وي او زموږ د شعر هنري کمال هم که چېرې موږ وکولی شو د حميد بابا د(( کاش له ياره سره تللی په سفر وای ))په څېر اوږد خو له معجزه جوړوونکو شعري، هنري او عاطفي کليماتو، مفاهيمو او انځورونو څخه ډک شعر او يا نظم ولرو دا به نه يوازې زمونږ د شعر کمال وي بلکې زموږ د معاصر پښتو شعر د وياړ هسکه شمله به هم وي .
موږ نه وياو چې زموږ معاصر او وسنی شعر دې د لنډۍ د شعر په څېر لنډ او مختصر شعر وي، مګر لږ تر لږه خو دې د خپلو شعرونو مانا ييزو او ښکلا ييزو اړخونو ته پام هم وکړو، اوږد شعر پراخو انځورونو ته هم اړ دی او ((څهل ګزيان ))خو لږ تر لږه څلو ښت ګزه ټوکر هم غواړي .
موږ شاعران دا منو چې ښايي ونه شو کولی د خپلې ټولنې او نړۍ د غه پېچلې پېښې په خپلو شعري هستونو کې په پرې کړو او لنډو مفاهيمو کې انځور کړو خو بايد دا هم له ياده ونه باسو چې موږ شاعران يو، مورخين او جغرافيه ليکوونکي نه يو .
دوه ډوله حقيقتونه وجود لري : علمي حقيقت او شعري حقيقت يا هنري حقيقت: علمي حقيقت د حساب او رياضي پر بنسټونو ولاړ دی او شعري حقيقت پر معنوي اند او هنري انځورونو. کله کله زموږ په شعرونو کې(( علم )) ، ((وعظ ))او د (( بيانيې ))ورکولو دود دومره عام او پراخ شي، چې نه شو کولای په يوه پينځه پاڼه ييز (( شعر ))کې پينځه نوي او شاعرانه ترکيبونه ومومو کله، کله په خپلو شعرونو کې د عيني صفتونو پر ځای دومره مجرد صفتونه کاروو چې زموږ د غه ډول(( شعرونه ))د لارو او بازارونو په عادي او ورځينو خبرو اوړي .
ښايي د دې خبرو يو دليل دا وي، چې موږ د افلاطون له دې خبرې څخه سرغړونه کړې وي ، چې وايي ((شاعر هغه پاک او سپېڅلی موجود دی چې تر څو يې الهام نه وي اخيستی پر کشف او بداعت نه شي کولای لاس پورې کړي )).
او يا د ((شلي ))پر دغې خبرې لا سم نه يو پوهېدلي چې ((شعر د استدلال په څېر نه دی او هغه شی نه دی چې د ارادې په پرېکړه سره په کار ولوېږي، هيڅوک نه شي کولای ووايي چې زه به شعر ووايم حتا ډېر ستر شاعران نه شي کولی داسې خبره وکړي)) .
موږ ډېر ځله الهام او کشف ته ارزښت نه ورکوو، مخکې له دې چې هستونې ته وهڅېږو، ليکو يې او په زوره يې ليکو . د دې لپاره چې شاعرانه حالت رابانديې نه دی

راغلی او نه مو دی لمس کړی، نو ولې به مو شعر یوازې له لفظي غورو پرک ونه چوي او دا خو به پر ځای پرېږدو چې یو نیم ((شاعر))خو مو د ((شعر)) د لیکولو لپاره د احتیاط په خاطر د الفبا په ترتیب د قافیو او ردیفونو د منظمو جدولونو کتابچې هم په جېب کې گرځوي. همدا چې غرږ ورته وشي ساعت وروسته ((یا الله)) شعر تیار دی . خلکو ته باید رښتینی شعر په مخ کې کېښودل شي او دا زموږ د شاعر، وجیبه او مکلفیت دی .

## ښه شعر !له هر ((ایزم ))نه چې وي

...او موږ یوازې د ریالیزم په خېټه کې څه لیدلي دي، چې نوم یې تش پر ژبه راوړو خوله مو پرې ځربږي؟آیا شعر، مینه، ژوند او هنرر د همدغه((ریالیزم ))په کولمو کې نغښتی رانغښتی دی، چې هره خبره یې د آسماني کتاب حیثیت راته لري او انکار ترې د کفر خواته ځي؟

په دې باور لرو چې هغه شعر او هغه هنر چې د انسان لپاره د انساني ټولنې لپاره او د ژوند لپاره نه وي وقف شوی، هغه شعر، شعر نه دی او هغه هنر، هنر نه دی خو مګر ژوند همدا ځنبل، خوړل او پاڅېدل دي؟او کله چې له انسان او له انساني ټولنې نه خبرې کوو، آیا موخه مو یوازې او یوازې د ټولنیزو تضادونو او د هغو پر اړندو مسایلو د اندونو او ذهنونو راسپړل دي؟راشو ژوند، انسان او انساني ټولنې د هغو پر پراخ مفهوم سره وڅېړو او ژوند ته د ژوند په سترګه قایل شو .

موږ عادت کړی، همدا شعر ته، کیسې ته _او د ادب او هنر د نورو ډولونو د راهستولو لپاره قلم را اخلو حتماً باید وږي او ماړه نسونه، بې عدالتي او ټولنیزې نادودې زموږ د ادبي او هنري هستونو مرکز وټاکي. حتماً باید په خپلو هستونو کې د خپل وطن هسک او آسمانڅک غرونه او بهاند سیندونه سره ګزاو را ګز کړو او د خپلو بهادریو په لاپو شاپو سر شو .

او که چېرې هم په تغزلي او لېریکو شعرونو لاس پورې کوو، نو که چېرې د هغه شعر حتی تخیل او ایماژ هم د علم، پوهې او منطق له عامو اصوصول سره ډډه ونه شي لګولیو هغه دې بیا پر((کفر )) متهم یو او د پېړیو د راپاتې شویو ادبي سنتونو پر ماتولو هم .

هوکې !هنر د ژوند لپاره، او زما په اند هنر د هنر لپاره کېدای شي وجود ونه لري. هر څه چې د شعر په نوم او د هنر په نامه ایجاد شي او منځ ته راغلي دي د انسانانو له خوا منځ ته راغلي او همدغه شعر او همدغه هنر د همدغه انسانانو د اند، ذهن، تجربو او حواسو محصول دی ، اوبې له شکه د انسانانو له کړو وړو، تجربو او حواسو سره په یوه ډول نه په یوه ډول عیني او ذهني اړیکي لري.که نه نو دا شعر او دا هنر څنګه او له کومه ځایه منځ ته راغی؟او ولې منځ ته راغی؟ومو ویل تر اوسه هر شعر او هره هنري پدیده چې د هر کوم ادبي مکتب بر بنسټ منځ ته راغلې د انسان او یا خود شاعر او هنرمند د تجربو ، ذهني او حواسو محصول دي . شاعر او هنر مند خو پیغمبر نه دی، چې نالیدلي او نا اورېدلې خبرې له پورته پرې نازلې شي، نو د دې لپاره چې د هغه ادبي او هنري هستونه د هغه د فکر او اند زېږنده ده ، د هغه له خپل ژوند او په مجموع کې د انسان له

ژوند سره نښغې اړیکې لري، خو موږ د شعر او هنر له دغو پدیدو سره بې رحمانه وچ او له ځېل نه ډک چلند کوو ، یا خو له شعر نه سیاست غواړو ، له شعر نه تاریخ غواړو او یا خو له شعر نه دلیل ، منطق ، برهان او حتی علمي ثبوت غواړو . او د هرې ادبي او هنري هستونې پر څټ چې د (( ریالېزم )) ټاپه وه راته ((همه دې انتخاب ))او که خبره له دې نه هاخوا لږ څه پر ذهنیت، احساساتو ، ژور تخیل او ژورو سمبولونو او ابهامونو ولاړه وه ، بیا نو دغه دی له واقعي ژوند او عینیت څخه لرې شوي یو( ! ) او د (( ابهامونو )) ((بې منطقې ) )او ((لېونتوب ))په اتهام غږونه په ستونې کې راته وچوي .آیا موږ شاعران مجبور یو ، نړۍ دا سې وګورو لکه د نړۍ په مخ ټول عادي انسانان یې چې ویني؟

_آیا موږ شاعران او هنرمندان د دې مکلفیت لرو ، چې هر لوستی او نالوستی دې زموږ پر شعر او هنر دا سې پوه شي لکه پر ځان چې پو هېږي؟

_او آیا شعر او هنر ریاضیات دي چې وو ایو :دوه جمع دوه مساوي کېږي څلور سره؟ د سمبولېزم د ادبي مکتب لاربنود ((بودلر )) وایي: (( دا نړۍ له علایمو او اشاراتو څخه ډک ځنګل دی حقیقت د عادي خلکو له سترګو څخه پټ دی او فقط شاعر د هغه ادراکي ځواک له مخې چې لرې یې کولی شي د دغو علایمو د تفسیر او تعبیر په وسیلې سره هغه احساس کړي ) ).

د بودلر د نامه په یادولو سره خبره پر سمبولېزم راغله، سمبولېزم چې د یو شمېر ((ادب پوهانو ))په اند له حقیقي ژوند څخه لرې ګونګ او نامفهوم دی ( ! ).

همدغاه شېبه چې دا څو ټکي کاږم او د ((مکتب های ادبي ))له کتاب څخه مې د بودلر پورته خبره پور کړه، ومې لوستل چې لیکوال د سمبولېزم د ادبي مکتب لاربښوونکی په دې نامه چې په شعرونو کې یې بشري روح نشته او دې شعر له ژوند څخه لرې کړی دی محکوموي او حتی د انارشېزم په تور یې نیسي، مګر د حیرانتیا وړ خبره دا ده، چې په همدغه کتاب کې ښاغلي لیکوال د همدغو سمبولېستانو شعرونه راوړي ، چې بشري روح لري ، مینه لري او انساني لوړ اېډیالونه هم څپې پکې وهي :

_ خوښۍ هیلې غښتلې کوي، ای هیلې ته هغه زړه ونه یې چې لذت دې پیره ده، هر څومره چې دې پوټکی کلکیږې ښاخونه دې لا د لمر خواته لاره کوي، ای له سر وې ځینې زیاتې پایېدونکې ونې !آیا ته تل همدا سې په لوېېدو یې؟

_ ای عجیبو لارویانو ! !ستاسو په سترګو کې چې د سیند په څېر ژورې دي زړه راکښکونکې کیسې لولو د خپلو خاطراتو پانګه چې په هغو کې د ستورو او فلک ګوهرونه شته موږ ته را پرانیزي ! غواړو بې له هراسه او بې له باد بانه سفر وکړو. زموږ

له اروا وونه چې د بادبان په څېر غوړېدلي دي خپلې خاطرې پورې باسي، تر څو غمونه راته په خوښيو بدل کړي؟
وو ايي څه مو ليدلي دي؟
او فرض کړو چې د دې ډول شاعرانو په شعرونو کې بدبيني او ظلمت تياري، سکوت او رويا هم څپې وهي ، مگر ژوند ټول له نېکمرغيو ډک دی؟ آيا زمونږ نړۍ چې دا دی ژوند په کې کوو د ظلمت نړۍ نه ده؟ او آيا ژوند په خپله رويانه ده، چې سيوری يې راباندې اچولی دی؟ او زموږ ژوند او زمونږ نړۍ له ابهامه ډک ژوند او له ابهامه ډکه نړۍ نه ده؟ او رښتيا د سوريالېزم د ادبي مکتب اصول د شرق له عرفان سره گاونډيتوب او حتی خپلوي سره نه لري؟ لري يې خو موږ خپل شرقي عرفان ته د تسليم گونډې وهو مگر په خپله سوريالېزم گونگ دی، نا مفهومه دی او زموږ له حقيقي ژوند څخه لرې دی( ! ).
زموږ د دې چمونو له فلسفي اړخونو سره کار نشته، څو موږ د شعر په لټه کې يو ، د هنر په لټه کې يو او د شعريت او هنريت په لټه کې يو ، هغه شعر چې چېرې چې ويو په رياليزم کې او که په سمبولېزم کې، په سوريالېزم کې او که په روماتېزم کې .
سمبولېزم چې د ځينو په گروهه يوازې ((کليمې)) ته د ارزښت ورکولو شعر دی او سوريالېزم چې د هغوی په فکر د انځورونو د انحراف شعر دی او اگزيستا نسيالېزم چې د نا اوميدۍ او ناهيليو شعر دی، په هره يوه کې څه شته او ډېر پکې څه شته چې څه ترې زده شي او زموږ ننيو ادبياتو کې مروج هم شي .
هو کې !موږ د شعر ترې يو او موږ شعرته سترگې په لار يو ، او زموږ اوسنی پښتو شعر چې دا دی له کلونو کلونو سکون او له سينې ښويېدنې وروسته لږ و ډېر پر ملا سيخ شو دی، نو يو تجربو ته اړ دي او نويو ازماېښتونو ته، موږ شعريت او هنريت ته اړيو. هغه شعر او هنر چې که له هر کوم ادبي ښوونځي څخه اوبه څښي چې شعر وي او هنر وي موږ ورته اړ يو ، ښه يې ترې را اخلو ، تجربه کوو يې او عامو ويې او څه چې د منلو او زغمو ړ نه دي او منحط دي پر اوبو يې لاهو کوو ،مگر د شعريت لمنه هېڅکله هم نه خوشې کوو .

# د زړه وینې

## یوه لاره ، یو مشال

څومره ستر، څومره سپېڅلی او څومره بختور دی دا ولس چې مینه یې وطن دی او وطن یې مینه، ژوند یې وطن دی او وطن یې ژوند .
د دې ولس د شعر په باب خبرې کووم او د دې ولس د شاعر په هکله.شعر او شاعري پېرۍ، پېړۍ کېږي، چې د نړۍ په ټولو لسونو کې د یوه نه وچېدونکي او ناپایه سمندر په توګه بهاند او څپاند روان دی او د نړۍ د شعر ماڼوګانو به څومره د دې سمندرونو په ژورو کې لامبو وهلې وي، څومره به یې ژورو تلونو کې له ښېنو غورځېدلې وي او څومره به د شعر بېړۍ د دغو سمندرونو آرامو ساحلونو ته رسولې وي !
هو !شعر د نړۍ د ټولو خلکو مال دی او تر اوسه داسې قام نه دی رازېږېدلی چې شعر دې ونه لري، شاعر دې ونه لري، هنر دې ونه لري او هنرمند دې ونه لري. د نړۍ د همدغو ټولو ولسونو شاعرانو له شعر څخه د عشق او مینې د انځورونې او یا خو د ملتونو او د ولسونو د راپارولو لپاره او له ناخوالو سره د مبارزې لپاره د یوې وسیلې او یا خود یوې وسلې په توګه ګټه اخیستې ده او دا چارې اوس، اوس هم هر کله او هر چېرې روانې هم دي .
خو موږ خپل شعر یادوو ، چې د نړۍ د بل هر ولس له شعر نه را پاروونکی دی او د خپل وطن او د خپلو ولسونو د پت او مېړانې د ننګونو او غیرتونو او د هغوئ د یووالي او پیوستون غږ دی او نه تېپېدونکې ناره ده ، که چېرې د خپل پښتو شعر جاج له پیل نه تر همدې دمه راوڅېړو ، زموږ دغه هنر ټول ژوند د حماسو او د رزمونو او ویاړونو د ډګرونو هنر پاتې شوی دی او لګیا دي همداسې پر مخ ځي .هو کې !اله کرړوږ نه نیولې تر خوشاله او له خوشاله تر همدې دمه، همدا شېبه چې په همدې څه لیکلو بوخت یم، د پښتو شعر یوه همداسې غوره ببلګه مې په مخ کې پرته ده، چې له پیل نه تر پایه د پښتني شعر د یوه دود په خبر په پښتو او پښتونولۍ، په ملت او افغانیت څرخي، چې د وطن د ماضي هنداره هم را جوړوي او د نن او سبا هم .
))د زړ هوینې یادوم ((زموږ د پېرۍ د یوه ستر پوه، لیکوونکي ، څېړونکي، مورخ او شاعر استاد عبدالشکور رشاد شعري جونګ .
دا متل د سرکو ولیکي په زړه کې
مه یې باسئ پښتنو په ژوند له فکره

د دښمن له مکره ځان ساتو په خپله
خدایه !ته مو وساتې د دوست له مکره

او استاد رشاد ))د زړه وینې ((دفتر له همدغې پښتو او پښتونوالې نه پیل کوي او په همداسې شعر یې پای ته رسوي .

د استاد رشاد په دې شعري جونګ کې ټول پنځوس شعرونه راغلي دي، چې یوازې له څو غلو نه پرته نور ټول شعرونه پر ملت او بین الملیت څرخي او په هر قدم او هر غم کې وطن راته انځوروي او د نړۍ په سطحه لوړو انساني ایډیالونو ته خپله مینه او وفاداري راڅرګندوي .

د مجنون ژوند به څه وي چې لیلا مري
څه په کار دی تش کالبوت چې زړه د چا مري
حریت د هر ملت زړه او بدن دی
که دانه و ، هم ملت مري هم بقا مري

وداني د دې وطن غواړي مېړونه
د ټټر په درد او غم کې غمجن زړونه
د برېښنا په شانې تېز د فکر غشي
د پولاد په شانې کلک درانه عزمونه

خوشال خان خان په زنکدن وې ))ننګیالیو ((
سر و مال د پښتانه تر ننګه جار
یو ارمان راسره وړم تر تورو خاورو
چې مې نه لید د پښتون د بڼ بهار
که ))خوشال ((په حسرت داغ زړه ځینې درومي
خدایه !ته لره سمسور د قام ګلزار

او زمونږ دغه ستر او نامتو ویناوال یوازې د خپل وطن او خپل ولس درد او غم ته نه دی وزګار، د هغه لوی زړه او لوی ذهن د لویو او سترو غمونو او اندېښنو زړه او ذهن دی او زموږ شاعر یوازې د پښتنو او افغانانو په نوم ړلی شاعر نه، بلکې زموږ د دغې سترې او ارتې سپینې، تورې، سرې او ژېړې نړۍ شاعر هم دی، چې په درد یې دردمند دی او په ښادۍ یې ښادمن .

کله چې د دویمې نړیوالې جگړې وینې څښونکې د یو د نړۍ زړه په منگولو کې رانغاړې وینې ترې څښې، زموږ شاعر د قلم تورې ته لاس غځوي او پر لیکي یې :

آ د زور په نشه مست ظالم انسانه
د دښمن په نام دې څومره غاړې پرې کړې
د سیالۍ هوس دې څۀ نغري ساړه کړه
د تسخیر هوډ دې څومره ډیوې مړې کړې

وایي :
خولې دې په مرگ دکې د هغو شي
چې یې پوهې په مرگ ډکې د مرگ خولې کړې

او کله چې د یهودو یرغلگر ځواکونه د عربي هیوادونو پر مسلمانانو باندې د شوبلو، الوتکو او توپونو ډلې وورو وي او د خاورې او پت بربادي او ښکېل ته یې راوځي زموږ پښتون متفکر شاعر او وېناوال له هغوی سره خپل اند گډوي او د یرغلگرو پر ضد یې :مبارزې ته هڅوي او لیکي

آه عراق او د حجاز د غاړو غرو عربو
د شام زمرو عربو
په وینو سرو عربو ((سینا ))او د ((یرموک ))آ د
آ توریالو عربو
گورئ در جار سم نن مو روځ ده نارینو عربو
آ ننگیالو عربو
گورئ کوترې ، واست، یهود درته شبین عربو
د فلسطین عربو
نور دې اوبه نه سي اغیار ستاسې په مسکین عربو
وکړئ امین عربو
پاځئ په مینه د اسلام ای لېونو عربو
ای ننگیالو عربو

لکه چې ومو ویل هیواد ، ولس، پښتون، افغان او په مجموع کې انسان او انسانیت و

افغانیت او بین المللیت د ستر رشاد د شعرونو جوهر دی، د شعر پیله یې ده او پایله هم هغه چې هر چېرې دی، په هېواد کې او که د هیواد له غرونو او رغونو ها خوا، که د پامیر او هندوکش سرکښه بادونه یې شمله ښکلیو او که د میوند خونړۍ دښتې یې د خپل مغرور ولس شهید وینو ته راکاږي، که د خپل لوڅ او نهر ولس د ړنګو جونګړو له منځه تېرېږي او که د تاج محل د مرمرین حسن په ننداړو بوت وي، له موږ سره دې له هیواد سره دی او زموږ او زموږ د هیواد له ناخوالو او ښادیو سره دی.

د تاج محل او کشمیر ښاپېرۍ یې د حسن او ښکلا وو ننداړو ته را بولي او ست ورته ژوند وکګړه، غمونه دې هېر کړه او د ناز او پېغلتوب ځولیو ته مې !کوي، چې شاعره خو زموږ شاعر د تاج محل او کشمیر له وطن نه چېغې وهي چې !را پرېوځه:

درومئ د وطن خوا ته !آورېځو

سلام مې یوسئ هغه آشنا ته

چې زړه مې ډک دی زما له یاده

سترګې کړې دې زما و خوا ته

اوس به بهار وي په پښتونخوا کې

ګلان به پنځي، په شا و خوا کې

!یو ارې راسه هغه شماله

چې دې ژوندون سته په مړه سا کې

اوس به مې وېشي په پېمانو کې

رندان به ټول وي په مېخانو کې

افسوس چې نسته :ساقي به وایي

پردېس دی په وطنو کې ((رشاد ))

د استاد رشاد د شعر بعدونه دومره ستر او پراخ دي لکه د هغه شخصیت چې په خپله ستر او څو بعدیز دی، نه شو کولی د هغه د شعرونو یوازې د همدغه جونګ بعدونه وڅېړو، خو یوه خبره چې د یادونې وړ ده دا ده چې استاد تغزلي شعرونو په را هستولو او انځورولو کې هم د لوی لاس خاوند د ، که څه هم چې د ځومره والي له جهته یې تغزلي شعرونه د شاعرۍ کوچنۍ برخه جوړوي، خو همدغه تغزلي ببلګې یې د لوړ شعریت او هنریت او عالي تغزل نمایندګي کولی شي، کوم چې زمونږ د ژبې له ډېرو لوړو دغو شعرونو څخه په هېڅ توګهٔ وروسته نه شي پاتې کېدلی.

زیاتې د مخ په آب و تاب مه وهه ګوتې !ښایستې

د وړو زړونو د قتل په اسباب مه وهه ګوتې
سجدې و ته يې لاړ د هيلو سته له هجومه
که زما منې، د وروځو پر محراب مه وهه ګوتې
زه ستا پر ګوتو يم ته چې په بندو زړونو خوږ سې
د زلفو په تناب مه وهه ګوتې !د زړه ځوکې
ستا له بارخو مې مچه واخيسته تندی دې تريو سو
راسه چې ببرته يې پر خپل ځای کېږدم خپه ولې سوې
که ستا له تېغه يې سر لږ کوږ که پښتون به نه وي
ښايستې وايه له رشاده آزرده ولې سوې

د لوی استاد اکاډميسن پوهاند رشاد صاحب په شعرونو او هستونو بجت په دې ځو ټکو او ځو پاڼو نه شي خلاصه کېدلی او د هغه د شعر له سمندر څخه د يوه ځاځکي راپورته کول هم د زمري زړه غواړي او هم د زمريو حوصله، يوازې د يوه کوچني شاعر او څه ليکونکي په عنوان مې د هغوی د شعر او هنر پر وړاندې د خپل اخلاص لنډه تنګه .څرګندونه وکړه او بس

# برشت د ریالیزم په باره کې

برتولت برشت آلمانی ډرامه لیکونکی او مترقي شاعر په ادبیاتو او تیاتر کې د نوي سبک نوښتګر دی، چې په خپله یې په هغه باندې د ))رواېتي تیاتر )اپنیک (( (نوم ایښی دی .برشت دغه کړنه د )ډراماتیک تیاتر (په وړاندې طرحه کړه .د برشت په تیاتر کې مخاطب اند ېښنه ده نه احساسات، برشت، تیاتر د حقیقت په چوپړ او د کارګرانو په درښت کې بولي، چې د )تکان ورکولو (پر ځای انسانان اند ))فکر کولو ((ته راهڅوي برشت په خپلو ټولو لیکنو او خبرو کې له نوموړي موضوع څخه دفاع وکړه .

د ریالېزم په باره کې د برشت د لیکنو ټولي مجموعې د هنر او ادبیاتو په باره کې د علمي تیوری شتمنې زېرمې دي .مګر د دې شتممنۍ لوستو نه یوازې د هنر او ادبیاتو په هکله نه محدودېږي .

لاندینۍ قطعې د ریالېزم په هکله د برشت د لیکنو څرګندوی دي .

جوله )شکل (او محتوا :

ښاغلی ک یک، د یوه انځور ننداره کوله، چې په هغه کې ځني شیان د عجیبو شکلونو درلودونکي وو، هغه وویل )) :ځني هنرمندان په نړۍ لید کې د ډېرو فیلسوفانو په څېر وي، د شکل په وړاندې کولو سره محتوا له منځه وړي .

یو وخت مې له یوه بڼوال سره کار کاوه، هغه ما ته د بڼوالۍ یوه قیچي راکړه، تر څو د شمشاد د یوه بوټي ښاخونه تنظیم کړم، دا بوټی په دې لپاره بوټي ته باید د کرې شکل ورکړې شوی وای، ما په پرله پسې توګه د بوټي د کړو وړو څانګو په غوڅولو پیل وکړ، مګر هر څو مره مې چې هلې ځلې وکړې و مې نه شو کولی چې بوټي ته د کرې شکل ورکړم، یو ځل مې له یوې خوا او بل ځل مې له بلې خوا په ډېرې اندازې سره ښاخونه غوڅ کړل، کله چې د کرې شکل رامنځ ته شو کره ډېره کوچنۍ وه، بڼوال په نارضایتۍ سره راته وویل )) :ښه، دا خو شوه کره اما شمشاد چېرې دی؟ ((

سانسور چې د منتقد په عنوان :

په مشکل سره کولی شو د هنري طرزونو اغېزمندي وسنجوو .اکثراً ډېر هغه شیان چې په لاس راځې د منلو دي ))هو، لکه همغسې چې دې لیکلي دي، واقعیت لري ((او یا دا چې وایې هنرمند معین جهت د ))غور لاندي ((نیولی دی، اوس غوارم له یوې بریالۍ سنجونې څخه وغږېږم+

له ))سلاتان دودوف ((او له ))هانس آیسلر ((سره مې یو فیلم جوړ کړ، چې په برلین

کې يې د وزګارو خلکو زړه دردوونکې وضعه ښودله .نوموړي فیلم د یو څو کوچنیو ځانګړو ټوټو مونتاژو ، لومړنۍ ټوټې د یوه وزګار ځوان ځان وژنه ښودله، د سانسور اداري موږ ته د ډېرې ستونزې را منځ ته کړې او د سانسور چې، د شرکت د وکیلانو او زموږ په ګډون یوه غونډه جوړه شنوه معلومه شوه چې سانسور چې ډېر هوښیار سړی دی هغه وویل )) :هېڅوک ستاسو د دې حق څخه منکر نه دی چې یوه ځان وژنه وښیي ځان وژنه منځ ته راځي .تاسو کولی شئ، د یوه وزګار سړي ځان وژنه انځور کړئ .

داسې خبرې واقعیت لري .ښاغلیو !زه داسې دلیل نه وینمه چې داسې خبرې دې پټې پاتې شي .

اما زه ستاسو له خوا د یوه وزګار ځوان د ځان وژنې د ښودنې په دې طرز ایراد لرم، دا ډول طرز د هغو عامه شتمنیو سره چې زه باید د هغه ملاتړ وکړم سمون نه لري، خواشینی یم، مګر تاسو ته باید د یوه هنري انتقاد ګوته ونیسم .((

دغو خبرو له موږ سره ټکر وکړ او په ما نادارو سترګو مو ورته وکتل سانسور چې زیاته کړه ))هو، تعجب مه کوئ، که تاسو ته وو ایم چې ستاسو انځور ګظي زما په نظر ډېره انساني نه ده، تاسو یو انسان نه، بلکې یو مثال، هو !یو مثال ښودلی دی .ستاسو وزګار په رښتیني مانا یو سړی، د وینو او غوښو څخه یو جوړ انسان، له نورو انسانانو څخه ځانګړی، له ځانګړو اندېښنو، له ځانګړو خوشالیو او بلاخره پر خپل برخلیک پورې اړوند یو څوک نه دی .هغه مو ډېر سطحي ښودلی دی .ما وبښئ چې ستاسو هنرمندانو په وړاندې داسې ترخې کړنې په کاروم، هغه څه چې د دې وزګار ځوان په هکله وینو ناڅیز دي .د دې طرز پایلې سیاسي ماهیت لري او ما اړیاسي چې ستاسو د فیلم په هلکه د نظر د ځرګندولو څخه ډډه وکړم، ستاسو فیلم د دې ځرګندوی دی چې ځان وژنه د مثال په وړاندې کولو سره ښيي .نه د یوه زیان په عنوان چې هغه ))ناروغ (( انسان له هغه سره مخامخ دی، بلکې د یوې طبقې د عمومي برخلیک په عنوان !دا سودا موضوع لري چې ټولنه ځوان انسانان د کار له امکاناتو څخه په محرومولو سره ځان وژنې ته اړیاسي او تاسو په دې اشارې سره چې وزګارو ته د بدلونونو د منځته راوړولو لپاره څه توصیې لري ډډه نه ده کړې، نه ښاغلیو تاسو د هنرمند په عنوان چلند نه دی کړیو اقلاً ستاسو په فیلم کې هېڅ څیز نشته ستاسو هدف د یوه انسان د ټکان ورکوونکي برخلیک انځور ګري نه ده .که داسې وای هیڅا نه شو کولی ستاسو خنډ شي .((

موږ خپله روحیه له لاسه ورکړې وه او دا بوږنوونکی احساس مو درلود چې زموږ ورغوی یې کتلی دی .

آیسلر په خواشینۍ سره خپلې عینکې پاکې کړې او دو دوف له ناراحتۍ څخه بېخي تریو شوی و زه راپاڅېدم او له دې سره، سره چې د څه ویول لپاره یې زړه څه نه غوښتل، په خبرو مې پیل وکړ، زه په خپلو خبرو کې له بې حقیقتې سره کلک وفادار پاتې شوم .
هغه ځانګړې مشخصات چې وزګار ځوان ته مو ټاکلي وو په ګوته مې کړل مثلاً مخکې له دې څخه چې هغه ځان له کړکۍ راوغورځوي خپل لاسي ساعت له لاس څخه وباسي .
ما ادعا وکړه چې همدغه انساني حرکت به یوازې د صحنې محور ټاکي .
ومې ویل مونږ نور وزګاران هم ښودلي دي، چې ځانونه نه وژني، هغه هم څلور زره تنه ))زموږ د یوه سپورتي کلب له غړیو څخه فیلم اخیستی وه .(
ما د دې ناحق تومت په وړاندې چې ګواکې هنرمندانه عمل مو نه دی کړی مخالفت وکړ او د فیلم د مخنیوي پر ضد مو د یوه مطبوعاتي ډګر د پر مخ بیولو لپاره اشاره وکړه، د شرم له احساسولو څخه پرته مې ادعا وکړه چې په هنري شرافت مو توهین شوی دی .
سانسور چې د فیلم د جزئیاتو له څرګندولو څخه ډډه ونکړه، زموږ وکیلان په حیرانتیا سره د دې شاهدان وو چې په ټوله مانا عیار شوی هنري بحث پر مخ اچول شوی دی .
سانسور چې تاکید کاوه چې موږ ځان وژنې ته بالکل بېګله بیز خصلت ورکړی دی .
هغه د یو ډول ))ماشیني ډوله ((اصطلاح څخه ګټه اخیستله د ودوف راپور ته شو او په جدیت سره یې د ډاکټر د نظر غوښتلو هیله وکړه، هغه وویل یو ډاکټر به څرګنده کړې چې داسې اعمال اغلباً ))ماشین ډوله ((نظرونو ته ورته وي .سانسور چې سر وخوځاوه او ځواب یې ورکړ .
))ممکنه ده، مګر تاسو باید اعتراف وکړئ، چې ستاسو د ځآن وژنې انځورګري له هر ډول ټ:ان ورکوونکې عنصر څخه خالي ده .د دې فیلم لیدونکي ، اصلاً دا تمایل نه شي حسولی چې د دې ځان وژنې مخنیوی وکړي، مګر که چېرې ستاسو انځور ګري هنرمندانه او په انساني لحاظ د ترحم لرونکې وای، باید همداسې شو وای .لویه خدایه !دا هنرمند داسې رفترا کویو چې ګواکې وښیي چې په څه ډول د بادرنګ څخه پوټکی تر لاسه کوي؟ ((!
په زحمت سره مې وکولی شو چې د فلم د خپرولو اجازه واخلم کله چې مې اداره ترک کړه د سانسور چې په هوښیارتیا او ذکاوت مې اعتراف وکړ هغه زموږ له ډېرو خیر غوښتونکو منتقداتو څخه زیات په ژوره توګه زموږ د هنري مقصدونو په جوهر باندې پوهېدلی و هغه حتماً د ریالېزم په باب مطالعه درلودله .
د مترقي ادبیاتو په باره کې تېزسونه :
د لیکنو له لارې ، مبارزه وکړه !

وښيه چې مبارزه کوې !
ای غښتلیه ریالېزمه !واقعیت ستا پلو دی، ته هم د واقعیت پلوي اوسه !پرېږده چې ژوند خبرې وکړي !
ژوند مه مسخه کوه !پوه شه غولوونکي نه پرېږدې چې ژوند خبرې وکړي !اما ته کولی شې ته باید همداسې وکړې، داسې برخې وټاکې کله چې واقعیت انکار وکړي، له یاده اېستلو ته یې راوکاږي او لوی شي، په دې پړسېدلي صورت منګولې کښې کړه !
د خبرو کولو پر ځای پر خبرو کولو انتقاد وکړه !پرېږده چې په خبرو دې انتقاد وکړي !
ستا دلیل ژوندی او عمل کوونکی انسان او د هغه ژوند دی، په همدې ډول چې دی مه وبرېږه، ژوندی دې وي حقیقت !که چېرې ستا نتیجه اخیستې او پېشنهادونه سم وي نو باید وکولی شې، چې په واقعیت کې پټ تضادونه تحمل کړې، ستونزې د هغه په وېرونکي وجود کې وپلټې او هغه په کاملاً علني توګه تر سره کړې .
هر څه چې دې له واکه کېږي، ویې وکړه، تر ټو د خپلې طبقې هدف چې د ټول بشریت په ګټه دی پر مخ بوزي، مګر هېڅ شی په دې علت چې د نتیجه ګیریو، پېشنهادونو او هیلو سره مطابقت نه لري پټ مه پرېږده .
بهتره ده د خپلو نتیجه اخیستنو څخه په هغو خاصو برخو کې سترګې پټې کړې نه له حقیقت څخه، مګر په دې برخه کې هم تینګار وکړه، چې هغه ستونزې چې ته یې د هغه په وېرونکي کلیت کې څرګندوې کولی شي .بریالیتوب تر لاسه کړې .کله چې ته لوستونکی مبارزې ته راهڅوې نور نو یوازې نه یې چې مبارزه کوې، هغه هم له تا سره یو ځای جنګېږي ، یوازې ته نه یې چې لاره پیدا کوې، هغه هم لاره پلټي .

# ولې له نقد څخه وېرېږو ؟

له دې څه هېڅوک انکار نه شي کولی، چې له یوې لسیزې راپدېخوا زموږ پر شعر، زموږ پر داستان زموږ پر سینما او زموږ پر تیاتر او د هنر او ادب په ټولو برخو کې د پام وړ بدلون راغلی دی، وده یې وکړې ده او دا دې د لا ودې او لا پرمختګ پر لور روان دی او پر مخ ځي .
په وروستیو کلونو کې پراخې سیاسي، ټولنیزې پېښې، نړیوال بدلونونه او په هېواد کې د هنر او فرهنګ د لا ودې او پرمختګ په خاطر د هنري او فرهنګي ټولنو جوړول ټول او ټول د دې سبب شول، چې زموږ د ټولنې پر معاصر هنر او فرهنګ ګټورې اغیزې وکړې او پر پښو یې ودروي .خو له دې څخه هم سترګې نه شو پټولی، چې اوسو اوس هم زموږ یو شمېر ))شاعران ((د شعر په نامه په څو تشو خبرو د خلکو غوږونه کاڼه کوي، په ډېرې سخاوتمندۍ سره هر اخباري ګزارش او راپور تاژ ته د داستان نوم وربښل کېږي او راډیو ، تلویزیون د موسیقۍ آرشیفونه هم سخت د پوښتنې او انتقاد وړ دي .
زموږ هنر او ادب اوس هم پر خبور ککړ دی، اوس هم د یو شمېر شعارانو، لیکوالو او هنرمندانو اندونه د رکود خواته روان دي .
ډېرو فلمونو زنګونه نیولي دي، پوچوالی او شړېدنې او پرسوب اوس هم زموږ د هنر او ادب پر آسمان خړې وربځې وروي او زموږ یو شمېر ))ځوان ((اثرونه په همدې ځوانۍ کې زاړه او ببر شوي دي .
زموږ ډېر شمېر ))شعرونه ((شعرونه نه بلکې منظومې مقالې دي، ډېر شمېر ))داستانونه ((داستونه نه بلکې د پیټاوو غورې دي .زموږ موسیقي، زموږ تیاتر او زموږ سینما هم نوي والی ته اړه لري او په مجموع کې زموږ هنر او زموږ ادب رغاونې ته اړ دی .
څه رنګه کولی شو ، له قلمونو نه زنګونه پاک کړو اندونو ته تحرک ورکړو او په ځوانۍ کې د زوړ والي مخ ونیسو؟
ومو ویل چې په هېواد کې ادب او هنر خصوصاً د کمیت له پلوه ډېر په بره روان دی، د هنري او ادبي آثارو چاپ او ثبت په بې سابقه توګه ګړندی شوی او آن نږدې دی چې هېڅ کور دې له ))شاعر )) ((لیکوال ((او ))هنرمند ((څخه تش نه وي، خو په خواشینۍ سره چې نقد لا تر اوسه هم سم نه دی راوېښ او نقاد او کره کتوونکی هم اوس، اوس د

دې وخت را رسېدلی دی چې له هنر او ادب څخه دې د کرغېړنتيا مخه ونيوله شي او په مجموع کې دې نوی او مترقي هنر او ادب ټولنې ته وړاندې کړای شي .
غني ادب او پر مختللي هنر ته د لاسبري په خاطر او معاصر فرهنګ ته د نويو فرهنګي مورچلونو د فتحه کولو په خاطر بايد نقد راوېښ کړو ، کتنه راويښه کړو او کره کتوونکي راويښ کړو او په هېواد کې پر مختللي او بډای فرهنګ ته لاره ومومو .
يوازې کره کتنه کولی شي چې هنر او ادب چاڼ کړېو ګردونه ترې وڅنډي، هنري ادب آثارو ته رسوخ وکړي له لوستونکو ، ليدونوک او اورېدونکو سره د هنر او هنرمند ، د شعر او شاعر او هنرمند د شعر او شاعر او د ليکنې او ليکوال اړيکې ټينګې کړي او کره کتنه په مستقيمه توګه د آثارو په هستولو کې اساسي او د پام وړ ونډۀ تر سره کړي .
؛
زموږ په هنر او ادب کې چې تفنن او ابتذال ، بې مسووليتي او بدرنګي لاره موندلې ده ولې بايد د ابتذال او پوچوالي مخه ترې ونه نيولی شي؟
زموږ د هنر او ادب په لرغوني بڼ کې چې دا دی له ګلونو څخه يې اغزي ډېر شوي دي ولې يې بايد کره کتونکي ماليارې ته متې ونه نغاړي او د ګلونو څانګې يې د غزيو له چړو څخه ونه ژغوري؟
کره کتونکي بايد شعر له ببولالو ، دستان او تشو غورو او په مجموع کې هنر له بې هنرۍ څخه وژغوري او د رښتيني هنر د زوال او د بازاري هنر د هستېدو او هسکېدو مخه ونيسي
وايي چې هنر او ادبيات د ټولنې د وجدان او کره کتنه د هنر او ادبياتو وجدان دی .
راځئ چې کره کتنې ته د دښمنۍ نه بلکې د دوستۍ او صميميت نو ورکړو .راځئ چې خپل هنر او خپل ادب د هنر او ادب وجدان ته وسپارو او سپېڅلی يې کړو !
له نقد څخه وېره د هنر او ادبياتو د غوړېدنې او پرمختګ څخه وېره ده، نقد بايد راويښ کړو ، نقد بايد ومنو او د تفنن، ابتذال او بې مسووليتۍ پر ضد قيام وکړو او دا قيام برياليتوب ته ورسوو .

د مرحوم استاد جلالي ژوند او آثار يې

ټپېدونکي او د نه پنا کېدونکي علميت او روښانيت لمر تر ابده پکې رڼا وي، کندي او مرگ او نښته يې نه زده .

موږ د برم او پرتم هغه غزني ياد وو چې لا تر اوسه پکې د فرد وسي؟ فرخي، عنصري، مسجدي، منو چهري، سنايي، مسعود سعد سلمان، ناصر خسرو، اسد طوسي، سيد حسن غزنوي، ابو افرج روني او د مختاري غزنوي د قلمونو وينې پکې نه دي وچې شوي او نه يوازې لا نه دي پکې وچې شوي بلکې د قلمونو او اندونو دغه سپېڅلې وينې له غزني نه د دغې لويې او سترې نړۍ تر هر گوټه لاره موندلې او پر تور تمونو يې اوربل کړی دی او زموږ د وطن د علم، پوهې او ادب دغه روڼ مشال مرحوم غلام جيلاني جلالي چې دا دی نن يې ياد ته د درناوي او لمانځنې ډيوې بلوو، په همدا غه وياړمن او پرتمين غزني کې سترگې دنيا ته پرانيستلې، رالوی شو، زده کړه يې وکړه، مورخ شو، اديب او شاعر شو، د اند او فلسفې پر ډگرونو يې د خپل اند نيلې وځغلاوه او ان د طبيعت پوهنې او اقتصاد پوهنې د بريدونو کې يې د تم او ځغاستې اوږده مزلونه رالنډ کړل او د دغو اوږدو او ناپايو مزلونو نه ستړي کېدونکي مسا پر زموږ د همدغو ستونزمنو لارو مشال شو .

زوکړه او پېژندنه :غلام جيلاني جلالي د مولوي عبد الستار زوی په ۱۳۱۴ هـ. ق کال د غزني ښار ته نژدې د واغز د مېرزيو اندړو په يوه علمي او درنه کورنۍ کې چې قلم، کتاب او شمله يې تلپاتې ميراث و، وزوکېد .

مولوي عبد الستار چې په خپهل د خپلې سيمې او ټبر نامتو عالم او د نقليه علومو تکړه استاد و خپل زوی غلام جيلاني يې د شپږو کالو په عمر د زده کړې پر ټغره کېناوه او د هغه د عمر تر څوارلس کلنۍ پورې يې هغه ته په خپله مدره کې د فقې مباديات د فقې اصول او د فارسي ادبياتو صرف او نحو داسې زده کړل چې په همدغه تنکي زلميتوب کې يې د پوهې او علميت د پگړۍ لومړی ول پر سر راتاو کړ او له همزولو نه بر شو .

اووه لس کلن و چې د نورو زده کړو د حاصولو لپاره کابل ته راغی او د کابل د سراجيه مدرسې په شپږم ټولگي کې ومنل شو اته کاله يې دغاه ښوونځی ولوست او په دغو اتو کالو کې يې د منطق، رياضي، تاريخ، فلسفې او حکمت زده کړه وکړه .

مرحوم جلالي له خپل ۸۲ کاله عمره څخه کابو اتيا کاله د علم او پوهې پر زده کړه او د پوهې، علم او ادب او هنر پر ليکلو تېره کړه، زيات شمېر شاگردان يې وروزل او زيات شمېر آثار يې زموږ فرهنگي ټولنې ته پر مخ کې کېښن،دل د يوه مورخ په توگه يې د هېوا د نا ويلو پېښنو ته ژبه وکړه او د يوه څېړوونکي په توگه يې زموږ پښتو ادب له

لرغوني زمانې څخه تر معاصرې دورې پورې موږ ته او ټولنې ته راوپېژانده، د ختيځ او لوېديځ له فلسفې اند او ادبي بهير سره يې آشنا کړو او د يوه اديب او شاعر په توګه يې په دري او پښتو دواړو ژبو کې د تحقيق او علمي آثارو د کښلو تر څنګه پاخه شعرونه وويل او د ژوندانه په بېلابېلو لارو، د تاريخ اجتماع، اقتصاد، اخلاق، جغرافيې، فولکلور او سياست پر لارو او ډګرونو کې يې قلم ته وزرونه ورکړل او د قلم د وينو سيوري يې پرې خور کړ.

کره کتنه د نوښت که د ابتذال په چوپړ کې ؟
له دې سره سره چې په دې وروستیو کلونو کې په خپله ټولنه او په خپله ژبه کې د شعر د نسبي بریو شاهدان یو او په همدې وروستیو کلونو کې د خپلې ژبې د هنر او ادبي بهیر د چټکتیا او غښتلتیا شاهدان یو ، ومو نه شول کولی اډبي کره کتنه له خپل دغه چټک ادبي بهیر سره جوخته کړو .که تر اوسه مو په دې هکله سوچ کړی، سوچ مو نیمګړی دی او که تر اوسه مو پر دې واټ کوم ګام ایښی دی ګام مو ناغښتلی او کمزوری دی .
کره کتوونکي چې باید شعر له عادي خبرو کیسه د پېښتاوو له غورو او هنر له ناهنریه ښخه بېل کړي او د ابتذال،کمزورتیاوو او د زړو او سولېدلو ادبي سلیقو د خپرېدو او تعمیم مخې ته له قلمونو نه غرونه جوړ کړي یا خو د خیر په غونډۍ کېني او یو نیم خو د کره کتونکي او د ادبي منتقد په نامه د ادبي نوښت او نوي والي تر پردې لاندې په شعر کې، په کیسه کې او په هنر کې د ادبي او هنري نوښت مخې ته له لوی لاس په نا آګاهانه ډول له قلمونو نه غرونه جوړ وي او د شعري او ادبي نسخو په ورکولو سره ابتذال تبلیغوي او خصوصاً زوړ په ځوان شعري بهیر خپلې شخصي سلیقې تحمیلوي، چې ځومره په ښه وي داسې ))کره کتونکي ((او داسې ))ادبي منتقدان ((خپل سولېدلي قلمونه پوښ کړي .
یو وخت مې له یوه استاد لیکوال څخه اورېدلي و، چې زموږ په پښتني ټولنه کې یو عجیب حالت را روان دی .همدا چې زموږ د یو شمېر ځوانانو لاسونه له قلم او سترګ یې له کاغذونو سره اشنا شي باید شاعر شي، باید لیکوال شي، ژورنالېست شي او هنرمند شي، زه چې اوس وینم او ګورم یې نږدې کټ مټ همداسې ده نه شي کېدلی په عادي ډول د یوه داسې حالت مخه ونیول شي، مګر شته یو ځواک او یو ځواکمن چې د همداسې حالتونو مسوولانه څارنه وکړي، چاڼ وکړي او نګه له نانګه وو او اهل له نا اهلو نه بېل کړي .دا ځواک ادب یکره کتنه او دا ځواکمن ادبي کره کتونکی دی خو په دې شرط چې کره کتنه، کره کتنه وي او کره کتونکی په خپله اهل وي .
بیا هم یو عجیب حالت :په ځو وروستیو کلونو کې شعر څه نا څه شعر شو او شعریت یې وموند او کیسه، کیسه شوه، هنریت یې وموند ، د شعر او کیسې ))تاج ((د یوه دوو تنو قرار دادي شاعرانو او کیسه لیکوونکو له سر نه پرا پرېوت او په ډېرو وو ښل شو .
ډېرو د شعر په ډګرونو کې ځانونه و ازمایل او ډېرو هم د کیسه لیکنې په ډګر کې خو کره کتنه؟
که څه هم چې په پښتو ادب کې کره کتنه هومره چې نیاز او اړیتا وه او ده هېڅکله په پښو سمه نه ده ودرېدلې خو لرل مو یو شمېر کره کتوونکي چې لږ تر لږه خوي ې را ته د

کره کتنې نوم ژوندی ساتلی و او په دې لاره کې یې که څه هم واړه اما ژوندي گامونه ایښي وو .خو وخت داسې راپېښنه وکړه چې زیات یې یا خو له وطنه بې وطنه شول او یو شمېر هم ښایي د یو شمېر ملحو ظاتو له امله چوپ پاتې شول، نو له همدې کبله یو نیم چې نه شاعر او نه کیسه لیکونکي، ښایي د څه لیکلو لېوني وو او ښایي د شهرت، ډگر یې تش وموند او ))کره کتونکي ((شول او د چا خبره یوه سترگي د ړندو پاچا شو او د مېړونو له کمبوده ...یوازې په څو وروستیو کلونو کې د هېواد ډېر ځوان خو له ولولو ډک لیکوال ښاغلی زرین انځور و کولی شول د کره کتنې قلم په مسوولیت سره په لاس کې واخلي او زموږ د ځوان شعري بهیر د ټوکېدو او غوړېدو د لارې سرلاری شي، رښتیني استعدادونه وروزي او مسخه شوو ته وښيي چې وروه !لاره دې په ترکستان تېرېږي، مهرباني وکړه بله لاره دې ځان ته غوره کړه، چې ترکانې د ببزو کار نه دی .
زرین انځور ))شعرونه او نقدونه ((ولیکل او په ))معاصر شعر کې د هنري نوښت مساله ((یې په کراتو مراتو ولیکله او روښانه یې کړه او د ابتذال او نوښت جبهې یې سره بېلې کړې او دا دی اوس هم ))نقدونه ((لیکل کېږي او په مسخه شوي ډول یوازې د خپلې سلیقې په حکم ))په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مساله ((لیکل کېږي زموږ د مشرانو شاعرانو په شعرونو عجولانه قضاوت کېږي او زموږ ځوانو شاعرانو ته د شعر د لیکلو په خاطر د نوښت او ابتکار )\ (په خاطر او له ابتذال او کمزورتیا وو سره د مبارزې )\ (په خاطر سخاوتمندانه نسخې ورکول کېږي .
نه پوهېږم زموږ دغه شمېر ))کره کتونکي ((څه غوري چې په اوسني پښتو شعر کې د نوښت د مسالې تر پوزې لاندې اوبه تېرې کړي .
شعرنوښت یعنې څه؟ شعري نوښت په کومه مانا ؟او شعري نوښت په کوم ډول؟
دې سوالونو ته یوازې هغه څوک ځواب ورکولی شي، چې شعر وپېژني او شاعر وپېژني، خپل شعر هم وپېژني او د نړۍ شعر هم وپېژني، د تېرو پېړیو شعر هم وپېژني او د نن شعر هم، د شعر روح او روانیت وپېژني او د شاعر هم ))که شاعر ویني د شعر په صورت کې راوړي، منتقد باید هغو وینو د واقعي ترکیباتو مفسر وي (( .مگر هغوی چې حتا په خپلو ډېر عادي خبرو کې د شعر او شعریت په مفهوم نه پوهېږي او غوږونه یې یوازې د پېړیو پېړیو مخکې شعرونو له کلیماتو، مفاهیمو، انځورونو او سمبولونو څخه ډک دي او هر نوی سمبول، نوې اسطوره او نوی ایماژ ورته د پردیو یر غلگرو حیثیت لري، څنگه به وکولی شي د نوښت او ابتکار په لاپو سر شي او د نوښت او ابتکار نسخې صادرې کړي؟
وگورئ په اوسني پښتو شعر کې د نوښت د مسالې د نسخو ورکوونکو یوه په زړه پورې

نسخه، چې ښکلې مورِ ته د نوښت او تغزل ))شهکارونه ((مخې ته ږدي او تشویقوي مو ، چې که نران یاست دا سې شعر ولیکئ :

))له خیاله کږه مه څه چې منګی دې کږوي
د سپین تندي د پاسه دې سور ټیک خرابوي
معصومه یې ساده یې ښایسته د ګلو لښته
ګودر ته په همزولو کې هوسۍ شې چې راځې ((...

او دا له نوښت نه ډک شعر )۱ (هم څه تصادفي نه را اخلي، په ټول جرئت سره د شعر د پورته یادې شوې بېلګې له راوړلو نه دمخه لیکي :

))کله چې د ...شعر لوستل کېږي نو لوستونکي ته له ورایه د رحمن بابا دا بیت ور په زړه شي چې وایي :

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي
د رحمان غزل همه دی انتخاب

د ) (شعرونه او غزلونه هم همه دي انتخاب .
دا شعر له خارستان نه د ګلوبوستان جوړوي او دا دنیا له ګلونو جوړه شوې ده ((...
که د شعري نوښت تر سیوري لاندې شاعران په دې دول ابتذال ته را کښل کېږي نو واه واه ګرانه کره کتونکیه !عجیب ګلان دې اوبو ته ورکړي دي !
منم چې د همدې شعر شاعر لوی او ستر شاعر دی خو د هغه له شعرونو څخه دغه راوړل شوې بېلګه چې ستا په اند د نوښتي شعرونو ))شهکار ((دی ډېره غلطه له اوبو راوتې ده، نو که دا دې د اختر جامې وي د ختو جامې به دې څرنګه وي؟ نه یوازې دا بېلګه نه بلکې په سلګونو بېلګې، چې په خپل کتاب کې دې د نوښت شعر او نوښتي بېلګې په نامه راوړې دي، له ابتذال نه ډکې دي او په یوه توت هم نه ارزي .
شاباش په داس شاعرانه او مبتکرې سلیقې :
بله نسخه )) :راشئ زمورِ د ځوانو شاعرانو د شعري ښکلو څبو نندارې ته کینو او وګورو چې زمورِ د شعر ماڼۍ یې ښګه ودانه کړې ده ) (وایي :

پر ږده چې خوناب وي د ساقي هم د مینا زړګی
ما تهپه دې رنګ کې د سبا هیلې ځلېږي تل )۴ (

نو که زموږ د شعر مانۍ همداسې ودانه شوې وي، لوی خدای خو دې دا مانۍ له موږ نه واخلي !په دې کې شک او شبهه نشته چې داسې د شګو مانۍ ډېرې جوړې شوي دي او یوازې ماشومان یې نندارې ته کېناستلی شي او بس .زموږ وخت د داسې مانیو وخت نه دی .
فکر کوم هغه څه چې زموږ شعر یې ډېر عجیب کړی دی او زموږ شعر نه پرې شعر کېږي، له کلیماتو نه نامناسبه ګټه اخیستنه ده .زموږ یو شمېر شاعران د مجردو صفتونو له راوړول نه لږ و ډېر تېر شوو همداغه کار به د شعریت په لور یو ګام او یو قدم وي .
وګورئ د ))نوښتونو ((لیکوال څرنګه شاعرانو ته د مجردو صفتونو او د تکراري او سولېدلو کلیماتو او ترکیبونو تعویذونه ورکوي او په خپله هم څومره ارزښت ورته ورکوي، نوی یې بولي او له نوښت نه یې ډک بولي او هڅوي مو چې که نوې خبرې کوئ، نوې کلیمې او نوي ترکیبات راوړئ نو له داسې کلیمو او مفاهیمو نه ګټه واخلئ او داسې ترکیبات ایجاد کړئ لکه )) :سره غرمه ، خندانه، تکه شنه، تکنۍ غرمه، په کور کې ډزې کېدل، چې څومره نوي دي . ((
ماشاء الله !که رښتیا ووایم کله چې داسې نوښتونه وینم، لولم او اورم یې له نوښت نه مې زړه تور شي او حتا له شاعرۍ نه هم او که له دې نه تېر شو ، وینو چې زموږ کره کتونکي څومره ساده ګۍ سره کله چې د یو شمېر له موده لوېدلو کتابي خبرو او کله هم په خپل زعم شاعران ختګرۍ ته رابولي نه شاعرۍ ته، استدلال منطق ته یې رابولیو کلیاتو ته یې رابولي او مطلق اند ته، پر هغه څه چې په مانا یې پوهېږي لاسونه ورته پړه کوي او په هغه یې چې سملاسې ماغزه کارونه کړي هغه خو نور ته اصلاً شعر نه ښکاري .
بوجۍ بوجۍ خبرې شته چې باید په دې هکله ولیکل شي او وویل شي، او د داسې کره کتونکو په غوږونو کې آذان وشي چې هغه څه چې تاسو یې د نوښت تر عنوان لاندې تمثیلوئ نوښت نه، بلکې ابتذال تمثیلوئ، تاسو په دې لیکنو سره شاعرانو ته خدمت نه کوئ، بلکې په سترګو کې یې خاورې او ایرې شیندئ .
وایي :هر څه چې خنوسا شي نو مالګه به پکې واچوئ او که مالګۀ خوسا شي نو څه به پکې واچوئ؟

د جنایتکارانو په څېر را درومي
څو د سبا لاروي له مینځۀ یوسي
آه زما عزیزې، زما ګرانې ویرې

بنژامن پره

د الوتونکو پلورونکو بازار ته لاړم

او الوتونکي مې وپېژندل
ستا لپاره
دلدارې
د گل پلورونکو بازار ته لاړم
او گلونه مې وپېرودل
ستا لپاره
دلدارې
د اوسپنې پلورونکو بازار ته لاړم
او زنځیرونه مې وپیرودل
ستا لپاره
دلدارې
بیا د مینځو پلورونکو بازار ته لاړم
او ته مې ولټولې
خو ومې نه موندلې
دلدارې

هو کې !موږ د شعر تږي یو او موږ ښه شعر ته سترگې په لار یو ، زموږ اوسنی پښتو شعر چې دا دی له کلونو ، کلونو سکون او له سینې ښویېدنې وروسته لږ او ډېر پر ملا سیخ شوی دی نو یو عجربو ته اړ دی او نویو ازماېښتونو ته د ))ریالېزم ((او ))ضد ریالېزم ((هغه او دغه چم زموږ د دغه او هغه شاعر شعر ته زولنې په پښو کړي دي او پر هرونه یې پکې ایستي ، موږ شعریت او هنریت ته اړیو ، هغه شعر او هنر چې که له هرې کومې ادبي ښوونځي څخه اوبه څښي چې شعر وي او هنر وي موږ ورته اړه لرو ، ښه یې تږي را اخلو ، تجربه کوو یې او عامو و یې او څه یې چې د منلو او زغم وړ نه دی او مخط دی په اوبو کې یې لاهو کوو ، مگر د شعریت لمنه نیسو او مخ پر وړاندې ځو .
اوس، اوس موږ په کلیت کې له دې خبرې سره موافق نه یو چې وایي :
))ښایي دا سې کسان به هم وي چې ادبیات له ټولنې ، له ایډیالوژۍ، له طبقاتي گټو، له سیاست، له ورځنیو موضوعاتو او د نړۍ له مهمو پېښو او امورو څخه جلا وگڼي، خو باید په دې خبره باندې پوه شو ، او وړباندې ټینگار وکړو ، چې دغه ډول واهي چتونه له ځان تېر ایستنې، خلک تېر ایستنې اوله واقعیت څخه له سترگې پټونې څخه پرته بل هېڅ شی نه دی (( .
یو ځل بیا ټینگار کوو چې هېڅ کومه هنري او ادبي پدیده چې منځ ته راغلې ده په هېڅ

توگه نه شي کولی له خلکو او د خلکو د ژوند له ببلا ببلو عيني او يا خو ذهني ډگرونو نه را ووځي، خو ادبيات له يوه سره دغې او هغې نه پائبدونکې اېډيالوژۍ، ورځني سياست، طبقاتي تضادونو او د نړۍ د مهمو پېښنو تفسير او تعبير ته گومارل له انصاف او حتا له فرهنگ څخه لرې خبره نه ده؟
زموږ خبره پر شعر ده او شعر شعر دی، علم نه دیو ساينس نه دی، تاريخ نه دی او ژورنالېزم هم نه دی .
هغه شېبې چې دا دی ژوند پکې کوو له تېرو پېړيو او کلونو څخه توپير لري، اوس هغه زمان له منځه تللی دی چې شاعرانو بهٔ د ملايانو ، رياضي پوهانو ، ښوونکو ، سياستمدارانو او په مجموع کې د عالمانو دنده سرته رسوله اوس د علم د تصميم او پراختيا لپاره عالمان شته او د علم ببلا ببلې ځانگړې ځانگې هم د سياست او د طبقاتي گټو د دفاع لپاره بې شمېره سياسي کړۍ شته او د ورځنيو موضوعاتو او د نړۍ د مهمو پېښنو د تفسير لپاره ډېر پر مختللی نړيوال ژورنالېزم شته :
مگر خلک په دې پراخه نړۍ کې يوازې کور، کالي، ډوډۍ ته ضرورت لري؟ نه، ژوند ، خوند ، رنگ او ښکلا هم غواړي، څوک چې له ښکلا رنگ او خوند سره نابلده وي هغوی وحشي وي او پر ژوند نه ارزي .
موږ په دې خبره ټينگار نه کوو چې شعر دې، هنر دې او ادب دې له يوه مخه خوند او رنگ ته وقف شي او د ژند له عيني چارو دې گوښه شي خو دا هم نه غواړو چې شعر، هنر او ادب دې له يوه مخهه علم، ساينس ، تاريخ او ساست ته وقف شي .شعر او هنر د ژوند لپاره هم او د خوند لپاره هم، دا دی زموږ غوښتنه .

اخذليکونه :

3مکتب های ادبی، جلد اول، د مناسيه حسينی، کتاب زمان
4د همدغه اثر دويم جلد
5طلا درمس، رضا براهی
6ادبي مسالې، استاد رحيم الهام ، د کابل چاپ

## د سبرونو نڅا

## یو اړخ ، یوه خبره

د پښتو ژبې نامتو ژبپوهاند ، لیکوال او شاعر ښاغلي دوکتور ((سبرونو نڅا ))د مجاور احمد زیار د شعرونو اتم غونډ دی، چې نږدې یو کال د مخه په لاهور کې چاپ او دغه شعري مجموعه چې د پینځه .په دې وروستیو وختونو کې زموږ لاس ته راغلی دی سوه ټوکو په شمېر په ۱۱۸ مخونو کې چاپ ته رسېدلې ده، اته شپېته شعرونه لري چې په آزاد فورم کې ویل شوي دي.

هم لکه د هغه د نورو شعري غونډونو په څېر هغه ځانګړی سبک ((د سبرونو نڅا )) لري، چې د ډاکټر زیار شعرونه زموږ د پښتو شعر له نورو شعرونو څخه بېلوي او دلیل یې هم د ژبې، ویون، وییونو د کلماتو د اوډنې او د هغې نږدې عمومي منځپانګې له پلوه چې د ده په شعرونو کې ځانته عمومي او مشخصه بڼۀ غوره کوي، موجود دی.

ډاکټر زیار چې بې له شکه په خپلو نثري او شعري هستونو کې ټول عمر له نوښت او نویوالي سره اوسېدلی او د مبتذل شعر او په مجموع کې د مبتذل وروست شوي او سولېدلي ادب پر وړاندې جنګیالي فرهنګیالي پاتې شوی دی، زموږ د اوسني ځوان او پرمختللي شعر چې له نبکه مرغه یې وشول کولی خصوصاً په دې وروستیو کلونو کې له نړیوال شعري بهیر سره څه نا ه د سیالۍ میدان ته راووځي، د ګوتو په شمېر یو څو تنو سرلارو څخه دی، چې ځوانانو یې پر پل پلونه کېښودل او زموږ شعري ادبي ځوان غورځنګ یې په غښتلتیا او وستیا وښبله، مګر له دې ټولو سره سره هغومره چې زه د خپل درانه استاد پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د شعرونو مطالعه لرم زما په اند د ډاکټر صاحب په شعرونو کې ځای یو زورور او یو نه ایلیدونکي سیاست څبې وهي او د یوه شاعرانه محتوا او منځپانګې په ځای هر کله او هر وخت سیاسي او هغه هم ډېرې تکراري او په وار وار ویل شوي سیاسي منځپانګې پکې ځپې وهي، چې له همدې کبله د ډاکټر صاحب زیار شعري هستونو ونه شول کولی د یوې محدودې روشانفکرانه کړۍ له محدودې څخه بهر راووځي او په ټولنه کې ډېر عام وي.

یو شمېر شاعران او پښتانه ژب پوهان ټینګار کوي چې د ډاکټر صاحب زیار شعرونه د نویو او د نه تعمیم شویو لغاتو د کارونې له امله ډېرو ذهنونو او اندونو ته لاره نهش ي پیدا کولی او لوستونکي یې د لغوي غوټو پرانستلو ته بې وسه کېږي، نو ځکه ډېر ځله پر زړونو چنګ نه شي وهلی ښایي خبره همداسې وي او څومره ښه ده

ي که خبره همدا سې وي او بې له شکه د خبرې يو اړخ همدلته دی په ډېر جرئت سره وایم همدغه هڅې نه وای زمونږ ((زیرانو ))چې که چېرې د زیار او که چېرې د همدغه ډول پښتو شعر، زمونږ پښتو نثر او زموږ پښتو ژبه، بهٔ د نورو ژبو په ژرندو کې یوه دل شوې ژبه وای، چې باید ساندې مو پرې لیکلې وای او ژړلي مو ورته وای څوک چې له شعر سره مینه کوي باید لومړی له خپلې ژبې سره د خپلې ژبې له جوړښت، کلماتو او لغاتو سره مینه وکړي او زده یې کړي، څنګه کېدای شي چې د خپلې ژبې له شعر، داستان فولکلور او د ادب له نوور ډلو سره مینه کوو، خو د خپلې ژبې هغه اصیل او سوچه وییونه، کلمات او لغات چې هم دغه ډاکټر صاحب زیار یې په خپلو ختونو کې کاروي، نه پېژنو اوس رونه مو پرې نه خلاصېږي؟ مګر ډاکټر صاحب زیار او نورو پښتنو ژبپوهانو دغه وییونه له نورو ژبو څینې په پور اخیستي دي او د پښتو ژبې په ګېډه کې یې کرلي دي؟ موږ خو عادت کړی، همدا چې یو دم او نابېره د شعر په معنا پوه شوو، چغې ورته وهو او لاسونه ورته پړه کوو، خو ځان ته دومره زحمت نه ورکوو چې د شعر معنا پسې ځان ستومانه کړو او پلټنه پکې وکړو.

نه غواړم خبره ډېره بلې خوا ته وګرځوم، اصلي خبرې او اصلي مقصد ته راځم.

زه نه وایم چې ولې باید سیاسي شعر ونه لیکو؟ ځکه چې ټولنه د اور او وینو په سمندرونو کې لامبو وهي او کله چې د ټولنې خلک له مړینې او ژوبول پرته خندا نه پېژني نو د ټولنې خلکو ته څه باید ولیکل شي، چې د کور چاشنۍ ورته جوړه کړي؟ مګر څنګه یې باید ولیکو او څومره یې باید ولیکو؟ او همدغو سیاسي او جنګیالیو شعرونو ته څه ډول هنري او ایستاتیکي ښکلا، خوند، او رنګ وبښو؟

خمارونه دې منم په اننګو کې
خو زموږه یې نصیب نشته په څښو کې
ستا ښایست راته د خپل وطن نظام شو
وږی ترږی مې ساتي په زولنو کې

وګورئ رحمت شاه سایل سیاسي شعر ویلی دی، مګر همدغه سیاست داسې لمنه ګنډي چې د جنت د حورو له لمنو څخه هم ښکلې او ښایسته ده او که څه هم ډاکټر صاحب له داسې شعرونو څه کم نه دي لیلي مګر آیا کېدای شي شاعر ټول شاعرانه عمر نږدې همدغو خبرو او همدغو پېښنو ته وقف کړي؟ جنګ جګړې، لوږه، لوڅوالی، ټولنیزې بې عدالتۍ او ټولنیزې نادودې، نور څه نه؟ له نوښت پرته شعر بې ارزښته او پوچ دی او نوښت یوازې د نویو او ناویلو کلماتو او مفاهیمو راوړنې او انځورونې ته نه وایي، نوښت نورې لارې چارې هم غواړي او تر ټولو لوړ او با ارزښته نوښت د ډول ډول پېښنو

او شیانو انځورونه، د شاعری کشف ده، شاعر باید د ویلو لپاره څه کشف کړي او څه په خپله منځ ته راوړي او ایجاد یې کړي، داځکه چې شاعري د سترګو لیدلو ښېښو کټ مټ انعکاسنه دی شاعر باید هغه څه ووینې چې د ده تر مخه چا نه وي لیدلي او هغه څه ولیکي چې له ده تر مخه چا نه وي لیکلي، پر ټولنیزو پښېنو کره کتنې او د هغو چاړ د سیاستمدارانو کار دی، شاعران یې هم کوي، خو توپیر یې په دې کې دی چې سیاستمدار خبرې بربنډې کوي اوس اسي شاعران یې لږ څه غوړې او د چا خبره تر پوزې لاندې اوبه تېروي، خو زما په اند سیاسي خبرې هغسې لوڅې او بربنډې ښې دي او .شاعر باید پر کشف لاس پورې کړي او نا ویلي او نا اورېدلي ووايي
په دې هیله چې استاد شاعر ډاکټر زیار په دې لاره کې هم زموږ سرلاری وي او د لا .نوښتونو سرلاري

## کنګل ژمی، کنګل لاسونه

زه هر سهار خپل سر ښه ښوی ږمنځوم، له چای څښلو وروسته دفتر ته ځم او هلته تر ))
مازدیګر او ماښام پورې په دفتري کارونو بوخت یم، نن هم سهار لکه د پخوا په شان
راووتم او د دفتر پر خوا روان شوم، خدای شته چې دومره زیات په مینه، مینه اوس
دفتر ته نه ځم اوس لکه ورځنی مزدورکار لور په لوټه تېره کوم او وایم چې ورځ تېره
((شي

ي، ادبیاتو ته د ځومره :پېښې او ټولنیز بدلونونه ادبیات رازېږوي، ادبیاتو ته لوري ټا
والي او ځرنګوالي له مخې ودهورکوي او د همدغو ټولنیزو بدلونونو له امله ادبیات
بدلون منومي او بعدونه يې لا پسې پراخېږي د پښتو ژبې هغه ادبیات چې له انګریزي
ښکېلاک سره د افغانانو د ډغرو په وخت کې او همدارنګ د افغانانو د هیواد د
خپلواکۍ د ګټلو په درشل اوله بریالیتوب څخه په وروسته کلونو کې هست شوي، هم د
ځومره والي او هم د ځرنګوالي له مخې د پام وړ موقعیت لري، په همدې توګه زمونږ په
هویاد کې د ثور له پېښې څخه د وروسته کلونو سیاسي، ټولنیزو پېښو یو ځل بیا
زمونږ د ادبیاتو جوله بدله کړه او داسې يې بدله کړه چې پخوا يې چا ساری نه و لیدلی،
ښکلا هم زمونږ ادبیاتتو ته جوغه جوړه کړه او ملي آرمانونو او انساني ایډیالونو هم په
همدغه کلونو کې و چې زمونږ شعر، شعر شو، زمونږ کیسې، کیسې شوې او زمونږ
.هنرونه هنرونه شول

مګر د وروستیو کلونو پېښې او زمونږ ادبیات؟
زه نه پوهېږم چې د نورو هیوادونو د کیسو لیکوالان په خپلو قلمونو کې څه جادویي
ځواک لري، چې له سپږې نه فیل جوړلیشي او له لوټې نه غر؟ او زمونږ د هیواد د کیسو
لیکوالان ولې په دومره پېښو کې بې پېښو دي او داستاني سوژو پسې دومره سرګرانه
او لالهانده ؟ هغوی د دې وس لري چې د یوې ترافیکي پېښې له پایلو څخه یو پنډ
رومان ولیکي او زمونږ دغه د یوې اتلس کلنۍ هیوادنۍ غمیزې څخه دوه پاڼې هم نه
شي ډکولې نه پوهېږم چې اندونه او قلمونه ولې داسې کنګل شوي دي یوازې همدا
شعر، شعر، شعر او نور څه نه، ولې لکه ورځنی مزدوکاران لور په لوټه تېره کوو او وایو
چې ورځ تېره شي؟ . . .

.خو را شو کنګل ژمي، کنګل لاسونه او د هغه کیسو او د کیسو لیکوال ته
د عبدالخالق رشید کور دې ودان ویو چې دومره خو يې وکړل چې د قلم کنګل مات
کړي، مات ژمی ولیکي او کنګل لاسونه ولیکي، کنګل ژمی او کنګل لاسونه، د پښتو
ژبې د ځوان او مستعد لیکوال پوهندوی عبدالخالق رشید د لنډو کیسو دویمه

.مجموعه ده چې له ډولي وروسته خپرېږي
د لنډو کیسو دا مجموعه په دې وروستیو کې د خوشال د فرهنګي ټولنې له خوا په بهر
.کې چاپ او په څلور شپېتو مخونو کې زموږ په مخ کې پرته ده
د مجموعې د کیسو نومونه دا دي
د پسرلي دویمه میاشت -
لېونتون -
سرې سترګې -
غرغره -
د وینو ورېم -
د ګور چینجي -
پرده تېرې، پرماتېرې -
دوی ورځې، نیمه شپه -
وینه -
کابلۍ خندا -
کلمه ببو -
نیلو فر -
بسمل -
دا لنډې کیسې زموږ د پخوانیو کیسو په څېر د بادارنو دور، د پولو او د اوبو او د ماڼه
او نهر کیسې نه دي دا کیسې زموږ او زموږ د ټولنې د ژوند کیسې دي د لوټ کیسې
دي، د ځوانیمرګو کیسې دي او زموږ د وطن د همدغه نن د تاریخ کیسې دي او همغه
.مشهوره خبره دلته پلې شوې ده، چې کیسه په تاریخ کې ده او تاریخ په کیسه کې
ي ته ورته دي، چې له جیحون نه په ګوته :که څه هم چې د دغه اثر پېښې د اوبو هغه څاخ
کې راپورته شوي وي، زمونږ د هیواد روانو پېښو ته د لنډې کیسې او د لنډو کیسو زړه
پړک چوي اخر څنګه کدای شي جیحون په لپه کې ځای کړو؟ دغې پېښو ته ویازې
رومان او رومانونه کولی شي ځان ټینګ کړي د لنډو کیسو ازور پرې نه رسي، مګر کوم
ده همدورمه خو هم چا ونکړل او له دغه بحر نه یې خو یو څاځکی زموږ د ذهنونو تر کوره
را ونه رساوه، خو د رشید کیسو همدغه څاځکي کولی شي زموږ پهذهنونو او اندونو
کې هغه بحرونه او هغه لېوني سیندونه تداعي کړي او د خپل د نن او پرون سرنوشت د
.هغه د کیسو په هنداره کې ووینو
!دا خو اوس مرداره شوه، دا خو ستا له ښې هم ووته ... ))

مې پرې ووی ((ما چې ببګاه، په ګولۍ وویشته الله اکبر - ))
مګر حلاله نه شوه څنګه یې خوري؟ -
.زما نوم بابو دی، بابو ته حلال او مردار یو شی دی، ته یې ماته راکړه
هغه یې را څخه واخیسته په وچ میدان حق حیران ودرېدم، شا و خوا ته مې وکتل، ))
په خوښۍ سره د کوترې په ((بابو ))هلته وړاندې د جنازې بدرګه ښکارېده او دلته
پوستولو بوخت شو، زه لا ولاړ وم، نه پوهېدم، چې د ملا صاحب په جنازې پسې ورشم
.وکړم ((بابو ننداره ))او که په شنې کوترې باندې د
:او یا خو
غرغره او مرۍ !اوغرغرې خپله لېونی خو له د انسان په مرۍ باندې خښنه کړې وه ... ))
سره ورغلې وې، د درېیمې کړۍ ککره تر ډېرو پورې خوځېده، جلاد له غرغرې سره
مرسته وکړه او هغه ککره یې هم آرامه کړه خلک خواشیني، خواشیني سره تیت او پرک
.شول، ما درېیمې ککرۍ ته په ځیر ځیر هو ښه په ځیر ځیر وکتل
د هغې سترګې ځلورمې کړۍ ته چې اوس هم یوې او بلې خوا ته زنګېده را زنګېده
((خلاصې پاتې وې ؟
یعنې هر څه چې چا په خپلو ((شنیدن کې بود مانند دیدن ))زموږ خلک خو وایي
سترګو ولیدل اغیزه یې پرې ژوره، مستقیم، او نېغه وي، خو اورېدنه هغسې ژوره
اغیزه پر چا نه شي ښندلی موږ نه خپله ټولنه کې هره ورځ او هره شپه پېښې وینو او
احساسوو او لمسوو یې هغه څه چې عبدالخالق رشید یې موږ ته په کیسو کې وائي موږ
په کراتو مراتو په خپله لیدي دي او په خپله هم ډېر ځله داسې پېښو سره مخ شوي یو،
خود پېښو او پېښو د پایلو کومه اغیزه چې د کیسې له لوستلو وروسته په خپلو
ذهنونو کې احساسوو دومره ژور او عاطفي ویو چې د پېښې د لیدو په وخت کې یې
.هومره اغیزه پر موږ نه وه کړې، چې دا د یسو د لیکوال کمال دی او د قلم جمال یې هم
د خالق رشید کیسې زمونږ د وخت او زمان چې دا دی، ژند پکې کوو څرګندویه کیسه
ییزې انځورونې دي، او د همدغه پرمختللي پیر او پېړۍ د پرمختللي هنر مسلې هم د
رشید د دغو کیسو واقعیت د هغه د کیسسو په هنریت کې نغښتی دی او د هغه د کیسو
هنریت د هغه د کیسو پر واقعیت کې د عبدالخالق رشید په کیسو کې هغه خبره چې د
پام وړ ده د لیکوال په زړورتیا کې ده رشید د یو شمېر نورو په څېر د پوزې لاندې اوبه نه
تېروي او لکه د یو شمېر نورو هغو دغو په څېر د ملحوظاتو بنده نه دی، خپلې خبرې په
زغرده کوي، دا ځکه چې رښتیا وایي، دا ځکه چې درواغجن نه دي او دا ځکه چې د چا
.او د ډلو د تندیو په ګونځو پسې سانتي متر نه ګرځوي

د پوهاندوی رشید د لنډو کیسو د پام وړ اړخونه لړنه دي د هغه دغه کیسې به د پښتو
په داستاني ادبیاتو کې نن سبا خپل موقعیت له بل هر چا نه ښه ټینګ کړای شي موږ نه
شو کولی په دې لنډۀ لیکنه کې پر هغو ټولو اړخونو خبرې وکړو خو زما په خپل اند او
زما په خپله سلیقه کېدای شي د هغه د کیسو یو لړ جزئیاتو ته د انتقاد ګوته هم ونیسو ،
.ښایي یا خو به زه تېروتی او یا خو ښایي چې دا ګوتنیونې پر ځای هم وي

د میاشتې اتمه نېټۀ ))په لنډه کیسه کې کیسه داسې پیل کېږي ((د ګور چینجی ))لکه
وه چې لویه انا مړه شوه، ډېره لویه هنګامه جوړه شوه او د ارمان په ژوند کې ډېره مهمه
هنګامه او ډېره لویه مړینه وه، ډېر خلک خواشیني وو، ډېرو ژړل او د کلي د ښځو په
مخونو خو د څپېړو وارونه کېده، کلیوال ځوانان به چې یوه او بل ته په مخه ورغلل ټولو
(( ...لویه انا مړه شوه، لویه نېکمرغۍ مو له لاسه ورکړه :به همدا ویل چې

وګورئ لیکوال د ۱۳۷۱ کال د ثور په اتمه د یوه بدنامه سیاسي رژیم د مړینې خبرې
.کوي، چې خښېږي او یو نوی رژیم یې ځای نیسي

نوم ټاکي، مګر د لویې انا (لویې انا )لیکوال ښخېدونکی رژیم ته د سمبول په توګه د
نوم د یوه سمبول په توګه یوه وراسته، مزدور، قاتل او وطن پلورونکي رژیم ته مناسب
نوم دی؟ لویه انا د کلي د خیر او برکت سمبول دی، لویه انا د کلي د سپېڅلتیا نوم دی
.او لویه انا حتا د یوه هیواد سمبول کېدای شي

او دویم دا چې د کلي ډېرې ښځې، د کلي ډېر ځوانان او یا خو له زړو پرته ټول کلی د
لوییې انا د مړینې له غمه پر مخونو شوکارې جوړوي او یوازې جانو اکا چې د کلي د
زړو بوډاګانو د اتحاد سمبول دی، د لویې انا پر مړینې اختر کوي که څېرې داسې وي نو
.ولې دې زړه انا مړه شي، آخر ټول کلید هغې پلوي دی

مګر لیکوال په داسې انځورونې سره زړې انا ته برئت نه ورکوي؟ سوچ کوم چې د کلي د
لویې انا پر ځای باید رژیم ته کوم بل نوم ورکړل شوی وای او بل دا چې ښه به دا وای چې
د کلي څو تنه بې پروا او بې مسوولیته کسان مو د هغې پر مړینې ژړولي وای، نه د کلي
.ډېرې ښځې او ډېر ځوانان

او بل خبره خو دا ده چې لیکوال خپله لنډۀ کیسه له پیل نه د هغه د پای تر درشلو نو پورې
له هره اړخه دومره ښکلې او زړه وړونکی انځور وي، چې لوستونکي یې په خوند نه
مړېږي، خو پای یې دومره سوړ شي چې د لوستونکي د خولې هغه خوا ړه پسې ترخه شي
لکه د دوه ورځې نیمه شپه، د نیلو فر ګل او یوه نیمه بله لنډه کیسه په هر ډول استاد
خالق رشید د پښتو ژبې له هغو ځوانو استادانو، پخو لیکوالو او مستعدو فرهنګیانو
!څخه دي، چې ویاړ و پرې او لمانځنې ته یې کېنو، د هغه پراندو قلم د رحمت بارانونه

## ژبه په نثرونو ژوندۍ ده نه په نظمونو

ګرانه بدر صاحب !

له اوښ نه یې پوښتنه کړې وه چې غاړه دې ولې کږه ده، اوښ ورته ویلي وو چې وروره اوس نو ته ووایه چې زمونږ د معاصر ادب .کوم ځای مې سم دی، چې پاتې مې شوه غاړه او هنر کوم ځای سم دی، چې پاتې یې شو نثر ؟

دا منو چې پښتو شعر او پښتو نظم د نثر پر پرتله د ځومره والي له نظره اوږده منزلونه وهلي دي، خو د څرنګوالي له مخې پرو هم د پوښتنې وړ و، نن هم او پر سبا یې نو خدای پوه شه، زموږ پښتنو عجیب اسانه چل موندلی دی، همدا چې ګوتې یې له قلم او سترګې یې له کاغذ سره بلدې شوې دي، د خپلو زړونو د براسونو د ایستلو لپاره یې شعر ته او نظم ته مخه کړې ده، ځٔیې چې زړونو غوښتي وي، هغه یې ویلي او همغه یې لیکلي دي او خبره خو دې ته رسېدلې ده، چې که چېرې په یه کور کې درې تنه با سواده !ځوک وي، یو یې پکې حتماً شاعر دی، وایي چې ځومره آسانه ده شاعري

په هر صورت د بر به نه نا امیده کېږو، په ایرو کې مو لالونه هم شته او په ډېرو ډېرو ببو لالو کې یو نیم شعر هم لرو چې څه د اوږو پوزه راته جوړه کړي او لږ تر لږه مو له سیالانو سره سیال کړي، مګر نثر؟ د نثر له پلوه مو خو ځولۍ دومره تشه ده چې څه دوړې ترې هم په څېر یو یو ګل را وتېږد، ((انځور ))نه و وري که څه هم چې په وروستیو کلونو کې د چې د پښتو نثر لیکنې پر سبا یې ډاډمن کړو خو هغوی هم بادونو رانه یووړل او یا خو په نورو کارونو بوخت شول، اوس، اوس چې زه دلته او هلته سترګې غړوم داسې یو ګل مې نظر ته نه راځي موږ ولې د پښتو داستان لیکنې یو پر مختللی بهیر نه لرو؟

ولې را کې حتا یو مبتدي رُمان لیکونکی هست نه شو؟

د شعر او لنډې کیسې په دې تاوده بازار کې ولې یو حرفه یي او استا کره کتونکی نه لرو؟

که خدای مکړه سبا ته زلمی هیواد مل او حبیب الله رفیع نه و او دا د پېړیو پېړیو پښتني فرهنګ په نا سپړېدلو کانونو به څه پېښ شي؟ او د ادب او هنرونو د تیوریکو اړخونو یو لیکوال چې کمپیوټر د دغه پرمختللي عصر ادب لیکنه او هنر هستونه راته وښیي، ولې راکې نشته؟

او د تاري او تاریخ لیکونکو پوښتنه خو مه کوه چې هغه د روهي صاحب خبره پر دیو .راته لیکلې او پردي یې راته لیکي

زه په دې خبره باور لرم چې پرمختللي استعدادونه په پرمختللو هیوادونو کې وي او بډای فرهنګ په بډای هیواد کې او موږ له همدې کبله له خپلو لیکوالو نه دا هیله او

دي ((سل کاله یو ازیتوب ))توقع نه لرو چې هغوی هر یو دی راته گارسیا مارکز شي او راته ولیکي هغوی دې همدومره خو وکړي چې زموږ همدغه وروسته پاتې ټولنه د خپل فهم او ادراک په اندازه هیله ترې لري، موږ نه غواړو او زموږ ټولنه نه غواړي چې دوی دې راته آسمانونه گز کړي، خو دا غواړو چې زموږ د عصر او وخت همدغه لیکوالان د منځنیو پېړیو د سلیقو له نړېدلو او سولېدلو انگړونو را ووځي او هغه څه راته په مخه کې کېږدي، چې عصر یې غواړي، وخت یې غواړي او زمان یې غواړي.

سترگې را پرانیزي، را ویښ شئ، چې هغه دی دوه زرم کال را روان دی، پېړۍ بدله شوې ده.

## همېش خليل د فيل په غوږ

يو دوه کاله دمخه مې د کوزې پښتونخوا د نوميالي ليکوال ښاغلي همېش خليل يوه ليکلې خندنۍ ))ډرامه ((ولسوتله او ځو اونۍ د مخه مې د بي بي سي له راډيو نه د هغه د خندا وړ، مرکه واورېده او اريان ځو وررته په دې پاتې شم چې نه پوهېدم ورته وخاندم او که وژاړم؟

د ښاغلي خليل هغه ))ډرامه ((خو داوه چې د ))بيا کډې بارېږي ((په داستاني مجموعه يې يوه سريزه غوندې څه ليکلي وو او هلته يې په ډاګه ويلي و، چې تر اوسه يې د افغانستان د داستاني ادبياتو ليکونکو چاپي ځانګړې داستاني مجموعې نه دي ليدلي او بيا کډې بارېږي، د افغانستان د داستاني ادبياتو يچاپي ځانګړې پيل دی موږ به ه دې خبره کې څه وو ايو؟ يوازې يوه کيسه درته کوم :

پوره يو کال دمخه په ژوند کې د لومړي ځل لپاره د پېښور مېلمه شوم، هلته مې وغوښتل چې د پېښور د سيمې له يو شمېر شاعرانو او ليکوالو سره وګورم، چې لږ تر لمه مې څه آشنايي خو ورسره وشي، څو تنه مې وليدل او د هغه او دغه ځای د شعر او شاعرۍ او په مجموع کې د پښتو ادبياتو په هکله مو خبرې سره وکړې او وس ره آشنا شو، بله ورح مې له خپل يوه شاعر ملګري نه چې د ښاغلي همېش خليل پته ورته معلومه وه وغوښتل چې خليل صيب هم راباندې وګوري .دواړه د خليل صيب، د کور پر خوا رهي شو، حجرې ته يې ننوتلو خو هلته له يوه تش کټ پرته هېڅ او هېڅ څوک هم نه و، د کور دروازه مو ورته ورو ټکوله، يو ماشوم راووت ماشوم هلک ته مووويل، چې خليل صيب په کور دی؟ هغه وويل هو کې په کور دی، او لګيا دی چای څښي .

ورته مو وويل چې خليل صيب ته وو ايه چې دوه تنه افغاني ليکوال راغلي، غواړي چې درسره وګوري او در سره آشنا شي هلک کور ته ننوت او دوه درې دقيقې وروسته دروازې ته راغی او راته يې وويل چې ، خليل صيب په کور نه شته، سهار وختي له کوره وتی دی، خليل صيب په کور وو او خليل صيب لګيا وو چای يرې څښنه خو نه پوهېږم چې ولې يې د خپل ليدو ويار موږ ته ونه ښښه .

که چېرې ما خليل صيب ليدلی وای دا به مې ورته څرګنده کړې وای، چې ګرانه خليل صيب خبرې دې ګل او قلم دې بلبل، خو په افغانستان کې يوازې او يوازې پ يوه تېره لسيزه کې دومره داستاني آثار چاپ او خپاره شوي دي چې شمېر يې ستا د سراو ږيرې له وېښتو نه کم نه دی، خو ته هسې د فيل په غوږ کې ويده يې .

ځو اوونۍ دمخه د بي بي سي مشهور ليکوال، ژورنالېست او وياند ګوهر بي بي سي راډيو د راشه درشه ادبي خپرونې ته پروګرام ليکلی و او په هغه کې يې دا خبره عنوان

کړې وه، چې پښتو آزااد شعر په کوزه پښتونخوا کې زورور دی او که بره کې؟
دغې پوښتنې ته له دې ځایه ښاغلي پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار او ښاغلي استاد حبیب الله رفیع او له هغه ځایه خلیل صایب او اعظم صیب ځوابونه وویل، مگر خلیل صیب د فیل له غوږ نه غږ کړ چې شعر او شاعري خو همد لته ده او آزاد شعر په افغانستان کې په خاړپوڅو لگیا دی .
موږ دا نه وایو چې خدای مه کړه د ابد کار دی، زما ژبه دې غني شي که څه هم په افریقې کې وي .
موږ ته د خپلې ژبې ادبیاتو او فرهنگ بډاینه په کار ده او ښکلا یې راته په کار ده، دا کار که ته وکړې او که یې زه وکړم، دواړه به نېک وي او دواړه به بختور وي خو استاده !
لږ پام کول خو هم په کار دي، که شپه تیار ده، منې په شمار دي .
ستاسو په ماحول او بیا په تېره ستاسو په ادبي چاپېریال کې د ادب او هنر هر څه شته خو پر ته له آزاد شعره، البته آزاد شعر د کلیمې په رښتینې مفهوم او که راسر یې نه مني دا گز دا میدان .

# ژوند، خوند او رنګ هم غواړي

عبدالباري جهاني ته

د هنري ژوورو واقعيتنو او د هغو د پراخو بعدونو سم او ژور درک او د هنر د آیسته تيکي او د هغه د وګړنيزو رسالت د اړيکو پيدا کول او د هغو اندونو پر ژورتيا پوهېدنه چې ټاکلې هنري پديدې ورڅخه د يوه ضرورت او د يوې ټاکلې اړتيا په توګه منځته راځي زمونږ د وخت او زمونږ د زمان اساسي غوښتنه ده، چې د هنر د پراخو پټو او ښکاره پديدو کشف، څېړنه او کره کول هر يو ځان ته ځانګړې او هر اړخيز بحث غواړي او د هنر .پروړاندي له مسوولیت څخه ډک بحث

کله چې وغواړو د هنري ټاکلو پديدو د هستېدنې، خلاقيت، رسالت او مسووليت پر اړوند څه ووايو او ويې ليکو لازمه بريښي څو د اړوندې ټولنې د سرشت او د هغې د خاصو زماني او مکاني شرايطو په دننه کې د تاريخي وګړنيزو او اقتصادي متضادو پديدو د څرنګوالي، حرکت او پرمختيا په باب لازمه پلټنه وشي او د هنري پديدو د پيدا ايښت، پرمختګ او نوي کېدو پر اړوند د ټولنې د تمدن او فرهنګ بهير مطالعه شي او د ټولنې د انسانانو تر منځ او د انساني ټولنې او طبيعت تر منځ د عاطفي اړيکو .په هکله کره کتنه وشي او د ژوند او هنر تر منځ اړيکې را برسېره شي

دلته خبره پر هنر، د ټولنې، دټولنې له انسان او د ټولنې او انسانانو تر منځ دهنر د اړيکو او د هغوی د ټولنيز، سياسي، اقتصادي ژوند په دننه کې د تاريخي او زماني پېښو په باب ده چې بې له شکه يو له بل سره د مولد او مولد، د هستې او هستونکي پيوند لري او دلته خبره پر هنر او د خلکو په ذهن او روان کې د هنري پديدو د اثر ښندنې او پايښت .په باب ده

هنر او ټولې ادبي پديدې هر کله او هر وخت د يوې ټولنې د يو لړ زماني او مکاني شرايطو او پېښو زېږنده او د دغو مناسباتو د موجوديت، خصلت، بدلون او حرکت روښنايي محصول دی او تر نن پورې يې يا خو په هماهنګ او يا خو په ناهماهنګ د ،ل .دوام موندی او تر مونږ پورې را رسېدلی دی

ومو ويل چې هنر او ټولې ادبي پديدې ټولنيزو، تاريخي او اقتصادي مناسباتو او بدلونونو سره يو ځای منځ ته راغلی او د ټولنې او د خلکو د ذهني اړتياوو او غوښتنو پر اساس يې د ژوند څښتنه ايښودل شوې او وده يې موندلې ده، هېڅوک نه شي کولی هنري پديدې له طبيعت، ټولنې، تاريخي او د خلکو د ژوندانه له عادي روال څخه بېل او مجزا وبولي هنر د ټولنې د ژوندانه تجسم او انعکاس دی نو که چېرې هنر او هنرمند وغواړي له ټولنې او د ټولنې د خلکو د ژوند له روال څخه پرېکړه وکړي هغه هنرمند

مړې دی او ژوندی نه دی او رښتیا خبره دا ده چې هنرمند په ټولنه کې ژوند کوي،
هنرمند پر ځمکې ولاړ دی او هنرمند لګیا دی ژوند کوي، نو له دې کبله هنرمند نه شي
کولیو له ټولنې او د ټولنې د خلکو د ژوندانه له عیني او ذهني موجودیت او غوښتنو
څخه انکار وکړي، ترې وتښتي او ځان ته خپله بله دنیا او ځان ته خپل بل ژوند له سره
.جوړ کړي

...خبره په تعهد ده، اما څه ډول تعهد او تعهد د چا پر وړاندې؟ کلونه، کلونه کېږي
د یوه وچ تعهد او د یوې متجرې ژمنې نانډرې راته غږول کېږي او کلونه کلونه له هنر سره
...د علم، له تخیل سره د منطق او له انځور سره د ثبوت نسخې راته مخې ته
.موږ شاعران او موږ هنرمندان د هلال هغې دایرې ته ننوېستل غوا او وتل ترې ګناه ده
ومو ویل ژمنه اما څه ډ ،ل؟ همدا چې وږو او نهرو آسونو ته مو شعر د لوړو او
.آسمانڅکو غرونو او ژورو سیدونو پر صفتونو مو ځانونه ستړي کړي
یو او که تر دې لږ ها خوا د ژوند د رنګ او خوند وړمو ثو الهې له خوبه په شرنګار او
...وینښ کړو او څه مو پرې و
.ته ختلي یو او نا ژمن یو او نا متعهد یو
...ولې زموږ یو شمېر ادبپوهان د دې پر ځای چې شاعر ته د شعر
یې راکاږي او د هنر پر ځای یې ورځینو ژورنالیستي هڅو ته لمسوي؟ ولې شاعر او
هنرمند په پنجرو او کړیو کې رانیسي او نسخې ورته صادروي؟ شاعر او هنرمند باید
آزاد پرېښودل شي، ځکه د هغوی لارې پر زندانونو، پنجرو او کړوي نه تېرېږي هغوئ
.لایتناهي موجودات دي او هغئ شعر ته او هنر ته لایتناهي فضا او هوا غواړي
څنګه کېدای شي چې شاعر دې وږی وي او شاعر دې بربنډ وي او هغه دې وږی نس او
بربنډ تن ته نه ګوري او د شونډو شراب دې د ذهن په کاسو کې ګرځوي؟ او څنګه کېدای
شي چې شاعر دې وږی نسونه او بربنډ تنونه ویني او هغه دې د ښکلو د سرو شونډو
شربت او وربښمینې جامې په خپلو شعرونو کې انځوروي او بیا دې په وایږ سره وواي
چې ای زما د چم وږیو پېغلو او زلمیانو راشئ زما د خیالي محبوبې د پستو او نازکو
!شونډو پر پیو ځانونه ماړه کړئ

اما خبره هېڅکله هم داسې نه ده د نړۍ پر دې خاورین چم کې له شاعر او هنرمنده پرته بل
داسې څوک تر اوسه نه دی را زېږېدلی چې احساسات، مینه او عواطف دې یې تر هغو
غښتلي او زورور وي، خو خبره په دې کې ده چې شاعر ته او هنر مند ته باید آزادي
ورکړل شي او خپل کار، خپلو تجربو او خپلو اندنو ته دې پرېښودل شي شاعر د ژوند له
خوږو، ترخو الهام اخلي او د ژوند پر خوږو ترخو یې لکي او انځوروي یې ژوند پراخ

دی او ژوند ستر دی او د شاعر او هنرمند اند او تخیل بیا له دې دنیا نه هم لوی او ستر دیاو ریښتینی شاعر او رښتینی هنرمند خو په همدې پراخې او سترې نړۍ کې هم نه .شي ځائیدلې

شاعر ټول ژوند او ټول عمر مجبور نه دی، چې په خپلو شعرونو او هستونو سره وربې نسونه ماړه کړي او بربنډو بدننو ته جامې وګنډي او یا خو شاعر او هنرمند ملفیت نه لري چې د مدافع وکیل شي، واعظ شي، سیاسي شي، ریشي شي او د دفاع او غوښتنو ډول په غاړه کړي او که شاعر او هنرمند داسې وکړل، نو بیا واعظو سیاسي، د مدافع وکیل او ریشي ته څه اړه ده؟

موږ پښتانه شاعران او هنرمندان اکثره له کلیو او بانډو څخه را پاڅېدلي یو، لور مو په .لیدلی دی او لمو لیدلی دی، لوګري مو لیدلي او او په خپله مو لوی او لور کړی دی کلیو او کروندو کې معمول داسې دي، چې د لو او لور او د نهال پر وخت لوګري او نهالګر دسته جمعي کار پر مخ وړي او طبیعي خبره ده چې لوګري او نهالګر اکثره وږي دي او اکثره بربنډ دي، مګر کله چې په کار پیل وکړي د وخت د تېرولو په خاطر په بدلو او لنډیو هم پیل وکړي، داسې عاشقانه او له عاشقانه سوزه ډکې بدلې او لنډۍ زمزمه کوي، چې د چا خبره د فرهاد او مجنون هم نه وي زده، ما خو هېڅکله په دغو لوونو او دغو نهالونو کې د بزګر، لوګر او نهالګر له خولې نه په بدلو او لنډیو کې نه دي ای ځمکه وال صاحبه، دا ځمکې او دا کروندې دې له کومه کړې؟ :اورېدلي، چې وو ایي ...او ولې ټول عمر کار زما دی او څټل یې ستا

وګورئ د همداسې بدلو او یا خو شعرونو لیکل چې همداسې وږې او بربنډۍ ورته د ژوند لپاره اړتیا لري او په کروندو کې ژوند ورسره کوي په خپله ژمنه نه ده او په خپله تعهد نه دی؟

وګورئ کله چې موږ روښانفکر غونډو، تفریحي مجلسونو، علمي کنفرانسونو، د خوښیو محافلو ته ورځوولې له هغې دریشي سره یو ځای چې ستر یې راته پټ کړی دی او ټول ځان یې راته پوښلی دی نکتا یې هم اچوو؟آیا نکتایي د ستر د پوښتلو لپاره یوه وسیله ده او که د ښکلاینې یو علامت؟

او ایا موږ شاعران او هنرمندان د دې حق نه لرو چې ژوند ته ښکلا وبښو او ښکلا چې په خپله ژوند دی او ښکلا چې سپېڅلې او مقدسه ده ژوند یو ته مخې ته کېږدو؟

.ته پلتۍ ووهو ((غم دوران ))مسخره کړو؟او یوازې ((غم جانانه ))نو ولې باید په خپله غم دی او دوران بې له جانانه په یوه توت هم نه ((جانانه ))یې له ((دوران )) .ارزي

دا هغه مطلب دی چې عبدالباري جهاني ته ((ژوند خوند او رنگ هم غواړي )) :یادونه لیکل شوی دی، خو دا چې د مطلب اصل قلمي لیکنه وه او ځنې برخې یې د وخت په تېرېدو سره زیانمنې شوې وې، هیله ده چې د نیمگړتیاوو عذر مو ومنئ.

لنډۍ ببله او سروکی ببل دی

څه موده د مخه زموږ د هیواد یوه تن پیاوړي او پېژندل شوي علمي فرهنګي شخصیت
په یوې ادبي غونډه کې د پښتو شعر او ادب په اړوند د یو لړ نورو خبرو په خوا کې
څرګندونې وکړې او زموږ په هیواد کې یې د ژمن او متعهد ادب په هکله شاعرانو او
لیکوالو ته د خپل اند او نظر څرګندونې وکړې، چې د غونډې د برخه والو د پام وړ
دغه علمي شخصیت په خپلو خبرو کې زموږ د هیواد په پښتو شعر او پښتو .وګرځېدې
موسیقۍ هم خپل نظر څرګند کړ او یو څه کره کتنه یې پرې وکړه چې د تامل وړه وه.
موږ ته وایو چې زموږ هیوادنی شعر د کمال درجې ته رسېدلی دی او موسیقي مو د
جمال پوړیو ته.

موږ لرو یو شمېر شعرونه چې شعرونه نه دي، د تشو نظمونو نوم هم نه شو ورکولی،
هسې خبرې دي او بس، مګر لرو یو شمېر شاعران چې زموږ د معاصر شعر جوغې یې په
کټ مټ .سردۍ او هغه څه راته هستوي چې باید پرې وویاړو او لمانځنې ته یې کېنو
دا چارې .خبره په موسیقۍ او د ادبیاتو او هنرونو په نورو برخو کې هم په همدې ډول ده
یو ازې او ویازې زمونږ په ټولنه کې نه بلکې د نړۍ په ټولنو کې په همدې ډول روانې
دي، نېک ادب او هنر هم شته او هغه مبتذل او کرغېړن یې هم.

نوموړی یوه په خپلو خبرو کې په دې ټینګار کوي، چې زموږ په شعر او ادب کې د هغو
مګر نوموړی دغه .له ښېګڼو سره سره ابتذال شته او بې له شکه چې خبره همداسې ده
ابتذال په دې ببلګه کې ویني او داسې مانا ترې اخلي.

آخرت چېرې او تور جانان چېرې، په )) ((په آخرت کې به نارې کړم، زما تور جانانه ))
((آخرت کې څوک تور جانان ته نارې نه وهي او نه هلته له تور جانه سره د یارۍ ځای شته
زموږ د ټولنې ټول غړي لهپښتو لنډیو، پښتو سروکو، بدلو او نارو سره بلد دي او پرې
پوهېږي زموږ په پښتو شفاهي ادب کې ټولې دغه ببلګې شته او هر یو ځان ته ببل، ببل
د مثال په ډول په پښتو کې یوه مشهوره .ځای او ببل، ببل شکلونه او فورمونه لري
سروکې ده، په دې ډول:

((ما اېلبند ته خېژوینه زما توره جانانه کډې باریږي ))

دا د یوې کوچۍ پېغلې ناره ده، چې د ببلتون په شپو کې، په هغو شپو کې چې کډې
یې ترلې او د اېلبندونو پر خوا سفر ته ملا وې ترې خپل جانان ته ژاړي او پر خپل ببلتون
ژاړي په هر صورت موږ د دغې سروکې له محتوا سره کار نه لرو او نه یې خو شاعر راته
معلوم دی، چې شاباش ورته ووایه او یا خو یې ملامت کړو دا ځکه چې فولکلور دی او
فولکلور د یوه فرد نه بلکې د یوې ټولنې ګډ مال دی.

کله چې سروکی ویل کېږي له لنډیو سره ویل کېږي او د دې لپاره چې سروکی ډېر وړوکی دی، په یوازې توگه نه شي ویل کېدای.
سروکی له لنډیو سره داسې ټنګ ټکور کې راځي:
ما ایلبند ته خېژوینه زما توره جانانه کډې بار بېږي
جانان زما زه د جانان یم زما توره جانانه کډې بار بېږي
زما توره جانانه کډې بار بېږي -که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه
ما ایلبند ته خېژوینه زما توره جانانه کډې بار بېږي
لنډۍ یوازې همدومره ده چې !وګورئ:
جانان زما زه د جانان یم
که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه
او سروکی خو له لنډۍ نه دمخه، د لنډۍ په منځ او له لنډۍ وروسته بیا ، بیا تکراریږي.
خبره دا ده چې سروکی، لنډۍ او سندره داسې نه ده چې:
((په آخرت کې به نارې کړم زما توره جانانه ))
سروکی داسې دی:
زما توره جانانه کډې بار بېږي او لنډۍ داسې -ما ایلبند ته خېژوینه:
په آخرت کې به نارې کړم
زه له دنیا نه ارمانجن راغلی یمه
د لنډۍ شاعر په آخرت کې نارې نه وهي .لنډۍ مستقله ده او سروکی پېیل دی !وګورئ
ویازې دغه لنډۍ د هغې سروکي په منځ کې اوړیرا اوړي کنه دا .چې زما توره جانانه
لنډۍ د سروکي جز نه ده.

# سیپی

## یو بریالی ګام، یوه بریالۍ هڅه

په دې وروستیو کې مې د پښتو ژبې د ځوان او پیاوړي لیکوال او ژورنالېست ښاغلي په نامه د لنډو کیسو یوه مجموعه لاسته راغله چې ((سیپی ))ډاکټر محمد اکبر د دا اثر زموږ د پښتو کیسه لیکنې د ځوان او نوي بهیر یوه پوره څنډۀ ده او د نویو ادبي تکلونو پر لور یو ګام او یوه بریالۍ هڅه دا مجموعه په دې وروستیو کې په کوچنۍ او ډېره ښکلې قطع په پېښور کې چاپ او خوره شوې ده.

په مجموعه کې د څو خبرې تر سرلیک لاندې زموږ د هیواد د نامتو لیکوال او څېړونکي ښاغلي حبیب الله رفیع یوه په زړه پورې سریزه راغلې، چې په هغه کې موږ د پښتو داستان لیکنې له پرون او سبا سره آشنا کوي او د لنډو کیسو د لیکنې له لارو چارو سره هم.

په مجموعه کې د لیکوال دغه کیسې خپرې شوې دي:

ښې لاس ته وړه لاره 10
ماشوم افغان 11
د کلیمې بند 12
ایکې یو ګل 13
یوه لپه مرغلرې 14
ځئ چې وسپړو خبرې 15
د هیواد جنډه 16

تر عنوان لاندې خبرې ښایي د سریزې په ((نیمګوې ځواک ))لیکوال له کیسو د مخه د توګه راوړي او لوستونکو ته د خپل قلم، د خپلو اندونو د ځولۍ او د خپل پښتنې احساس اندازونه مخې ته ږدي، لکه شعر چې وایي، او رښتیا زموږ دغه لیکوال شاعر هم دی او په دې لاره کې یې هم د خپل اند او قلم نیلي ځغلولي دي، څومره خوږه ده هغه کیسه چې د یوه شاعر د قلم او اند و خیال زېږونه وي آخر خو کیسه د یوې او یا څو رښتینو او نا رښتینو پېښو انځورونه نه ده.

کیسه خو هم لکه شعر د هنریت رنګ غواړي او د هنریت خوند.

وګورئ لیکوال خپلې لومړنۍ خبرې څنګه لیکي؟

راغلم چې خیبر ته ډډه ووهم او له چنابه چونګ اوپه ...د هندو کش د لمنو مسافر ... ))

وځنبم زه د ظلم له سرو مزکو سترې راغلم.

. ((او د سندرې ساه مې ماته شوه ...زما د قلم ستونی د اوږدو ليارو تريخ گرد وسو ))
دا څک څک د قلم له څوک پرېوتی څاڅکي گورئ دا زما د احساساتو وينه ده، دې ته ))
لېپې ونيسئ، هسې نه چرته په خړو خاورو درنه پروېزي، هغه خاورې چې د نېستۍ
او که وشوه نو په دې گرمو وينو د پښتو د ادب درخانۍ له دنور خالو نه ...انبارونه ډکی
. ((کېږدي
گورو چې د کتاب پيل شاعرانه دی او د کتاب پای د شعر کيسې او د کيسو !هو کې
.شعر جوړوي
داسې روانه، سليمه او خوږه ژبه زموږ په لږو کيسو کې شته،زموږ خو اکثره کيسې
:استاد رفيع د کتاب په پيل کې ليکي .يو ازې کيسې دي، نور څه نه
دی د پښتو د نامتو افسانه او ډرامه کښونکي ننگ صاحب يوسفزي زوی دی او ... ))
او له ماشومتوب نه يې له حکايي ادب سره غوږونه آشنا شوي دي، ډاکټر اکبر لوړ
تحصيلات لري پښتو يې مورنۍ ژبه ده، په پاړسي او اردو يې مټ ښه بر دی او د دنيا
يې ډېره ښه زده ده، چې له دې لارو يې د سيمې او لوېديځ ((انگليسي ))يوه ژوندۍ ژبه
خبره همدلته ده چې اکبر د پښتو ژبې او د سيمې او ((د افسانو ډېرې نمونې لوستې دي
نړۍ د ادبياتو پراخه مطالعه لري نو ځکه يې ليکنې يوازې پر ياد او مزدور او د پولو او
پټيو پر سر په جگړو نه څرخي او لکه زموږ د پښتو ژبې يو شمېر کيسه ليکونکي د
.منځنيو پېړې کيسې راته د مريخ د فتحې په شپبو کې نه کوي
زموږ د پښتو ژبې د شاعرۍ او کيسه ليکنې يو رنځ له نړيوالو معاصرو او پرمختللو
ادبياتو سره په نابلدۍ کې نغښتې دي او له نړيوال ادبي بهير نه په بې خبرۍ کې خو د
ډاکټر اکبر کلينې دا څرگندوي چې ليکوال يې د کيسه ليکنې پر تخنيکي او هنري
اړخونو پوه دی او د ابياتو د دغې برخې د معيارونو پېژندگلوي ورسره شته د اکبر د
هنر په پېښو کې او په پېښو کې هنر، .کيسه ليکنې هنري اړخ له څو څو پلوه د پام وړدی
هغه هم بې له دې چې يو بل ته زيان ورسي او يو بل تر سيورې لاندې راولي د داستان د
سړيو جولېزه انځورونه د سنتونو، ادابو، کړه وړو او د افغاني ځانگړو دودونو او
صفاتو هنري تمثيل او همدارنگه د طبيعت شاعرانه تمثيل د هغه داستاني کار او زيار
.له نورو بېلوي
د کيسې پيل ((ښې لاس ته وړه لار ))
يو کال وروسته د مجاهدينو له سنگرونو لږ څه –ځوان خپل پلار ته غاړې ووت ))
د سيلۍ يوه څپه راغله او هغوئ دواړو ترې خولې ډکې کړې، د هيواد ابۍ د ...لرې
خپلو معصومو بچو کومې ته د خپل ساه ور پوه کړه، ژوند په رگونو کې وغزېد او د

(( ...سپین ږیري پلار کاته د خپل ځوان زوی په غبر تناکې ځوانۍ ګرځېدل
:د همدغې کیسې پای
د هغه له .د هغه د سترګو توره باړخو خدای ته کتل .پلار د خپل زوی ګور ته ودرېد ))
اننګو نه رغښتي دوه اوښکې د ګور په خړو خاورو ځک ځک څڅېدلې او د آزادۍ د
په نامه د ناهیدې په کیسه ((د کلیمې بند ))او یا خو ((کرلې ګل په تخم پو نه پرېوته
:کې
د ناهید ګرمو وینو نن شپه د خدای له مینا نه د هیواد جنګ له ژبه ورکړې وه، شین ))
هغه کلیمې چې ټکی -کمیس یې د لا اله الا الله له انقلاب ښنونکو کلیمو نه ډک وو
ټکی یې ناهید د شهادت د ګوتې په څوکه د خپل سکنې پېغلتوب له څک څک وینو
.((هغه ټکي چې انقلاب ته ساه پوکی او سرېتوب تاریخ جوړوي -لیکلي وو
وخت د شپې له ...د ننګ د ملالۍ وارثه کټ ته وخته او شین کمیس یې سرته کېښود ))
د افق پرېښود هسک پېڅکی د شفق له خمه -تورې ډیوې نه د سحر خړې کوڅې ته شو
.((راښکل او د غوټۍ تنګه کوکۍ یې د پرخې په څک ډکه کړه
چې د اکبر په :ښایي یو شمېر کره کتونکي د اعتراض ګوته پورتهه کړي او ووایي
زه وایم چې ښایي په دې کیسو .کیسو کې هنریت پر داستاني پېښو سیوری کړی دی
کې تعادل نه وي هېر شوی او که شویهم وي زما سلیقه خو دا ده چې ووایم زهر راکړئ
!ستونی مې مه ککړوئ !خو په خواږه کپسول کې یې راکړئ
.خورا شو د اکبر د کیسو محتوا ته او د هغه د کیسو د پېښو او د هغه اندونو ته
زه چې پوهېږم ډاکټر اکبر خو کلونه کلونه کېږي، چې کله د سیمې او کله خو د یورپ په
ملکونو کې یو سرګدرانه مساپر دی خو اندیې لا نه دی مساپر او پر قلم یې د افغاني
ټولنې هوا او فضا نه ده ووچه د هغه اکثره کیسې د یرغل په کلونو کې افغاني پېښو ته
وقف شوي دي، لوستونکي هر کله او هر چېرې د اګمان کویو چې لیکوال دا پېښې په
ښې لاس ته وړه ))خپلو سترګو لیدلي او زموږ د ټولنې د غمیزو نندارې یې کړي دي
د یوه افغاني مجاهد کیسه ده چې د یرغلګرو په وړاندې جنګېږي او د شهادت ((لار
.لوړو پوړیو ته رسي او پلار یې د خپلواکۍ ګلان د هغه په سره وینه کې ګوري
په خمڅوکې د یوه رالوېدونکي ماشوم، د یوه شهید پلار او د یوې ((ماشوم افغان ))
.نیمزالې مجاهدې ابۍ د بچې کیسې راته بولي
د ځوانیمرګې ناهیدې، پر ګولوې د سوري سوري ټټر یوه هنداره ده، ((د کلیمې بند ))
چې د کابل د وینښو او نه ابلېدونکو پېغلو د تند سره او رژېدلي خالونه لا تر اوسه پکې
.زرغون پاتې دي

هم هغه کیسې راته کوي چې د زلمیو شهیدانو له وینو رنګ اخلي او ((ایکي یو ګل )) له څاڅکو څاڅکو څخه یې راټوکېږي او لویېږي.

زه نه وایم :یوه لنډه یادونه ((سیپیې ))داو د ښاغلي لیکوال ډاکټر محمد اکبر اکبر پر هېڅ ادبي اثر له .چې ګواکې د هغه کیسې به له کاواکیو او نیمګړتیاوو تشې وي نیمګړتیاوو تش نه دی خو دلته د هغه شاعر لیکوال جذبه د دغه شاعر پر اند و خیال دا کار دې کره کتونکي وکړي، هغه .دومره وه چې اوس، اوس یې هغو ته لاس بر نه شو کار د شاعرانو نه دی.

سرشاره پښتني ادب په گلبڼ کې
په بازارونو کې نه خرڅېږي خو لا تر اوسه يې بيه هم چا ته نه ده معلومه د جوهريانو په ))
...رسته کې مې د ډېرو پلټه د پاچاهانو خزانې مې ښکته پورته کړې
...کسانو کې د ډېر وگرځېدم
...خو د دې ملغلرې سارې مې پيدا نه کړ
.ځينې کسان يې په خوشې هم نه اخلي خو ځينې خلکو ته له هر شي گرانه ده
ځکه يې څوک ټاکلی نه شي خو د زړه خاوندان يې په ډېر قيمت اخلي
.يو ځای کې زښته زيات پيدا کېږي، مگر يو ځای ک په کلو، کلو قدم نه ږدي
................
.((هو اوښکې ...هوا دا ملغلرې د بېوزلو او مظلومو اوښکې دي
سرشار شمالي زموږ د هيواد يو تکړه او پېژندل شوی شاعر، ليکوال، ژباړونکی او ژورنالېست دی، چې د خپل ژوند ډېر کلونه يې د افغاني ادب او فرهنگ د غوړېدا او پرمختگ پهلاره کې ځار کړي او په دې لاره کې يې د وياړ وړ گامونه ايښي او دا
.گامونه يې بري او برياليتوب درش لته رسولي هم دي
ژبې شاعر او ليکوال دی، خو له دې سره، (دري )مرحوم سرشار شمالي له اره د فارسي سره يې په پښتو ژبه هم شاعري کړې ده، پښتو منثور ادب ته يې څه ورکړي او نورو ژبو
.نهي ې پښتو ته بهرني آثار هم ژباړلي او پښتو کيسې يې هم ليکلي دي
که چېرې موږ د سرشار شمالي د پښتو شعرونو، پښتو ژباړو او پښتو کيسو او ژورناليستي ليکنو جاج اخلو دا سوچ نه شو کولی چې دا شعرونه او دا ليکنې دي، د يوې بلې ژبې د شاعر او ليکوال پښتو په معياري ژبې سمبال او د شعرونو سبک يې زموږ د پښتو ژبې د کلاسيکو شاعرانه معمول همدا دی او ادبي ټ،ټې يې د مرحوم استاد گل پاچا الفت له سيما څخه اغيز منې ښکاري، چې د دې ليکنې په پيل کې د
.سرشار شمالي د ادبي ټوټې يوه برخه زموږ د خبرې رښتيا ينه ښيي
د سرشار شمالي پښتو شرونه د هغه د وخت د نورو پښتنو شاعرانو د شعرونو په څېر د ډېر، ډېر شعرونه يې همدغو .غزل او نظم په قالب کې غزليزه او يا خو ټونيزه محتوا لري ټولنيزو مسايلو او د وخت او زمان پر نادودو انتقادته وقف کړي او زموږ د هيواد د طبيعي ښکلا او زموږ د اولسونو د تورو مېړانو او زړورتيا وو هنداري هم راته په مخ
.کې ږدي
دغاټولو په خندا کې
د هستۍ په ترانو کې
د ژوندون په سر آغاز کې

یو مفهوم دی یو تعبیر دی
خپلواکي ده آزادي ده
دا د ژوند پوره تفسیر دی
د تاریخ د سر شمله ده
آزادي ده آزادي ده
:په همدې ډول
باغ مراغ دی رنګین شوی جوړ رنګینه تماشه ده
په چمن کې ګونګوسی دی دا د مینې ترانه ده
هره خوا کې د رنګونو یو بدلون او تحول دی
دا یو رنګ د زمانې دی یو قانون د تحول دی
یو نسیم د تحول دی چې ورو ، ورو پکې چلیږي
بیا راغلی پسرلی دی سمه غرونه زرغونیږي

دلته زموږ په هیواد کې په تیره بیا د روانې پیړۍ خصوصاً ، په دیرشمې ، څلوېښتمې او پنځوسمې لسیزو په کلونو کې د پښتو ژبې د ډېرو نامتو شاعرانو شعرونه هم په همدې ډول و. د هغه وخت په شعرونو کې د هنریت او شعریت پر ځای حساس لید ، ټولنیزو او سیاسي مسایلو ته په شعرونو کې اتوموسفیر پراخ ووو خبرې بربنډې وې او د شعر محتوا او منځپانګه همدغو خبرو نیولې وه ، نو ځکه سرشار شمالي د خپلو همزولو پښتنو شاعرانو پر لاره روان دی او د ښکلا پر ځای پیغام ته او د تخیل پر ځآی اند ته ارزښت ورکوي دا فضا د هغه وخت په اکثره شاعرانو مسلطه وه او ښایي د دې لپاره چې په خاطر بربنډ و ((غم دوران ))زموږ د ټولنې د هغه وخت ټولنیزې، سیاسي فضا د .تورو ته ضرورت درلود

د سرشار شمالي په عاشقانه غزلیزه شاعري کې هم د معشوقې له مینې سره د وطن او خلکو مینه نغښتې ده ، د وطن مینه هغه هېڅ کله هم ځانګړی عاشقانه شاعري ته نه پرېږدي ، هغه د معشوقې په سترګو کې د خپل وطن د بې وزله انسان او ښکېویني او د شرابو په جامونو کې د مظلوم وینې ، سرشار زموږ د ډېرو نورو پښتنو شاعرانو په څېر :غزل په مینه پیل کړي ، خو ترې وینه وینه شي ، په موسکا یې پیل کړي ترې ژړا شي
مجلس کې د خوبانو افسانې دي د مینو
د دوی پټ ، پټ رمزونه او خندا مې ژړوي
هجران مې ډېر ایستلی دی د هجر په دوره کې
د وصل ډک جامونه په غوغا مې ژړوي

په خوب کې به مې هم د هوسا ینۍ تمه نه وه
دا ګڼ خلک چې وینمه هوسا مې ژړوي
سرشارومه خبر نه وم د خلکو له ژوندونه
چې خلاصې مې کړې سترګې نو دنیا مې ژړوي
په دې هیله چې د پښتو ژبې د نورو ناچاپو ګرد وهلو آثارو د چاپ په لړ کې د خدای
بښلي سرشار شمالي د چاپ شویو آثارو په لیدو مو هم سترګې ډک شي.

## دا ستوری هم ونړېد

.او د ژوند ګلان راته په مخه کې کېښودل او له سیاله سره یې سیال کړو
د غزل پلار یادوم او د غزل له بابا نه خبرې کوم، د غزل د استاد په هکله غږېږم او د غزل
.له باد شاه او شهنشاه نه
استاد حمزه یادوم، هغه عالم او هغه شاعر او لیکونکی حمزه چې اند یې او قلم یې په
داسې پیر کې چې ژوند پکې کوو یو بې ساري هاتف و، یوه ادبي مینه وه او یوه خدايي
راکړه، هغه چې پېړۍ پېړۍ د هغه پر خبر بل راونه زېږېد او له دې وروسته به هم هماسې
اوچت، بې سیاله او بې جوګې فرهنګیالي میراث وي، خو دریغه چې دا ستوری هم توی
.شو، دا ستوری هم ونړېد او دا لمر هم موقتاً مړ شو
حمزه مړ شو او نور نو د حمزه له قلم نه د شعر ځاځکي په راتوېدو نه دي، خو شعر د هغه
ژوند او ژوند یې د هغه شعر، شعر یې ژوندی دی، اند یې ژوندی دی، نوم یې ژوندی
دی او د هغه شعر د مرګ او مړینې نوم نه پېژني، د هغه شعر پر مرګ بر لاسی دی اود
.عدم زور پرې نه شي رسېدلای
استاد امیر حمزه د ملک باز میر خان زوی چې په ۱۹۰۷ کال په لواړګي کې یې دې دنیا ته
او لا له پنځم جماعت نه، .سترګې وغړولې، د شپږو کالو په عمر یې په زده کړه پیل وکړ
نه و فارغ چې د شعر پرښتې پرې وزرونه سیوري کړل اود میني او د خوند او د رنګ د
سمندر په خوا کې یې ورته د شعر کوډله ورجوړه کړه او حمزه یې شاعر که لومړی یې په
اردو ژبه شاعري پیل کړه، خو ډېر ژر یې خپلې مورنۍ ژبې ته پام شو او د شعر ګلان یې
د خپول نیکونو د ژبې په ګړۍ کې کتار کړل
د هغه د لومړني پښتو شعر مطلع داسې ده
دا ساقي ګلرخ چې نظر دوی ته جانانه کوي
رېږدي د مستۍ نه ساغر وجد پیمانه کوي
او له همدې سره ټول په دې وپوهېدل چې دا پیل د یوې تلپاتې شاعرۍ پیلامه ده او دا د
یوه تلپاتې شاعرۍ پېلامه ده او دا د یوه تلپاتې قلم او د یوه تلپاتې شاعر د اند او خیال
.پیلامه ده، چې پای نه یې د شعر هغه آسمان له سره تکمیل او پوره کړي
استاد حمزه نقاش او انځور ګر شاعر و او استاد حمزه د فلسفي شاعر، استاد حمزه د
تغزل شاعر و او استاد د تصوف هم خو هغه څه چې استاد یې زموږ د ژبې له نورو
شاعرانو نه را بېل کړ د هغه سپېڅلې قومي، ملي شاعرانه مینه او شاعرانه اند دی چې
:شعر یې راته پښتون کړ او پښتون یې راته شاعر کړ
ما کوز ورته لیمه کړه زما سر نه ټیټېده

شاید چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم
خدایه چې حمزه دې مسلمان کړ جوړ
بیا چې دې افغان کړ نر افغان یې کړه

عشقه ته خودبین یې زه پښتون یمه
ما نه ده ښودلې ګډا سترګو ته

د غزل بادشاه ، د تخلیقي فطرت او خدا داد فطانت مالک، چې په ادب، تاریخ، ))
اجتماعیاتو، فلسفه او اخلاقیاتو ښه صور لري، چې د تصوف په عارفانه رموز پوه او د
موسیقۍ علم نه هم واقف دی، دا حمزه شینواری دی د چاپ شارعۍ کې چې د قد ماوو
متانت، پخته ګۍ او د متاخرینو خیال آفریني او نزاکت مضمون را یو ځای شوی دی او
(( ...په دغه سبب د حمزه صاحب شاعري د قدماو او تاخرینو شریکه پوله ګڼم
هو دا حمزه شینواری و چې د پښتو د پروني شعر او د پښتو د نني شعر پوله یې سره
راوتړله او له کوډلې نه یې تر سپوږمۍ لاره یوه کړه، پرونۍ لاره یې کمال ته ورسوله او
دا حمزه و چې پرونی کاروان یې نېک منزل ته ورساو او .ننۍ یې لا کمال او جمال ته هم
معاصرینو او مځنیو ته یې نوې او نوې لارې کشف او منځته راوړې، چې دا دی پل پرې
ږدو او سفر پرې کو، څوک چې دا دی لګیا دی شعر لیکي او غزل ته قلم خوځوي
.وغواړي او که ونه غواړي د حمزه د شعر او غزل وړانګې پرې شته او اغیزه یې پرې شته
د استاد شعري آثار دا دي
غزونې
یون
بهیر
پرېونې
سپرلی په آینه کې
استاد حمزه برسېره پر شعر په نثر کې هم آثار کښلي، چې د بېلګې په ډول یې یادونه
:کوو

(د پښتو لومړنی فلم )لیلی او مجنون 17
(نعتیه منظوم کلام )د زړه آواز 18
(د کابل منظومه سفرنامه )سفرنامه 19
(سفر نامه )نوی پښتون 20
(ناول )نوې چپې 21
(ناچاپ )د کارل مارکس اصول د عقل په نظر کې 22

(تصوفي منثور اثر )تجليات 23
.ژوند 24
د خوشال بابا يو شعر 25
(ناچاپ )ليک شوي خطونه 26
(ناچاپ )تذکره الستاريه 27
استاد حمزه د هغې ناروغۍ له امل چې کلونه کلونه پرې اخته و د تبر کال د ژمي په وروستيو کې له دې دنيا نه سترګې پټې کړې او تلپاتې شو.
روح دې يې ښاد وي

# شاعرانو ته نسخې مه ورکوئ.

یو دوه تنه شاعران ملګري لرم ښه ډېر شعر لیکي ، هر کله یې لیکي او کله یې چې زړه وغواړي شعر لیکي ، شعرونه په دسترخوان کې ایښې ډوډۍ ده، چې وږی شي خوري او کله کله خو یې بې له دې چې اشتها ورته ولري ،خوري یې ، په مړه ګېډه یې خوري، زما دا ملګري شاعران دوه دوله کتابچې په خپلو جېبونو کې ګرځوي:یوه یې د شعرونو او هغه بله یې د قافیو اوطرحو ، کله چې یې شعر لیکلو ته زړه وشي همدغه تیارې لیکلې طرحې مخ
ته کېږدي ، بیا ورپسې همغه تیارې جوړې کړای شوې قافیې کتار کړي ،نو بیا واوره ترې شعرونه !

هسې خو په پښتنو شاعرانو ګوتینونه ښه نه لګي.که سرۍ ورته د لورېینې له مخې هم څه ووایي سوچ کوي ، چې رخه یې راځي او دزړه پړسوبه د انتقاد ګوته ورته نیسي.ل دې سره،سره مې خپل دغه ملګري څو ، څو ځکله دغو نیمګړتیا ووته متوجه کړل ، پوهېدم چې ښه پرې نه لګي خو ټینګار مې کاوه.

یوه ورځ زما دغه یوه شاعر ملګري په داسې حال کې چې نیم شین او نمي خړ کتاب ورسره و.کمبټې ته راننوت او کتاب یې راته پرانیسته ، ویې ویل: هلکه وګره ځان او سوقال کوې او شعر راته ښیې.

دا کتاب دې کله لوستی دی ؟آخر دا مقاله د یوه پوهاند په قلم لیکل شوې ، چې تا غوندې شاعر یې د پښتو ګرد ته هم نه شي رسیدای.

وګوره پوهاند صاحب شاعرانو ته د شعر د زده کړې او لیکلو لپاره څه ښې مشورې ورکړې دي ، واخله ویې لوله !

ما هم دا کتاب ذاواخیست او د پوهاند صیب مقاله مې ولوستله هغه شاعر رښتیا ویل او پوهاند صیب شاعرانو ته د شعر د لیکلو داسې نسخه ورکړې وه:

1 )یو ( د شعر د ویلو لپاره باید داسې وخت غوره او منتخب کړی شي چې هېڅ قسم دماغي یا ذهني فشار سرې ته عارض نه وي او ذهن یې بلکل د هر قسم عوارظو نه آزاد او د شاعرانه خیل لپاره تیار وي ،ولې چې که چېرې په ذهن باندې له یوه طرفه فشار او اثر پروت وي ، نو دې د بل خیال لپاره آزادانه کار نه شي کولی.

(ابي او عباده بحترى ) چې د عیوبو پوره شاعر دی ، هغه وایي: چې ما په

ابتدا یه کې د شعر سره ډېره مینه لرله او د شعر د ویلو سره مې زیاد شوق درلوده ، مګر داو چې هېڅ نه کامیابیدم ، ډېره وسه به مې وکړه ، خو هېڅ به نه شو ویلی ډېرو خلکو ته لاړم چې ماته د شعر یوه شمه لار وښیي او زه په شعر کې اړ څه معرفت پیدا کړم ، مګر داسې یوه روغه لاره راته چا ونښوده.
آخر کې (ابي تمام حماسی )چې د عایو بو مقتدر او زبردسته شاعر دی او د (( دیوان حماسي )) مصنف دی ؟ هغه ته ولاړم او دا د خپل زړه

مقصد مې ورته ښکاره کړ ، نوده راته وویل: چې ((ای عباده !)) ((که غواړې چې شاعر شې او په شعر کې لاس پیدا کړې ، نو داوقاتو لحاظ وساته !په داسې وختونو کې شعر ووایه چې څه غم او خپګان درته پیښ نه وي، یعنې چې په دماغ او ذهن باندې دې څه فشار نه وي ، او په ټولو وختونو کې بیا بهتر وخت د سهروخت دی.دمؤلف یاد شاعر یعنې د داسې کسانو لپاره چې دفکر استعمال ته ضرورت لري ددې وخت نه بل بهتر او غوره وخت نشته ،نوکه په بل وخت کې دشعر په ویلو قادر نه شوی ، نو ددې وخت نه استفاده وکړه ، امید دی چې ددې وخت خواري او محنت به دې اوبه نه وړي !
۲)په داسې مضوع کې باید شعر وویلی شي ، چې دهغې موضوع سره دسړي طبیعې علاقه او مینه پخوا موجوده وې ، یعنې د شعر لپاره باید داسې موضوع غوره او منتخبه کړی شي ، چې هغه موضوع په عادي وختونو کې د ده د فکري او ذهني مشقونو میدان وي ، که د طبیعت مینه د اجتماعیاتو سره ډېره وي، باید چې اجتماعیاتو ته توجه وکړي شي، که د اخلاقیاتو سره ډېره وي، باید چې په اخلاقیانو کې دده دفکریاو ذهني مشقونو میدان ، که د طبیعت مینه د اجتماعیاتو سره ډېره وي ، باید چې اجتماعیاتو ته توجه وکړیشې ، که اخلا قیانو سره ډېر وي باید چې په اخلاقیانو کې قلم پورته کړی شي.دارنګه نور ، ځکه چې دیوشي سره دسړي طبیعي علاقه او ارتباط موجود وي ، نو دلته لږ تکلیف غواړي، فقط دذهن اودفکر توجه ته ضرورت دی ، نو بیا طبیعت په خپله لکه چینه راخوټ کېږي ، غرض داچې داسې نه وي چې په طبیعت باندې زور اوظلم وکړای شي اوکه دطبیعت رضاوي اوکه نه وي، په یو کار باندې مجبورکړیشي ولې چې د طبیعت مثال داسې دی ، لکه د دمشوم هلک ،په نرمۍاورضا سره یو کار کوي، مګر که لږقیدیا
زور زیاتی پروروسته دشعر د جوړولو یو زبردست معاون دی ، خوږ اواز احساسا ت او خیالات په حرکت او هیجان کې راول

او په شاع کې يو قسم جوش او خروش پيدا کوي ، دا تقريبا تجربې ته رسېدلې ده ، چې ډېر خلک د خوښ اوازۍ اود ترنم نه په غير يوه مصرع هم نه شي ، جوړولی ، اود ترنم او نغمې په برکت سره يې په خپله خولې ته اشعار راځي . ګويا د شعر جوړولو او په دې وسيله سره د خيال نه زبردست او مهم کار اخيستلی شي !
**۵)** په کومه قافيه باندې چې سړی شعر وايې بايد چې هغه قافيه په يو پوره تعد اد سره مخکې جمع کړی شي اود کاغذ په يوه څنډه باندې يې ټولې وليکلی شي .دشعر دجوړولو لپاره دا يو زبردست صورت دی .ولې چې په زيات تعداد سره قافيې سړي ته موجود وي.
نوفکر يې نه مشوش کېږي ، اود دې خبرې لپاره هېڅ ضرورت نه وي ، چې يو ساعت قافيه پسې وګرځې.لکه دذهن د توجه اود نه تشويش لپاره دا يو لوی عامل دی ، د ذهن سره چې دقافيې د پيدا کولو خيال نه وي، نوټوله توجه يې معنی ته وي ، او ټول کوشش يې دمعنی په ارتبا ط او تناسبکې صرفېږي !
**۲)**هر څوک چې دشعر په جوړلو باندې شروع وکړي ، نو تر څو پوريې چې طبيعت موافقه کوي ، تر هغهې پورې دې دی هم لګيا وي ،او کوم وخت چې طبيعت له کاره لاس واخست اونور يې کارنه کاوه نوبايد چې هغه وخت قلم،مشواني کېښودلی شي آويو سآعت طبيعت ته دمه ورکړي شي .هر وخت چې يې طبيعت برابر شو نو بيا دې بېرته په خپل کارلاس پورې کړي، يعنې که په طبيعت کې څه ستو ماني پيدا شې ،نو په کار ده چې هغه وخت سړی ، طبيعت هوسا او خوشحا له کړي او وروسته بيا په خپل کار باندې پيل وکړي) ) زه په دې ليکنه کې تصميم نه لرم چې خدای مکړه د يادې شوې ليکنې ليکوال پړ کړم او يا خوګوندې دهغه ليکنې اود هغه اند ونظرته په کمه سترګه وګورم.
ما غوندې مبتدي څه ليکونکی که سل کاله د قلم په دګرو ونو کې ځان ستړی کړی دهغه ښاغلي درانه ليکوال پر يوه پل هم پل نه شي اينښودای . زموږ دغه ليکوال دومره ستر دی چې د نامه په يادولو سره يې بايد خپلې خولې پر زمزمو ومينځو .خوخبره دلته ده چې ښايي په هغه کلونو کې چې د ليکنه سر ته رسېدلې ده او خپره شوې ده په افغا نستان کې به د شعر او شاعرۍ روال په هغه ډول و کوکله چې نوموړې ليکنه چاپ او خپره شوه ، زه مې دمور په ګېډهکې هم نه وم ، خو اوس اوس خبرې نورې دي. ، زموږ د پښتو شعرروال ، څرنګوالی اودهغه دهستونې طريقې د زمان له غوښتونوسره سم پرمخ ځي،
ان دا چې اوس ، زموږ پښتوشعر د څرنګوالي اود هغه دهستونې طريقې دزمان له غوښتنو سره سم پر مخ ځي ، ان دا چې اوس ، اوس زموږ پښتو شعر د څرنګوالي او

ځومروالي له مخې کولی شي لړو ډېرلږتر لږه د سیمې دهېوادو له شعر سره جوګه شي ، نو ځکه وایو چې موږ نه شو کولید شعر هستونې ته وخت وټاکو اوپه دې او په دې باور ولرو چې په تېره بیا د سهار وخت د شعري هستونې لپاره زبردسته موقع ده ، او یا خو مخکې له مخکې موضوع وټاکو ،په زړه کې واړوو را واړوو ، هغه موضوع په دماغ کې مکمله کړو او بیا د الفاظو جامه ورواغوندو ، او په کومه قافیه چې شعر وایو باید چې هغه قافیه په یو پوره تعداد سرهمخکې جمع کړو او د کاغذ پر یوې څنډې باندې یې ټولې ولیکو او یا په دې باور ولرو چې دا کار د شعر د جوړولو لپاره یو زبردست صورت دی.

آخر څوک ویلی شي چې نن به زه شعر لیکم؟ هغه چې شاعر دی او یوازې نظم نه دی هېڅ کله نه شي ویلی چې نن به زه خامخا شعر لیکم. او آخر څوک ویلی شي چې اټکل وکړي ، چې نن به زه شعر لیکم او پر دغې او هغې موضوع به شعر لیکم. دا کار شاعر نه کلی ، یوازې ناظمان یې کولی شي.

رښتینی شاعر له کشف او الهام څخه یوه ثانیه د مخه نه پوهېږو ، چې شعر لیکي ، نه پوهېږي چې کوم ډول شعر لیکي او حتا شاعر پوه نه دی ، چې په کوم فورم او قالب کې به شعر لیکي.

کله چې الهام وشو ، نو همدغه الهام دی چې د شعر پیل زېږوي ، نه ټول شعر او د شعر د همدغه پیل زېږدا ده ، چې د دې سرک وشي چې شعر به پر کومې موضوع څرخې ، عاشقانه که بل څه او همدلته ده چې د شعر فورم ټاکل کېږي ، چې شعر غزل دی ، مثنوي ده ، قصیده ده او که هغه ازاد.

...په ویل (( زه ، بل څوک دی )) اوپه دې ډول یې څرګند واله چې انسان دشعر دهستونې په وخت کې پر یو بل کس بد لېږي.

رښتیا دا ده چې شاعر له الهام څخه دمخه دنورو ټولو خلکو په څېر یو عادي انسان دی ، خو کله چې الهام وزرونه پرې پرانیزي

، نو هلته ده چې شاعر هغه عادي انسان نه دی.شاعر هستوونکی دی ، شاعر کاشف دی ، شاعر خالق دی ، په داسې شپو کې دشاعر خوب ، دشاعر څښاک اود شاعر دژوند ټول اسباب کلیمې دي اوپه داسې شپو کې شاعرپه خپل ځان کې ورک دی ،په دې شپو کې شاعر ته بهرنۍ نړۍ وجود نه لري او حتا شعر په خپله هم په فزیکي دول وجود نه لري.داسې شپې دي خو دیو شپې دي او داشپې دشاعر دذهنې نړې اود شاعر داروااوو او روانو شپې دي.

افلاطون وایي چې الهام نه وي اخیستی، په ابداع او( کشف لاس نه شي پوري کولی )).

نو ځکه ټينګارکووچې موږ شاعران ، شاعران یو ، تر کاڼان نه یوو چې ووایو : زه به سهار په شپږو بجو له خوبه راوېښېږم ، اره ، تيشه او سکنه به مې اخلم او د کار ځای ته به مې ځم. هلته به دروازه جوړوم ، چې لرګی يې د چارمغز وي. طول يې دوه او عرض يې يو متر وي. موږ نه شو کولای شعر ته وخت وټاکو ، بيا باغونو ته لاړ شو ، ګلانو ته کېنو او يا خو د اوبو شرشروته غوږ شو ، چې دا کار د شاعر لپاره يو زبردست کار دی. آخر دا زموږ په واک کې نه دی. موږ د دې اختيار نه لرو.

ومو ويل چې شاعرله خپل ماحول ، له خپل چاپېريال او د خپل ماحول او چاپېريال اود خپل ماحول او چاپېريال له پېښو الهام اخلي ، هغه پېښې چې زړه راکښونکې دي او هغه پېښې چې وړه بوږنوونکې دي.

ښايست هم الهام ورکوي او بدرنګي هم د سولې او هوساينې شپې ورته هم ښونکې دي او د جګړو او وينو شپې هم.

شاعر لومړی څه احساسوي ، احساس اغېزه پرې کوي او احساس پر شعر بد لېږي ، له کشف او الهام او له احساس څخه پرته شعر په زوره وجود نه لري او که چېرې داسې نه وي نو بيا زور وهل دي او شعر په زوره نه ويل کېږي.

زموږ د جګړو د کلونو شعر د ثومره والي او څرنګوالي شعر دی. په همدغو کلونو کې زموږ شاعرانو زموږ د هېواد د نورو مليونونو وګړو په څېره زړه خندا نه ده کړې او زموږ اکثره دغه ځوان شاعران د جګړو په همدغو کلونو کې راوزېږېدل ، ځوانان شول او رالوی شول. د مقالې ليکوال ليکي: ((د شعر ويلو لپاره بايد داسې وخت غوره او منتخب کړي شي چې هېڅ قسم د ماغي يا ذهني فشار سړي ته عارض نه وي او ذهن يې بالکل د هر قسم عوارضو نه آزاد او د شاعرانه خيال لپاره تيار وي... )) خو زموږ غو شاعرانو په داسې شېبو کې شعري شاهکارونه هست کړل ، چې له اوښکو او غم پرته يې ډوډۍ نه ده موندلې ، وينې يې ليدلي دي او د وينو په دغو شرايطو او د دماغي او ذهني فشارونو په دغو شېبو کې يې شاعري کړې ده او هغه باغونه ، ګلونه او شرشري او آبشارونه خو پرېږده ، چې په خوا کې يې ورته شعرونه ليکلي وای ، د شعر هستونه وخت نه غواړي ، د شعر موضوع مخکې له مخکې غوره کېدای نه شي او شعر ته د کاغذ پر ځنډه قافيې راټولېدلی نه شي.

په هر صورت په دې ليکنه کې ما کوښښ ونه کړ ، چې کتابي شم او په دې هکله له پرطمطراقو نقل قولونو او تيوريکو مباحثو نه کار واخلم. دا خبرې اوس د لمر په څېر روښانه دي او دا تجربې لاد وخته سرته رسېدلي او لګيا دي ، سرته رسېږي.

بیا هم تاکید کوم زما د دې یادښت موخه زموږه ژبې او فرهنګ د هغه نومیالي لیکوال د لیکنې غندنه ، نه ده پرون هسې وه نن داسې،خو خبره دلته ده ،چې هغه د مقالو مجموعه چې کلونه، کلونه دمخه چاپ او خپره شوې ده ، لا تر اوسه هم د یو شمېر شاعرانو په اندونو او فکرونو حکم چلوي ، زما هغه دوه تنو شاعرانو ملګرو چې تیارې جوړې شوې طرحې،مضامین او قافیې په جېبونه کې ګرځوي ، ماته وویل چې د دغه کتاب ، بیا په تېره د دغې مقالې د لوستو او پرې د عمل کولو سپارښت راته پلانکي لیکوال او پلانکي شاعرکړی دی او موږ چې هغه مقاله ولوستله همغسې مو پرې عمل وکړ .نو ځکه مجبور شوم دغه اوسنۍ بوټې ولیکم او له زلمیو شاعرانو هیله وکړم، کله چې شعر لیکي .د باغونو او ګلونولټین پسې ځان ستومانه نه کړي.ځان دې درې ځله نه ستومانه کوي ، چې لومړی د خپلې خوښې موضوع په نثر ولیکي ، بیا دې قافیې راټولې کړي او وروسته دې ورته د الفاظو جامه واغوندې.

کله چې ښاد و د ښادیو شعرونه دې لیکي او کله چې یې د ماغې او ذهني فشار درلود د همغو انځورونې دې وکړي. آخر زموږ په هېواد کې له کنډوالو پرته باغونه چېرې دي او آخرزموږ په ټولنه کې له د ماغې او ذهني فشارونو پرته موسکۍ شونډې او مست زړونه چېرې. ؟

## ښکلا او ځوانیز ارمان

د روان کال د ثور په میاشت کې د افغانستان د لیکوالو اسلامي انجمن د پښتو ژبې د ستر شاعر اروښاد استاد ابو المراد امیر حمزه ځان شینواري د مړینې لومړنی تلین د یوې پرتمینې غونډې په ترز کې ولمانځه. په دې غونډه کې یو شمېر لیکوالو د استاد د فرهنګي شخصیت او د هغه د آثارو پر بېلا بېلو بعدونو خپلې مقالې واورولې چې دادې په دې ګڼه کې د ښاغلي اسحاق ننګیال مقاله خپرېږي.

د پښتو د ستر شاعرد غزل د پلار ، د غزل د بابا غزل د باد شاه ابو المراد امیر حمزه خان شنیواری د شاعرۍ په باب د هغه د شعرونو د ډولونو او رنګینو بعدونو په باب تر او سه ډېرې خبرې شوي، او ډېرڅه لیکل شوي دي ، خو رښتیا خبره دا ده چې پښتوژبې له خوشا ل بابا وروسته ، له رحمان بابا وروسته او له حمید بابا وروسته او د دغو په څېر د کلاسیکي شاعرۍ له یونیم بل شاعر وروسته تر شلمې پېړۍ پورې شعر نه دی لیدلی ، ببولالې یې لیدلې دي ، شعر یې نه دی لیدلی ، هسې منظومې غورې او منظومې ګڼې شپې یې لیدلې دي او له همدغو شاعرانو وروسته تر همدغې پېړۍ پورې پښتو شعر که مړ نه و نوژوندی خو هم نه و ، دا حمزه شینواری ؤچې د پښتو ژبې د شعرد پېړیو ، پېړیو رنځ یې مدا وا کړو پښتو شعر یې یو ځل بیا د شعریت او هنریت په کاڼو ښکلې کړ، دیوه شاعرانه پیغام ساه یې پکې پو کړه،

تر دې چې زموږ شعر یې له سیاله سره سیال کړاو زموږ د وروسته پاتې او چا خبره د شډلې ژبې شعر یې د نړیوال شعري بهیر تر درشلونو ورساوه.

اوس ،اوس هلته چې د شعر خبرې کمېږي او ژبه پر شاعرڅرخي،

اوس ، اوس چرته چې غزل لیکل کېږي او چرته چې غزل اوریدل کېږي ، هلته به د حمزه اروا شنه وي ، هلته به د حمزه سیوری خور وي او هلته به د حمزه د شعرونو غر ، پر اوږو په سر راته ولاړ وي ، داځکه چې ننی زوړ او ځوان شاعر چې غزلبول دی او غزل لیکي اوخامخا به یې له حمزه نه څه زده کړي وي او هغوئ که وغواړي او که ونه غواړي په یوه ډول نه په یوه ډول به یې غزل له حمزه نه رنګ اخیستی وي او له حمزه نه به یې خون اخیستی وي.

دا ستا دحمزه شینواري شاعري هغه اباسین ته ورته ده ،چې دڅپو

یې تم نه دی زده او اباسین لښتي نه پېژني او دا ستا د حمزه دشعر هر بعد چې اباسین دی ، څنګه به وشو کولای ل هغه سینده لښتي رابېل کړو او لپه ،لپه یې کړو؟

دحمزه شعر د تخیل ، تخییل ،تصوراو تصویرشعرهم دی او داستا دشعر دسترو انساني ایډیالونو ،د حماسې لید اود ځوانیزو ځانګړتیاوو شعر هم. دا ستا د شعر د

عرفان او تصوف په ژورو سمندرونو کې لامبو زن دی او دا ستا د شعر د اخلاق او تهذیب رڼا هنداره هم ده.
زه نه غواړم دا ستا د شعرونو ، بیا په تېره د هغه د غزلونو پر ډولونو او بعدونو خبرې وکړم او که چا داسې وکړل کتاب به شي او کتابونه به شي. زه غواړم د هغه د یاد پر دغې پرتمینې غونډې کې په لنډه او پرې کړې ژبه د هغه په غزلونو کې د اجتماعیت او د هغه په غزلونو کې د ښکلا ، شعریت او د هنریت د انځورونې په باب څه ولیکم.
استاد حمزه د پښتو ژبې د یوه بل نومیالي شاعر ښاغلي سید راحت زاخېلي پر (( داغونه )) باندې په سریوه کې کشلی و:
(( ... هر یوه انسان ته معاومه ده چې غزل یوازې د ښځو سره د خبرو کولو نوم نه دی ، بلکه تنستې او دل او په ساده ، ساده خبرو کې حکمتونه څرګند دول هم دي. موږ له هغو حضراتو سره اتفاق نه شو کولی کوم چې غزل یوازې د پای مخو د اندامونو د تعریف نه سوابل ځیز نه ګڼي. که د غزل محرکه جذبه عشق وي ، که د مینې تاود ښایست د تعویذ محرک وي نو مینه یوازې د ښځو سره نه ، بلکه د قام ، ملک او نورو ځیزینو سره هم وي ، او په دې لحاظ هغه ټولې منظمې ، وینا ګانې د غزل په شمار کې راتلی شي، خو شرط یې دادی ، چې د هغو اظهار د غزل په طریقه لطیفه ، نازک او ساده وي )). او استاد حمزه په خپلو شهرونو کې دغه عشق او دغه مینه پر څلورو برخو وویشله ، څلورو مینو ته یې غزل ولیکه او دغه څلور مینې یې د قلم او د غزل د لارې مشال شوې:
-له خدای (ج) ، سره مینه.
له انسان سره مینه.
- له پښتو ټولنې او افغانیت سره مینه.
او له ښکلا سره مینه.
او له همدغو څلورځیزونه د حمزه شاعرانه عشق جوړوي او قلم یې پر همدغو مینو څرخي.
شعر په لنډه او آهنګینه ژبه د اند او تخیل او تخیل عاطفې پیوند ته وایي
د شعر کار د واقیعت تشه عکاسي او کټ مټ بیان نه ، بلکې شعر د واقیعت تجلي ده ، شعر تخیل دی ، شعر سمبول دی ، شعر ایمان دی ، شعر اسطوره ده او شعر، شعر دی.که څوک وغواړي د تخیل ، تخییل او تصویر لاره خوشې او په سیاسي ،ټولنیزاو د هېواد نیو او نړیوالو پېښنو په منظوموله سره شي شاعر نه دی سیاستمدار دی
شاعر نه دی واعظ دی او شاعر نه دی مؤرخ دی ، چې د شعر لاره او د شاعر لاره پر دغو لارو نه ځئ د شعر او شاعر لارې بېلې دي ، هر څومره چې شعر واقیعت ته او ربنتیاینې ته

نږدې شي ، شعریت ګډه ترې وکړي اوهنریت او انځورګري پکې په ذره بین هم نه شي
لیدل کېږداى ، شعر پند شي ، شعر واعظ شي،
شعر تآریخ شي آو شعر جغرآفیه شي آو شعر په هسې لاپو شاپو
سر شي.
نو کله چې شعرداسې مرحلې ته ورسېږ ، سړى یقیني شي چې وو
یي :: (( هوکې ! باید هنردهنرلپاره )) .
مګر لوى او ستر شاعران داسې لوموکې نه شي ایسارېدلى .دهغو
زړونه لوى ، سیني یې پراخي ، ذهنونه یې سمسوراو دقلم ګوتې
یې انځورکړې دي .هغوى د دې وس اود دې استعداد اوتوان لري ،چې وو ایي:((هنر
یوازې د هنر لپاره نه ، هنر دژوند لپاره ، ))((
غزل دغم زنان لپاره نه ))((غزل ران لپاره )).او استاد حمزه له همدغې ډلې نه دى ، له
همدغولویو او ستروشاعرانو نه دى ، چې دژمنې په نامه ، د تعهد په نامه اود
اجتماعیت په نامه
یې شعر له ببولالونه دى ډک .دهغه شعر د یوه ریښتینې ژمنې لاره وهلې ده اود هغه شعر
د ژوند اوهنر یو په زړه پورې اوډون او تلفیق دى.حمزه داسې غزل لیکي:

د هما سیورى ووکه شان یې د شملو یادوي
زړه زما تېره زمانه د پښتنو یادوي
څوکه دښمن دى زما ، وي دى ، خو پښتون دى رقیب
چرته چې ذکر زما راشي ما په ښو یادوي
حمزه ښکېږه که شعار دې شي د قام او ملت
قام و ملت به دې هم پسته په صدم یادوي

. . .

مینه د ملت بۀ انتها ته رسو مه
ګویا چې یې ببرته ابتدا ته رسو مه
هم به مې شي دا خوشامد کړې اوښکې خلاصې
هم څه پیغامونه پښتونخوا ته رسومه
نن مې ستا په مخ کې چې ارمان یخ اسویلى شو
داد مو د ومړى مسیحاته رسومه

غم د پښتنې مينې چې ما په سر اخيستی
توان لرم که ځان همه دنيا ته رسومه
ځغل د ملتو دی د پېښور ژبه په کار ده
غږ د بيداری پير و برنا ته رسومه

وګورئ دغه بل شعر ته:
خپلواکي که چرته د انسان د جوړه شي
هله با معنی په صحيفه د جهان جوړه شي
سوال ورته کولی نه په خوله او نه په ستر ګو شم
ګوره ورته خوله مې که د خيري ګرېوان جوړه شي
اوس ورته پېغور خپلې زړې ورانې مانۍ کوي
ګوره که جو نګړه چر ته بيا د افغان جوړه شي
په همدې ډول دا شعر:
بې بد رګې غوندې کاروان يمه زه
غږ د چرس غوندې پرېشان يمه زه
حيف دی چې نن هغه افغان يمه زه
چې په خپل قام باندې تاوان يمه زه
څو چې ګوزار خورې هومره لا ی قوي
ما خو به وي هغه سندان يمه زه
هغه ساده مسلماني مې څه شوه ؟
د آينې غوندې پريشان يمه زه
د (( نن )) ،((صبا )) په ګير کې نه راځمه
بس د ماضي غوندې روان يمه زه

وايي چې دا حمزه شينواری و چې غزل يې پښتون کړ بلکې تصوف يې پښتون کړاو حمزه شينواری د پښتون غزل او پښتون تصوف بنسټ وال دی.
په دې کې هېڅ شک نه شته ، چې حمزه غزل پښتون کړ او که چېرې يې پښتو او پښتونولي له غزلو نو لرې کړو ، بيا خو نه هغه غزل دی او نه هغه حمزه. د حمزه د غزل وينه.پښتنه ده ا و پېښون زړه پکې ګوري.

د پښتو دود ، د پښتو دستور ، پښتنې ویاړنې ، پښتنې دبرې ، پښتنې هجرې، پښتنې لوپټې او پښتنې شملې دحمزه دغزل د کاله ښکلې دي. دحمزه داند او فکر اود حمزه د فلسفې او تصوف اساس هم په پښتو ودان شوی اودا هر څه د پښتو او پښتونولۍ په هنداره کې وینې:

-دا سر ګوزی پښتونه عشقه ولې
ستا د زلمو هغه پګړۍ څه شوې ؟
-حمزه سفر که د جهاز وي خو هم
زه د پښتون له قافاو سره ځم
-زلفې ، لېمه وروځې ،پانه پښتانه
څنګه یوځای شوو پښتانه پښتانه
-کا یې دزلفو ، د بڼویو دی
له خویه یو دي لوی واړه پښتانه
-پښتون آشنا دی حجره خلاصه کړې د خپلې ښکلا
غوټه جبین شي لکه شوم چې مېلمانه ووینې

# اوسنی فرهنګي ناتار زموږ د عصر غمیزه

زموږ د هېواد د معاصر تاریخ وروستي کلونه د ارزښتونو د مړینې او د فرهنګي ناتار
کلونه دي ، هېوادونه او بشري ټولنې په فرهنګ ژوندۍ دي او همدغه ملي ـ فرهنګي
ارزښتونه دي ، چې د ټولنو د ژوند دنن او سبا هنداره جوړوي او که چېرې داسې نه وي
، نو هغه ټولنه ، ټولنه نه ده او هغه هېواد ، هېواد نه دی پر یوه توت هم نه ارزي.
په دې کې هېڅ شک نشته چې زموږ پرون هم له مادي پلوه د یوې تشې خولې هېوادو او
نن خو یې د هغې خولې څه ترانګې هم نه دي راپاتې ، خو له همدغو نشتو سره ، سره
زموږ ټولنه د یوه بډای فرهنګ او د اروښتناکو ملي ارزښتونو ټولنه وه او د خپل ملي
هویت د پېژندنې لپاره یې همدومره لرل او بس. له دې سره ، سره چې افغاني ټولنې د
پېړیو په اوږدو کې ونه شول کولای له نړیوال پرمختتلي فرهنګي بهیر سره جوګه شي
خو هغو په خوا نیو او پرونیو فرهنګي میراثونو چې له نړیوالو جولو څخه یې زموږ جوله
بېلوله ، هم کډه را نه وکړه او په یوه تریخ فرهنګي ناتار یې اخته کړو .
زموږ په هېواد کې فرهنګي ناتار د پروني سوسیال امپراطوریا
لېزم له خوا ښکېل له شېبو څخه پیل کېږي او لړۍ یې دا دی تر ننه را رسي.له همدغو
شېبو څخه زموږ د هېواد پرملي فرهنګ
او ملي ارزښتونوژرندې ګرځي.
کلتوري څان پر دیتوب د ټولنیزو ارزښتونو د نیا لګیو د بېخ چینجی دی او زموږ د ملي
ـاسلامي فر هنګ د ستړې ونې په ژورو کې چینجیو هغه وخت ځاله وکړه چې افغا نی
ټولنه د بهرنیو
په لاس ښکېل شوه .سنتونورنګ بدل کړ ، افغا نې اخلاق تر ډېره حده بازاري شول ، پر
ملي دودونو مسخرې وشوې ، ځکه افغاني ادب او هنر اشتراي پوچ اوشعاري ادب او
هنر تراغېزې لاندې
راغلل او ددې کوښښ هم وشو ، چې دافغانانو دهېواد نوی نسل له افغاني جغرافیا لرې
په سرو دسترخوانونورالوی ، پر پر دې فرهن سمبال زموږ د هېواد ته دخپلو سیا سي ،
پوځي ـاو کلتوري
ګټو د سانتې ، تعمیم ا و پراختیا لپاره صادر کړي.
او کله چې بهرني لاسونه دهېواد له لمنې پرې هم شول او ښېلاک پای ته ورسېد نه
یوازې دا چې زموږ پرتېپې فرهنګ او پر وینو سرو ملي ارزښتونو د مداوا پتې ونه
لګولی شوې ،بلکې یو شمېر نورو لاسونو هغه زخمونه هم راته پرې نه ښودل ، ویې
شړول او

د زخمونو پرځای يې غړي او اندامونه ورته پرې کړل.
وموويل چې دوخت سردمدارانو ونه غوښتل چې زموږد ټولنې فرهنګ دې له نړيوال پر مختللي فرهنګ سره جوګه شي اولړتر لږه دې د سيالۍ ميدان ته ورسره ګډ شي ، خوهغه څه چې درلودل موا زموږد ټولنې شپې پرې رڼې وې هم تتې شوې ، پرښوونځيو اوروڼه ولګېدل ، پو هنتونه پر څو کلنو خوبونو ماړه شول ،پر کتابونوژمي تاوده تېر شول او موز يمونه چې زموږد هېواد د پېړيو پېړيو هنداريې اوژوندي کيسه ويونکي وو ، د برده ګانو پر څېر پر بازارونو کې وپلورل شول ، له يوې کوچنۍ تاريخي ډبرې نيولې د احمد شاه بابا تر دښمن څېروونکي تورې اود غا زي اکبر خان تر غازې تو منچې اوان د هېواد د پولو او جغرافيايې حدودو تر اسنادو او تاريخي مدارکو.
اوس اوس چې لږ تر لږه د کابل په ښارکې د راکټونو ستونې وچ دی اود باروتو لوی مو په سرونو راته سيوری نه وي دا دی د فرهنې رغاونې لپاره څه نا څه زړې پر راټو بدو دي او د بيا ودانۍ هيلې مو لا په زړونو ې نه دي وچ ، د ښوونځيو دروازې را پرانيستل شوې ، له پوهنتونونو نه پوځي اډې راټولې شوې او د اطلاعاتو او ژورناليزم يو ژوندی ، متحرک او منظم بهير لګيا دی پر مخ ځي. مګر ستونزې لکه غرونه په لارو کې شنه دي او ستونزو زموږد ملي فرهنګ پر ستونې منګولې خښې کړې دي.
د ماغزو تېښته چې کلونه ، کلونه دمخه پيل شوې ده ، لا پای ته نه ده رسېدلې او دا تېښته هره ورځ پلي کېږي ، د فرهنګي هجرت مزی نه دی راټول شوی ، دا مزی د هرې ورځې په تېرېدو سره اوږدېږي او د نړۍ تر ګوټونو رسي ، هېوادنی فرهنګي کړۍ له دولتي انحصاره نه دی راوتې او د مسوولينو ډيسانت پرې دوام لري او تر تولو لويه غميزه خو دا چې لا تر اوسه په هېواد نيو چارو کې زموږد ټولنې په روښانفکر قشر او د فرهنګ پر ځواکمنو چلوونکو باور منځ ته نه دی راغلی او پر ټولنيزو چارو کې دغو ځواکونو ته د نه په سترکه ليدل کېږي او زموږد هېواد سياسي ـ دولتي ډګر له دغو ځواکونو تش دی ، چې دا چارې پښيمانې راولې ا دا چارې د کمزورتياوو او په هېوادني سطحه کې د نه باور زېږوونکی او د ټولنيز تشتت او لرې والي منځ ته راوړونکی دی.
ميدان لوی دی او لښکر ځواکمن په دې ډګرونو کې د فرهنګ او اندونو د زړورو لښکرو د يون او ځوځون په هيله.

## (( ریگ ویدا )) او اوسني ادبیات

سبا وون لکه د یوې مهرباني مېرمنې په څېر چې هپل خاوند ته په مکېز سره په موسکا وي ، له خپلې ښکلا نه پړونی لیرې کوي.
د سوریا جامې ښکلې وې او داسې ځای ته راغله چې په سندرو سینګار شوې وه.
اندیښنه یې بالښت او فکر یې د سترګو ملم و کله چې سوریا خپل خاوند کره تله ځمکه او آسمان یې د واده جهېز وو.

((ریګ ویدا ))
ځوانه پېغله هغې تنکۍ منې ته ورته ده چې د ترټولو لوړې څانګې پر سر ، سره کېږي ، هغه څانګه چې د منو ټولوونکو له یاده وتې ده. نه ، له یاده یې نه ده وتې ، هغه ته یې لاس نه رسېږي.

ساخو (یونان )

د ونو نور سیوري ،
له د غرونو د کمرونو په شان
له ځایه نه خو ځېږي.
په تور آسمان ککې ستوري
لکه ډیوې بلېږي
یو تور نسیم لکه د یار د خولې د سا په شانته
زما پر مخ لوبېږي
ای شپې !
چې خدایان دې زېږولې دي په خپله لمن
دا څومره ښکلې یې ته ؟
په څومره مینه یې له شونډو نه مچکې اخلې
د مینې لاس دې تېروې زما په زلفو باندې
له چې:
زما په زړه ې پسرلي ګلانو ټولو پورته کړې دی سر
زما د روح په بڼ کې
د سحرونو وږمې

دا دی زما د خولې تاوده اسوېلې
او دی زما د اورنیو هوسونو د ځنګلونو عطر
او ځلېدونکي ستوري
دا هم د سترګو په آسمان کې زما کور لري
رښتیا !
د سمندر زمزمې او که د شپې خاموشې
کوم یو ؟
ستا د آواز انځور دی ؟

زه دې د آواز په ښکالو
خدایږو ښه نه پوهېږم
خو د هغې په اوربدلو سره
بس بې اختیاره تویومه او ښکې
ځکه پوهېږمه چې ستا په زړه کې څه تېرېږي ؟
بېلې تس ( یونان )

غنایي شعر له میلاد نه نږدې شپږسوه کاله مخکې په یونان کې په بشپړه توګه تکوین
مومي ، غنایي شعر دی ، چې د انسان نوې څېره انځوروي ،((د پهلواني د پېر آرمانونه ))
یوه اړخته غورځول کېږي او هغه څه ځان څرګندوي ، چې د فرد
له عاطفي ژوند سره مستقیمې اړیکې لري ، مینه ، ښکلا ، ځو
اني ، پېغلتوب او ...آلته او سافو د دغه دوران له غوره شاعرا
نو څخه دی چې د آلسه آثار لسوټوکو او د سافو نهو ته رسېده چې
دا آثار تر څلورمې عیسوي پېړۍ پورې په لاس کې وو ، چې اوس ، اوس له هغونه یو
شمېر ټیټې بلګې په لاس کې دي.
((بېلې تس هم په لرغوني یونان کې یوه پیاوړې او مشهوره شاعره وه هغه شعرونه چې له
هغېنه پاتې شوي دي ، د نړیو
الو ادبیاتو د لومړي لیکې د آثارو په منځ کې ځان ته مقام تر دلاسه کولی شي .د بېلې تیس
شعر ، په حقیقت کې د لرغوني یونان ، او په هغ وخت او زمانه کې د مینې ، محبت ، ښکلا
او ښیست په باب په ډېر هنرمندانه توګهي انځورشوی تاریخ دی

.))ببلې تس دوه زره شپږسوه کاله پخوا په لرغوني يونان کې ژوند کاوه.
په دې ډول هم دآلسه او سافو شعرونه او هم ببلې تس شعر د يوناند پرمختللي او بډای
فرهنګ ، په تاريخ کې تر ټولو پر
ځای او درنښت لري.د دغو شاعرانو شعري ببلګې کولی شي څرګنده کړي ، چې نه
تکراريدوني،نه زړيدونکي او بيا نهرا هستيدونکي دي.او هغه ښکلا او منځپانګه چې
پردغو((ز
ړو ))شعرونو کې شته د يونان ډېرشمېر اوسني او((ځوان ))
شعرونه سيالي ورسره نه شي کولی.په همدې ډول هېوادونو
دفرهنګ او ادبياتو په تاريخ کې خبره په همدې ډول ده.د زرونو کلونو مخکې ادبيات
دنن ورځې ديوشمېر ادبياتو
په نسبت هغه آسماني ستوري دي ،چې زړښت او ورکاوی يې نشته.
ويل کېږي چې د هومر په شان د شعر ځلانده ستوری تر اوسه د نړۍ د ادبياتو په تاريخ
کې نه دي ځليدلي ، هغه د يوه آسماني موجود په څېر خدآی د ځمکې مېلمه کړ ، يوازې
د دې لپاره چې د (( الياد )) او (( اديسه )) وليکي. هغه څه وليکي چې ت ده د مخه چا
نه و ليکلي او تر ده وروسته يې هم څوک د هغه په څېر ونه شي ليکلی.
هومرله ميلاد څخه(٨٥٠ ) کاله د مخه ژوند کاوه او يا خو يې له حضرت عيسی نه زر
کاله د مخه نړۍ ته سترګې غړولې وې هومر چې ړوند و او د هومر چې د تجربې ، ليد
او لمس لاس لنډو د حيرانتيا خبره ده چې هغه دې دومره ستر شي ، هغه دې دومره جها
نشموله شي ، چې د وروزو ګا لو يه تېريدو سره هم نړېوالو پر زړونو حکومت وکړي او
تلپاتې دې شي. او د ريګو يدا د ليکنې وخت د لوی استاد عبدالحی حبيبي د ليکنې له
مخې د يو نيم زر کاله قبل الميلاد په شوخوا کې اټکل کېدای شي. د مير غلام محمد
غبار له ليکنې څخه څرګند ېږي ، چې(( ريګ ويدا )) د ميلاد نه د يو نيم يا دوو زرو
کالو مخکې دوره کې په افغانستان کې منځ راغلی دی او بيا په هند کې تکميل شوی
دی.
پورته مو د يونان د غنايي ادب(( او حافظ او ګوته )) يادونه وکړه او دلته د ريګ ويدا
پر مذهبي کتاب غږېږو مقصد د دغو ادبي بهيرونو سره پرتله کول نه بلکې خبره د هغوی
پر بډايني او تلپاتي توب ده او خبره د هغوی پر لوړ شاعريت او هنريت ده ، چې دا
ستري پانګې ولې د پېړيو ، پېړيو په تېريدو سره زړې نه شوې ، او نه يوازې زړې نه
شوې بلکې د هغوی په پرتله بډای ادب بيا رونه زېږېد .
ومو ويل چې ريګ ويدا يو مذهبي کتاب دی او جزمي عقيده څرګندوي:

ای سومه ! هلته چې ځلا هېڅ نه ورکېږي
او هلته چې د ځلا آسمان تل ځلېږي
هلته چې د بقا بې زواله ټاټوبی او ورشوده
ای سومه ! ما د همېشه لپاره هلته بوزه ،

. . .

هلته چې ټولې غوښتنې او هیلې تر سره کېږي
د لمر هغو لیرو ، لیرو وړانګو کې ...
هلته چې د طلب لاره پای ته رسېږي
ای سومه ! هلته ما ته بقا راکړه

. . .

هلته چې (( ویو سوته )) پاچا دی
هلته چې د آسمان د ننه آخرنی ټاټوبی دی
هلته چې د بقا زلالې اوبه دي ...
ای سومه ! ما ته هلته بقا راکړه

د ریګ ویدا په دې ډول سرودونو کې وینو چې مذهبي اندونه د هیلو ، دعا او نیایش په ډول او دویرونو او مرثیو په ډول په خوږو او زړه راکښونکو الفاظو کې داسې رانغښتل شوي چې زموږ د اوسني او پروني څرګندونو له پلوه میلاد نه دمخه زموږ آریایي سرودونه او له میلاد نه وروسته ترهمدې
دمه زموږ اوسني مذهبي شعرونه د عبادت ،اطاعت او مذهبي
هیلو له مخې یو څه نږدې اړیکې سره لري.د ریګ ویدادا ډول مذهبي سرودونه داڅرګندوي چې زموږ اریایي نیکونو ته دانړۍ چې ژوند یې پکې کاوه د هغې بلې دنیا پر پرتله ارزښت نه ورته درلود او ډېر له خپل مرګ څخه هم نه وېریدل او نن همداسې ده.زموږ د پروني نسل او زموږ د اوسني نسل صوفیان او عارفان شاعران هم کټ مټ همداسې انځورونې او اندونه لري چې زموږ دغه شعرونه ،اندونه او انځورزنې له هغو سرودونو سره ډېره لګولی شي مګر ترې اوچت نه دی:
په دنیا کې هیڅوک نه دی پاتې شوی
واړه تلونی دي که نن د ي که سبا
په دنیا کې که څه کار دی خو ددین دی

ددې کار په کننده وو آفرین دی
چې تقوا او دیانت یې شي په برخه
د هغو د سعادت ستوری قرین د ی
چې په خواست د حاجت پورته کا لاسونه
د آسمان د ملایکو پرې آمین د ی
* * *
دوباره دې راتله نشته په دنیا
نن د ې وار د ی که دروغ کړې که رښتیا
* * *
د دنیا په بازار کښېږي دهغه جهان سو دا
دنیا کښت د آخرت دی داخبره ده رښتیا
رحمان بابا

الهي عقبی ده که از دنیا بیزار شویم
و توفیق طاعت ده که در دین استوار شو یم
الهي نگهدار تا پریشان نشویم
و براه آرتا سرگردان نشویم
الهي تو ساز تا دیگران ندانند
و تو نواز تا دیگران نتوانند
الهي تو بساز کار من
و سنگر بر که دار من
الهي دلې ده که شوق طاعت افزون کند
و توفیق طاعت ده که بهشت رهنمون کند
خواجه عبدالله انصار

اوریگ ویدا د خپلو مذهبي او جزمي عقیدو په شاعرانه څرګندولو سره ، سره یې په ځینو ځایونو کې د فلسفي شک نښې هم لیدل کېږي:
هغه بې جسمه رب النوع چې اجسام یې پیدا کړي دي څوک دی ؟ نفس او وینه د ځمکې زېږنده دي اما روح له کومه ځایه راغلی دی ؟
-زه په خپله نیم ګړې پوهه او ناقص عقل د دغسې شیانو په باره کې پوښتنې کوم چې حتا ارباب النوع هم پرې نه پوهېږي.

په بل ځای کې د آسمان او ځمکې په باب پوښتنه کوي: ((کوم یو وړاندې او کوم یو وروسته و ؟ څنګه پیدا شول ؟ ایا هوښیاران و ! څوک په دې خبره پوهېدلی شي ؟)).
او له ریګ ویدا نه وروسته هم زموږ د سیمې د ډېرو فلسفي شاعرانو په شعرونو کې همدا سې اندونه ځای شول او بېلا بېلو ډولونو کې سره راونغاړل شول.
زموږ د سیمې تر ټولو ستر فیلسوف شاعر خیام په شعرونو او ترانو کې هم نږدې همدا سې پورته یادې شوې فلسفي شکونه په سترګو کېږي. دنیا څنګه پیدا شوه ؟ له کومه ځایه راغو او چرته ځو ؟ دا هغه سوالونه دي چې د خیام شعر یې زمږ پر وړاندې ږدي.
خیام موږ ته وایي چې کاینات دا سې معما ګانې دي ، چې نه به یې دین او نه علم هل کړای شي. هیڅوک به دا زل په
اسرار و پوه نه شي او یا خو اصلا اسرار وجود نه لري او که موجود هم وي زموږ پر ژوند اغېزې نه شي درلودلای:

چون نیست مقام ما درین د هر مقیم
پس بې مې و معشوق خطایي است عظیم
تا کې ز قدیم و محدث امیدم وبیم ؟
چون من رفتم جهان چه محدث چه قدیم

- ای بیخبران شکل مجسم هیچ است
وین طارم نه سپهرا رقم هیچ است
خوش باش که در نشیمن کون وفساد ،
وابسته یک دمیم و آنهم هیچ است

-شادي بطلب که حاصل عمر دمی است
هر ذره زخاک کیقبادي و جمي است
احوال جهان و اصل این عمر که هست
خوابی و خیالی و فریبی و دمی است
خیام

په همدې ډول زموږ په ژبو کې تر اوسه هم په دې ډول شعرونه هستېږي او هست شوې دي چې د ریگ ویدا د دې ډول شعرونو ارزښت ، فلسفه او ښکلا ترې کمه نه ده .
ریگ ویدا له مذهب او فلسفې نه پرته د ژوند او طبیعت د ښکلاوو او بدرنگیو او د غم او خو ښۍ له نورو برخو نه هم تش نه دي .
دا ستا د بېنوا دیوې لیکنې له مخې (( آریایي نیکه گانو چې ځوزره کاله پخوا یې دلته ژوند کاوه یوه ډله لار ښوونکي شاعران درلودل چې د دوئ په اصطلاح یې ((ریشي )) ورته ویل ، دې ریشي گانو به د خطیبانو او علماوو وظیفه اجراء کوله او کله به یې د ساقي او بزمي شاعر په توگه مجلس تودا وه ... د ژوندون د هرې چارې لپاره یې مخصوص سرودونه درلودل ،چې د دې سرودونه څخه د هغه وخت د خوښي ، سرور او یا غم او حزن افکار او احساس ښه ځرگند ېږي .
... )) .
هغه خپل ځان سینگاروي او د لمر په وړانگو کې داسې ځلېږي لکه د ښځوډلې چې د جشن مېلې ته رواني وي .
او د ریگ ویدا سرودونه په همداسې شاعرانه پوړیو کې تاوېږي او را تا وېږي .ژوند ،مینه،ښکلا ، طبیعت او ابدیت راته د شاعرانه ، نه زړیدنکې تخیل په وزرونو کې رانغاړي او په همد ې سرودونو کې کولالی شو ، انساني روح د هغه له تیلو بعدونو سره په هغه کې ومومو ، او همد غه ((زاړه تشبیهات )) او((زړې استعا رې )) کولالی شي پېړۍ ، پېړۍ نور هم نه وې پاتې شي .
-ای آگنې !ستا سر کښه لمبې ځنگل له منځه وړي، کټ مټ همغسې لکه وحشي ژوي چې په خپلو غاښونو سره واښه له منځه وړي .
-هغه ( ونې ) په خپله ژبه ( لمبې ) کړوي او په ډېر پرتم سره ځلېږي ، اگنې په ځنگلونو کې ځلېدونکی ښکاري .
نوټ : اگنې د اور په معنا ده .
-ولاړ شه ! هر څه چې ستا په برخه وي هغه مو ومومه . که ستا په برخه دا وي ، چې په اوبو کې ولاړ شي په اوبو کې څه او که ستا په قسمت دا وي چې په وښو کې و اوسې نو د وښو په منځ کې خپل د هستو گنې ځای وموه .
-کوم پرهېزگاره سړی دی چې د گهېځ وړانگو ته کالي اغوندي ؟او گورئ د سوریا (دلمر لور)د واده په باب سندره کې تشبیهات او تخیل :
((د سوریا جامې ښکلې وې او داسې ځای ته راغله چې په سندرو سینگار شوې وه .اند ېښنه یې بالښت او فکر یې د سترگو ملهم و .کله چې سوریا د خپل خاوند

(مېږه )کره تله ځمکه او آسمان يې دواده جهيزوو ،سندرې يې د ګاډۍ تختې او د شعروزن يې د تختو پوښ و.سوريا چې د خپل خاوند کورته تله د خپل روح په ګاډۍ کې سپره وه... ) ).

اوراشئ چې پرتله کړو خپل يو شمېر معاصر داد شلمې پېړۍ ادبيات دا د يو نيم زر او يا خو دوه زره کالو له ميلاد څخه دمخه ادبياتو سره چې ښايې ناشونې وي او ستونزمن. په دې هکله ،د خبرو دلنډون،د خپلې پوښتنې د ځواب او دموضوع دانسجام لپاره د کانديد اکاډمېسين استاد روهي پر دغې نتيجه اخيستنې ټينګارکوم چې :((ريګ ويدا کې ادبي تعبيرونه،تشپيه ګانې اود شکل ښکلا زموږ له اوسنيوادبياتو څخه بيرته نه پاتې کېږي اوله د ې څخه دا حقيقت په ښه توګه څرګندېږي چې د هنر روښنا ځانته نسبي خپلواکي لري

) )او دهنر دغه نسبي خپلواکي زموږ دسيمې په ادبياتو کې ډېره مطرح ده چې دا موضوع اوږد او بل ځانګړ يبحث غواړي،که ژوند و او حوصيله وه غواړم په دې باب له خپلې وسې سره سم اود خپلوو استا دانو په لارښونه څه مفصله غوندې ليکنه وکړم.

اوس همدومره

ماخذونه:

ـ زيبا يي و پيدا يي آن عبد الله نايبي ، ۱۳۲۱ کال.

ـ له برهوت نه((دبېلي تس ترانې ) )عارف خزان،د افغانستان ليکوالو انجمن ۱۳۲۹کال.

ـ د ادب او فولکلورپه باره کې استاد روهي،۱۳۶۵کال.

ـ آريايي ـ پارسي ـ پښتو ويرني ، استاد بېنوا ،۱۳۶۳کال.

ـ ګزيده سرود هاى ريګ ويدا ،د رضا جلال ژباړه ايران چاپ ۱۳۴۸کال.

ـ د رحمان بابا دېوان،۱۳۲۱.

ـ مناجات مقالات خواجه عبدالله انصاري، د تهران چاپ.

ـ ګزيده اى از ادب فارسي، د صادق هدايت مقاله،د ايران چاپ ۱۳۴۹کال.

## حافظ د اثار وسرود های گوته

یوهان ولفا نگانک فون گوته ملک الشعرای المان و نمایشنامه نگار یکی از بزرگترین شعرای جهان و مایه افتخار ادبیات جهانی است که بزرگترین نویسنده گان و ادب شناسان جهان او را به نام های پدریا مبتکر افکار بکرو نو در سرایش شعر بزرگترین ناقد اصر ، استاد برجسته هنر نمایشنامه نویسی و نابغه علم و ادب گیتی دانسته اند . آثر این دانشمند بزرگ بالغ برچهل و چهار فقره گردیده. شاهکار هایش عبارت اند از: داستان ورته ، نمایشنامه های فاوست ایفی گنی به نثر ، افی گنی به شعر ، اگمونت ، گوتس پون بر لیشینگن ، دیوان شرقی و غربی ، ویلهلم مایستر سالهای کار اموزی و سالهای سیاحت و استادی که مصروفیت جهانی دارند . نظر به اینکه بر اثر جاه طلبی نا پلیون اول از انتهاي قرن هجدهم قراه اروپا میدان ، میدان جنگ های خونین گردیده بود و ممالک مقتدر غرب یکی بعد از دیگری سقوط میکرد و همه جا آتش و کشتار وو ایرانی غوغای سیاسی در سال ۱۸۱۴ به گوشه نشینی پرداښت و خودرا به مطالعه آثار شرقی سر گرم سخت.

در این دوره که از بهترین دوره زنده گی اش بود کتاب های حاوی ادبیات مشرق زمین به دستش رسید که قسمت عمده آن برایش تازه گی داشت: از قرآن تا شاهکار های نظم و نثر فارسی و ترکی همه را از زیر نظر گذرارانید و از آنها الهام گرفت که دیوان حافظ بیش از همه الهام بخش او گردید : زیرا مشابهت روحی خود را با حافظ به خوبی .هس کرد .

شاعر آلمانی مضامینی را که از کتاب های اسلامی و ایرانی و ترکی اقتباس کرده در قالب عالیترین اسلوب منظوم المانی ریخته و شاهکار نغز و دلنشین پر از حکمت و ارشاد و عشق و محبت بوجود اورد که نظیر آن را دارد بیات هیچ یک از ملل غر بی نمیتوان یافت این شاهکار همان کتابیست که ((دیوان شرقی و غر
بی ) )نام دارد گوته با انتشار((د یوان شرقي ) )همه يي اروپا را ستا یشگر حافظ که ((دیوان شرقی ) ) را پدید اورد ،(( همراه با عشق زن زیبایی بود که باید اورا((شاخ نبات ) )گوته شمرد و خود شاعر بدو نام((دلدارشیرازی ) ) خویش داده بود ) ).

گوته که بعدها خود به نام(( حافظ اروپا ) ) شهرت یافت چندی پیش از مرگ خود در یک شعر معروفش گفته بود : ای حافظ !ارزوی من آن است که خود را از مرید ناچیزی از مریدان تو شمارم.

گوته حافظ رادرسال ۱۸۱۴از روی ترجمه ناقصی از دیوان او که توسط (( ها مر پور گشتال ) ) به زبان آلمانی در (( وین ) ) پایتخت اطریش منتشر شده بود شناخت. این

ترجمه نه کامل بود و نه صحیح ولی کافی بود تاآن آتش تجانس روحی را که میان حافظ و گوته وجود داشت دامن زند و شاعر آلمانی را در خود بسوزد . به قول خود گوته ای حافظ همینکه جرقه ای برای آتش زدن وسو شهر بزرگ کافی است ، از سخن شور انگیز تو چنان آتشی بردلم نشسته که سرا پای این شاعر آلمانی را در تب و تاب افگنده است.
گوته در این زمان دست از همه مشاغل خود بشست و تحت تاثیر روحانی شدید حافظ ،همه چیز را فراموش کرد و کنار گذاشت تا فقط په حافظ اندیشت و با او سر گرم باشد :
(( ای حافظ ! سخن تو همچو آبدیت بزرگ است ، زیرا آنرا آغاز و انجامی نیست. تو آن سر چشمه فیاض شعرو نشاطی که از آن هر لحظه موجی ازپس موج دیگر بیرون میتراود . دهانت همواره برای بوسه زدن
وطبیعتت برای نغمه سرودن و گلویت برای باد ، نوشیدن و دلت برای همرورزیدن آماده است. اگر هم دنیا بر سر اید ارزو دارم که تنها ، ای حافظ آسمانی ! با تو و در کنار تو باشم و چون برادری تو ام در شادی غمت شریک کنم ، همرا تو باده نوشم. و چون عشق ورزم ، زیرا این افتخار زندهگی من و مایه حیات من است )).
(( دیوان )) او که در طول دو سال سروده شده است ، و گوته به تقلید از حافظ این نام را به آن داد شامل دوازده کتاب است که گوته آنها را به اسامی فارسی یانی به آسامی مصطلح در زبان فارسی ، نامیده است و عبارتند از مغنی نامه ، ساقی نامه حافظ نامه ، عشق نامه ، فارسی نامه ، تیمور نامه ، خلد نامه ، مثل نامه ، حکمت نامه ، تکفیر نامه ، زلیخا نامه ، این (( زلیخا نامه )) که مفصلترین کتاب (( دیوان )) مربوط به خانم (( ماریا نه فون ویلمر )) است که گوته او را به پیروی ازین شعر حافظ که (( عشق از پرده عصمت بیرون ارد زلیخا را )) زلیخای خود نام داده بود تا به قول خودش نام با خاطر اعجاز عشق قرین باشد ، زیرا ولیخا خود با اعجاز عشق یوسف جوان شده بود و این بار گوته بود که با اعجاز عشق ماریا نه جوان میشد .ماریا نه درین هنگام هفده ساله است و گوته شصت و پنج ساله بود عجیب این بود که این زن زیبا و جوان قریحه یی شاعرانه یی چنان عالی داشت که گوته چند قطعه شعر او را ضمیمه دیوان خود انتشار داد و هیچ کس نتوانست بفهمد که این قطعات از خود گوته نیست گوته (( زلیخای )) خود را با پیر مرشدش حافظ آشنا کرد و (( زلیخا )) نیز مانند خود او با یک تجانس روحی خاص سر ارادت در آستان حافظ نهاد .
از آن پس نامه های ایند وکه در مجموعه های گوته منتشر شده ترکیبی زیبا و بسیار شاعرانه از ابیات و مصراع های حافظ است ، وگویی آیند ونفر واقعاَ (( حافظ ))

و((شاخ نبات ) )اویند که بعد پنج قرن از شیراز به فرانگفورت سفر کرده اند ،گوته خود در شرح و حواشی دیوان مینویسد :
((برای پیام های واقعی عشق ،هیچ کتابی شایسته تر از دیوان آسمایی حافظ شیر از نیست ) ).
یکی از نامه های زلیخا و گوته ،حکایت از شبی می کند که مراسم جشن شصت وهفتمین سال تولد شاعر در خانه((ماریانه ) ) با شرکت شوهرش و دوستان مشترک این زن و شوهر وگوته در((گرب موهله ) ) بر پاشد .((بوه اسره ) ) دوس صمیمی گوته که خود شاهد این جریان بود درین باره مینویسد :((همه باغ را با گلها ی مشرق زمین اراسته بودند .ماریانه وخانم اشتا دل دو سبد بزر
گ میوه و گل معطربرای گوته اورند .روی هر کدام ازین سبد ها پارچه یی زربفت و ابریشمین بانقاشی های شرقی گذاشته شده بود ودر کنار یکی از انها ،خانم آشتادل تصویری از خانه گوته ر در فرانگفورت کشیده و در زیرآن ترجمه دو شعر حافظ را نوشته بود:
عشق گوته باماریانه ، شاعرانه ترین و جالب ترین عشق دوران زنده گانی او بوده ، زیرا این عشقی بود که او را از زاد گاه غربی او دور کرد و ازاروپا ی مه آلود قرن نزدهم به شیر از آفتابی وزیبای پنجصد سال پیش از او برد تا در آنجا بزرگترین شاعر آلمان ، سرارادت درپای حافظ شیر از نهد .این عشق گوته باما ریانه که همزمان باعشق رو حانی او به حافظ بود ، از لحاظ شاعرانه یی که از ان به بار آمد ،یکی از ثمر بخش ترین عشق های تاریخ ادب است ،زیرا که اروپا از صد وهفتاد سال پیش تا اکنون ،حافظ مارا از رویاثر بزرگی شناخته که گوته به نام((دیوان شرقی و غر بی ) ) ساخته است واین دیوان سرا سر زاده تاثیر عمیق حافظ شیر ازو ((مار یانه ) ) برروی شاعر است و این گوت است که اروپا و دنیا یی را شیفته حافظ کرد .
((هجرت ) )یکی از قصاید دلنشین و معروف گوته است که در آغاز اثر جاودانی اش ((دیوان شرقی وغر بی ) )خود نما یی میکند و این قصیده حاکی از این است که وی در عالم خیال بیشتر به شیر از سفر کرد .تا در آنجا برای ارامش روح خود دلبری بیابد ،ودر جوارش شور شاعری را از سر گیرد .گوتهدر قسمتی از این قصیده خطاب به حافظ میگوید:
حافظا !در فراز و نشیب راه دشوار کوهستان منظومه های دلنشینت دلدریم میدهد ،آنگاه که سارباني بر پشت بلند اشتر ی می نشیند و آنها رابا نوای دلکشی میخواند ،

طوریکه ستاره گان((خواب آلود آسمان را )) بیدار میکند وراهزنان را به وحشت می اندازد.
ای حافظ مقدس ! چقدر زنده نگگهداشتن یاد تو در گرما یه و میخانه برای من شیرین است.وحتی آنجا یکه محبوبه رو بنده یی خود را بالا میزند وطره زلف عنبرینش رامی افشاند و عطردلا ویز آنرا انتشار میدهد باز هم میخواهم درباره تو بیندیشم.گوته در هشتاد دو سه سالگی (۱۸۳۲) دیده از جهان فروبست و همای روحش را به دیار عشق برگترو معنوی تر فرستاد ، تا آنجا که یک نویسنده بزرگ آلمانی گفت:(( در هیچ دوره یی از تاریخ جهان ، هیچ شاعری را نمیتوان یافت که نسبت به شاعر کشور دیگر نظیر تجلیلی راکه گوته از حافظ کرده به جاءآوره باشد )).
ماخذ : منتخبی از زیبا ترین شاهکارهای نظم ونثرازادبیات آلمان.

ژباړه :

# يوازې د حقيقت ايينه ؟

فلوبر وايي (( تل بايد په ياد ولرو ، چې د هغه شي له مينځه وړل، چې شخصي وي د قدرت نښه ده .
موږ بايد پديدې ومومو ، پديدې بايد په موږ کې رسوخ وکړي او له موږ څخه بهر ووځي ، له دې څخه پرته چې څوک دې له دې لارو چارو څخه خبر شي .
زموږ زړونه يوازې بايد د نورو زړو نه حس کړي .
موږ بايد هغه آيينه و اوسو ، چې له خپلو ځانونو څخه بهر حقيقت منعکس کړي )) .
ـ (( اکثريت )) له خپروني څخه پښتو ژباړه او لنډونه

طنزونه

سوالا ، جوابا
دا خو سمه ده ، چې يو شمېر اشخاص په نورو اشخاصو تور او تومت لګوي ، خو هغه څوک دي تش په تشه د يوه ښار په خلکو تومت کوي او تور پرې لګوي ؟
ځواب:
د تلويزيون د خپرونو اداره ! همدا چې د خپروني لپاره يې نوي څه ونه موندل، په آسانۍ سره اعلاموي ، چې د ادې د ښار د اوسېدونهکو د بيا بيا غوښتني له امله هماغه او دغه خپرونه او فلمونه بيا نشر ته سپارو . خو خبره دلته ده ، چې هغوی نه يوازې پر خلکو تومت لګوي ، بلکې د احسان پنډونه پرې هم ږدي .
سوال: ته خو پوهېږې چې له ليکوالۍ سره ډېره مينه لرم ، خو دا ډېر لوستل مې له واکه نه دي پوره ، څه بايد وکړم ، چې سره له دې هم ډېر ژر ليکوال شم او ډېر ژر شهرت ته ورسم ؟
ځواب: دا خو ډېره آسانه خبره ده ، يا طنز ليکونکی شه او يا هم کره کتونکی !
سوال: د خپلو ببکاريو ،سوء استفادو او ګناهونو د پټولو لپاره نن ورځ تر ټولو ستر پوښ او ماسک کوم دی ؟

ځواب:
جګړه !

## پچه

زموږ د ښار ژوبڼ ته د یوه بهرني هېواد د ژوبڼ له خوا رسمي بلنلیک کې لیکل شوی و ، چې د دې هېواد د ژوبڼ د سندغاړو په نړیوال فستیوال کې باید ستاسو د ژوبڼ آمر او یو تن تکړه او نامتو سندرغاړی برخه واخلي.
د ژویو ورځنۍ جلسه جوړه شوه. د ژوبڼ آمر ، چې یو دوولس کلن خراس ( نر چرګ ) و د جلسې اجندا ولوستله او بیا په فستیوال کې د برخه وال سندرغاړي د ټاکنې پخ هکله خبرې وشوې ، لومړې بلبلې ، بیا زرکې ، بیا سایرې او بیا قځلاخ د نورو په نمایندګۍ د فستیوال د اهمیت او په هغه کې یې د ګډون په خاطر وینا وې واورولې او بیا یې یو په بل پسې ځانونه کاندید کړل.
دبرخه وال سند رغاړي پر ټاکنې غا لمغالونه ډېر پورته شول، پاپیانو ،پیلانو او پیل مرغانو هر یوه ځان تر ټولو غوره سندرغاړیباله او تر ټولو مستحق.
پرېکړه وشوه چې پچه دې واچول شي .پچه واچول شوه او له دې پچې څخه تر ټولو ښه سندرغاړې بلبله بریالۍ راووته،خودې کار پر آمرځه اغېزه ونکړه او په دې بانه چې بلبله له یوې میا شتې را
هیسې د هګیو امیند واره ده،دصحي ځانګړنو له امله د سفر حق نه لري.بیا چانس د زرکې په برخه شوه او پچه یې وګټله،خو زموږ د
ژوبڼ آمر په دې بانه،چې زرکه یو کال د مخه د درې ورځو لپاره برکلي ته مېلمستیا تللې وه، د زرکې له ټاکل کېدو یې سر وغړاوه.
د پچو اچول ځو ځوځله تکرار شول اود تصادف له مخې په نوبت سره ښتینی سندر غاړی لکه سایره، قځلاخ او نور بریالي شول ،خود آمر ټنډه پر یوه هم خلاصه نه شوه.
خبره په پچو حل نه شوه،پر سبا د رسمي امر له مخې په فستیوال کې د ګډون لپاره د ژوبڼ له آمر سره خر ټاکل شوی و.
بیچاره بلبله او زرکه پر دې نه پوهېدل،چې دژوبڼ آمر فستیوال ته د تګ لپاره سندرغاړي ته نه بلکې پنډ کچي ته ضرورت درلود.

## مسابقه

دبلبلې او چرګې تر منځ شخړه پېښه شوه.بلبلې وېلې چې د الوتونکو له ډلې نه د نړۍ پر مخ تر ټولو خوږژبی سندرغاړې ده،خو چرګې به لکۍ شخه کړه او سترګې به یې په مخ کې ښخې کړې او ویل به یې نه د نړۍ پرمخ تر ټولو ښه سندرغاړې ده.د دواړو تر منځ شخړه اوږده شوه تر څو دې پرېکړې ته ورسېدل،چې دواړه دې امتحان ورکړي او مسابقې ته دې کېني.د کلي د مرغانو او حیواناتو د یوه ګډه هیات تر مخې تر سره شي او وړونکې دې وټکل شي.
مسابقه پیل شوه،بلبله د سپرلیو د ګلونو پر څانګو کېناسته او په پسرلنیو سندرو یې پیل وکړ.بیا چرګه پرډېران وخته او کریغې یېیو په بل پسې د کلي انګړډک کړ.څو شېبې وروسته ژوري هیات چې ریاست یې د کلي د پشکې په لاس کې و ،دمسابقې نتیجه اعلان کړه :بلبله صفر ،چرګه لس او آفرین.
بېچاره بلبله نه پوهېده، چې چر ګې ژوري هیات ته په اوونۍ کې د پنځودانو هګیو وعده ورکړې وه.

## ښه شوچې مړ شو

تر اوسه به لږ داسې څوک ولیدلی شي ، چې هغه دې د میر زا قدوس خان له نوم او خصوصا دهغه له نایابه اوډېرو په زړه پورې شعرونو سره مینه او پېژند ګلوې ونه لري.
ما تر اوسه ډېر شمېر شاعران لیدلي دي اوله ډېرو سره ناسته ولاړه لرم،خو یو یې هم میرزا قدوس ځان ته نه شي رسیدلای.میر
زا قدوس خان اوس ،اوس په خپله شعر دېویني اورګونه یې په شعرونو بدل شوي د ي او له هر پښتو رګې یې شعر څڅېږي.
همدا چې فلانی سیاست مدار په جنوبي افریقې کې له زندان نه خوشې شي ،دنړۍ ډېرستر ژورنالستان لا پرې خبر نه وي ،چې میزا قدوس خان ورته له وخته شعر لیکلی وي ،همدا چې دنړۍ په یوه ګوښه کې زلزله وشوه او یا سېلاب راغی نو میزا قدوس خان لکه کونګ خوب لیدلی وي او شعر یې ورته لیکلی وي او زه چې په یوې ورځپانه کې دشعر او ادب د برخې مسول یم وای پر ما چې هغه دې په همغه ورځ چاپ نه کړم...
میرزا قدوس خان پرون هم یو بل شعر لیکلی و او ماته یې د خپرو
لو لپاره راووړ،دا شعر هم بې مناسبته شعر نه و ،د یو چا حق یې ور ادا کړی و ، هغه هم د هغه چا له مرګه وروسته د شعر پر ټنده یې په غبرګو کرښو لیکلی وو:اهدا ګران انقلابي

ملګری عبد الرزاق ته ! عبدالرزاق ما هم پېژنده او ده هم، هغه له دښمن سره په مخاخ جګړه کې شهید شو، خو ملګری نه و. یعنې د کوم سیاسي سازمان غړیتوب یې نه درلود. ما میرزا صاحب ته وویل: ګران شاعر صیب !د شهید حق خو دې ادا کړی دی، کور د ې ودان، خو راځه چې د ملګري کلمه ورنه وباسو، ځکه هغه ګوندي ملګر ی نه د ی. زما پدې خبره د هغه رنګ ژېړ شو، سمد لاسه یې په شعرمنګولې ښخې کړې. خیرې، یې کړ او له سېلیو سره یو ځای یې وویل:

حیف زما پر ارزښتناکه وخت، چې پرې ضایع مې کړ. ښه شو چې مړ شو، ما فکر کاوه، چې ملګری به وي.

هو کې !دا دی زما چار او دا دی زما کار او سرو کار مې له داسې شاعرانو سره.

ځون سرزوری د ی؟

د هېیوال صاحب د یا د ښتونو نو په کتا بچه کې مې لوستی و، چې وایي وخت او زمان لکه د ګړۍ ستن تل په حرکت د ي او هېڅکله نه درېږي. د دې خبرې په اوربډ و سره ګلشاه، چې په سرزوري مشهور د ی، اعتراض درلود او غوښتل یې چې په خپلې سر زورۍ سره وخت او زمان په ټپه ودروي. بې له ځنډه یې خپله لاسي ګړۍ را خلاصه کړه او په تیره یې ووهله.

ګلشاه فکر کاوه، چې په د ې ډول به وخت او زمان په ټپه ودروي. خو خپله ګړۍ یې په ټپه ودروله او د هغه د سر زورۍ خلاف اوس هم په شپه پسې ورځ او په تیارو پسې روښنایي روانه ده.

خو نه پوهېږم چې هېیوال صاحب خبر د ی که نه چې له ګلشاه نه هم داسې سرزوری شته، چې دوخت په ټپه درول خو لا څه کوي، چې آن د مړ شوي وخت بېرته راژوندي کول غواړي.

وایي په پخوا زمانو کې دآسې پاچا هان وو، چې دوه وزیران به یې درلودل. یو یې د ښي لاس او بل یې کیڼ لاس وزیر. د ملت برخلیک فقط په همدوئ پورې اړه لرله، وژل، تړل ټول د دوی په لاس کې وو، هم څارنوالان وو او هم قاضیان.

خو دغه دوه پېړۍ، پېړۍ راهیسې مړ شوی او څادر یې ټول شوی د ی او جمیل عبد الرحمن خان چې د ګلشاه سر زورۍ په نس کې ځایوي ملا تړلې ده، چې مړ وخت بېرته راژوند ی کړي، په خپله پاچا شي او دښي او کیڼ لاس وزیران ځان ته وټاکي، هم پولیس شي، هم څارنوالان هم قاضیان او هم جلادان، چپه یې چپه ده او راسته یې راسته، خو په دومره توپیر چې پخوانیو پاچا هانو به په یوه ملت پاچاهي کوله او دوئ یې په څوکلیو کو ي هغوئ د تخت او ماڼیو څښتنان وو خودوی پاچا هي په غارونو او کنډوالو کې

کوي خوه هرڅه چې د ی په گلشاه خو سر زوري شول او لږ تر لږه يې خو مړ وخت راژوندی کړ او له هغې ورځې يعنې د جميل عبد الرحمن دپاد شاهۍ له پيل او دهغه د سر زورۍ له امله د هغه په ټول ((قلمرو ) ) کې د ورځې په ځا ی شپه اود رڼا پر ځای تياره ده.

ولې مې له شعر نه زړه تور شو ؟

هغه خو م ې له پخوانه پېژانده چې شاعردی، کيسې ليکي،ژباړې کوي، د کوچنيانو په ادبياتو کې هم لاس وهې او نور داسې هنرونه هم لري. او په همدې ډول مې په ځينو مشاعرو کې چې گډون کړی د ی،د هغه له خولې نه مې شعرونه اورېدلي او لاسونه مې ورته پړکولي دي، خو هغه ما نه پېژني ،ځکه چې هېڅکله ورسره خبرو او غورو ته نه يم مخامخ شو ی او شاعران خو مجبور هم نه دي چې د خپلو شعرونو ټول اورېدونکي وپېژني.خوزه هغه له تولونورو شاعرانو نه ډېر پېژنم او څېره يې داسې زما په سترگو کې انځور شوې ده، چې چرې به يې هم ترې لېرې نه کړي اودا انځورونه هم يو تاريخي دليل لري، چې زما په زړه او ستر گو کې
همېشني شوي دي.هغه دليل داسې ده:
د ښارپه يوه لوی بڼ کې ډېر شمېر لوی او واړه شا عران سره يو ځای شوي وو او مشاعره يې کوله.هر شاعر په خپل وار جگېده او خپل شعر يې لوست يو به خوندورو ، بل به بې خونده.يوه ته به لاسونه پړکېدل او په يوه بل به پرزې تلل،څو چې وار ياد شوی شاعر چمبول خان ته ورسېد.
همدا چې ستېج پورته شواو غاړه يې تازه کړه وار ترې ورک شو ،رنگ يې لږ سپين غوندې شو او ويې ويل:درنو شاعرانو زما د پسر لي نوم د ی شعر ،ټول سره هک پک شول،لومړی خو پوه نه شو ،چې وروسته وپوهېدو چې شاعر غوښتل وو ايي زما د شعر نوم دی پسر لی.خم ښا يي هغه وارخطا شوی وي،شعر يې ولوست ، د دې لپاره چې ورځينې تللی جرات ببرته ورکړ شي،ټولو حق او نا حق لاسونه ورته وپړکول.شعر پای ته ورسيد ،خو بيا هم همغه لومړۍ خبره تکرار شوه.په آرامه لهجه يې وويل:ستاسو له مننې نه توجه او بيا ټولو پرې غور وهل.
له همغې ورځې هغه زما په ستر گو کې نقش د ی او څېره مې ورته له ياده نه وځي.ما تل دا سوچ کاوه چې هغه بې جر اته شاعر دی.يوه ورځ په ملي بس کې له هغه سره مخآمخ شوم.هغه څوکۍ موندلې وه او آرامه تکيه يې پرې کړې وه او د يوه نوي چاپ شوي کتا ب پاڼې يې اړولې او له ډېرې مينې يې ورته سر خوځا وه اوچق چق يې ورته کاوه.

لومړی مې سوچ وکړ چې دکوم ستر شاعر نوې شعري مجموعه يې موندلې ده، چې په همدې سروبس موټر کې يې هم بې له لوستلو نه پرېږدي،لولې يې او سر ورته خوځوي.ناڅاپه مې پام شو چې د ده خپل کتاب دی.د کتاب په لومړي پشتي کې ليکل شوي و:د چمبول خان د شعرونو مجموعه او په څلورم پشتي کې د ده خپل عکس اولنډه پېژندنه ګلوي هم خبره شوې وه.

نږدې ورغلم روغبړمې ورسره وکړ اود کتاب دچاپېدو مبارکي مې ورکړه.خو هغه له ځان نه منکر شو او ويې ويل چې زه چمبول خان نه يم.ای کاشکې چې زه خو د چمبول خا ن د پښوخاورې قدر وای.هغه زموږد زمانې تر ټولو ستر شاعر د ی او نور شاعران يې خو ګرد ته هم نه شي رسېدلای.ورته مې ويل:چمبول خانه !زه خو تا پېژنم،په تلوېزون کې مې ليد لی يې او په مشاعروکې هم.

همدا خو ته په خپله يې له ځان نه ولې منکرېږې؟بيا يې ووې:زما دخوښې تر ټولو ستر شاعر همدا دی او ښايي له همدې امله وي،

چې خدای زه د ده په څېر پيدا کړی يم او دا ماته هم وياړ دی چې لږتر لږه خود څېرې نږدېوالی ور سره لرم اوماچې هر څه وکړل هغه منکر شو.د شعرونو بيتونو يې لوستل اوبه،بهيې ورته کول.

له همغې وروسته زه پوه شوم چې هغه بې جرات نه بلکې لېونی دی،ښايي هغه لېونی شاعر چې په خپل تبليغ سره ځان ته شهرت ګټي اوله همغې ورځې مې له شعراوشاعرڅخه زړه تور شو.

## د دوستانوغوري

شمس الدين:ای ګل رسول خانه وروره !تانه خو بېخي د انځرګل جوړ شوی، ته چېرې يې چې هېڅ پته دې نشته، سړی خو کله کله د خپلو دوستانو خبر اخلي بيا !

ګل رسول:ولا شمس الدين خان لالا ! چې ته يې نه وايې نوڅوک يې ووايي.ته څه خبر يې چې په دې ورځو کې په ما څه نه ،تېر نه شول.

شمس الدين:داڅه وايې ګل رسوله ورور ! ژر شه راته ووايه چې څه درته پېښ شوي د ي؟ چا وهلی يې،کور د ې درنه غلو وړی،

په بډوکې نيول شوی يې،که څه؟

ګل رسول:داسې نه ده بيا !آخرپلار مې مړ شو.

شمس الدين:داڅه وايې؟

ګل رسول:هو کې، شمس الدین خان لالا ! څو ورځې وروسته مې مور ور پسې زړه واچوه
او هغه هم خدای راځینې واخیسته.
شمس الدین:رښتیا وایې ؟
ګل رسول:دا لاڅه کوې شمس الدین خانه لالا ! چې د پلار او مور له مرګه څخه مې لا
څو اونۍ نه وې تېرې شوې چې مېر منه مې هم له پوره څلورو اولا دونو سره یو ځای په
یوې ترافیکي پېښه کې مړه شول ا و یوه میاشت وروسته مې له بده بخته کور هم اور
واخیست او د یوې ستنې قدرې شی هم را پاتې نه شول.
شمس الدین:ښه وشول ګل رسول خانه وروره !چې هر څه په خیر تېر شول اخر بلاوه او
برکت یې نه.

## هغه چې له سیاله سره ((سیال)) شو

نه چا اېژاند ،نه چا پېژاند.نه دچا سیال و ، نه دچا شریک او د دومره له نظره لوېدلی
و ،چې دچا خبره چا به په یوه خروار لېټې کې هم نه حسابوه.
خو وخت عجیبه پېښه وکړه ،پرکلي پر له پسې تو پانونه‌پیل شول.
هره ورځ به کورونه ړنګېدل او هره ورځ به کروندې له مېنځه تللې.که څه هم چې د کلي
خلک ټول سره یو لاس و ،یو غږ وو او
لکه د غرونو په څېر یې له له توپا نونو سره دغرې وهلې ،مګر هغه هم چې نه د چا سیال
و ،نه دچه شریک هم له همدې کلي څخه او دغو تو پا نونو خو دهغه سر او مال ته هم زیان
رسولی شو ،نوځکه د کلي مشرانو پرېکړه وکړه ،چې خیر دی هغه دی هم دیوه
مرستندوی په توګه له ځان سره سیال اوپه درد او غم کې دې له ځانونو سره شریک
کړې.او هغه چې نه چا اېژاند له سیالو سره
((سیال ))شو او چې له سیالو سره سیال شو نو سمد لاسه د کلي د ټولو خلکو پر اور مېړو
سور شو ، د کلي د ټولو لویانو اومشرانو دعمرونو کوښښونه یې ورته پر اوبو لاهو کړل
او همدا نارې وهې چې((منم !)) کلی څوک کلیوال څوک؟
مشر څوک او سپین ږیری څوک؟کلی هم کمزوری بولي او د کلي دا لوی ولس هم.هغه هم
رټلی بولي او دا هم.او همدا وایې چې((منم ))که چېرې زه نه وم او زه نه یم،دا کلی او دا
خلک به له

يوې مخې تو پانونه له ځان سره يوسي .او هر وخت کلی او کليوالو ته د مېړانې اود پاکۍ او نجابت چلنج ورکوي
نو کله چې دغه بې بال وپره مړزته گورم نوهاغه دآس اوغوماشي
کيسه را ياده شي چې وايي : يوه ورځ آس د سيند غاړې ته لاړ چې
اوبه وڅښي.آس د اوبو منځ ته ور ننوت او ښه وړاندې پر مخ لاړ.
په دې وخت کې يې يو غوماشي پر شا کېناست آس هېڅ پوه نه شو
چې غوماشي يې پر شا ناست دی.غوماشي غږېږي وکړ:
-که چېرې ډېر درونډ يم ووايه چې درڅخه پاڅم.نه چې زما د درونډ والي له امله په واوبو کې ډوب شې.آس په اوبو کې دمه ش،ويې ويل:
-زه هېڅ پوه نه شوم چې ته مې لا پر شا ناست يې.ته څومره وزن لرې،چې د درونډ والي له امله يې په اوبو کې ډوب شم ؟
کله چې آس په اوبو کې رغړېده،غوماشي په موقع ترې پورته شو اولېرې ولاړ.کله چې آس له اوبو راووت غوماشي بيا راغی د آس پر شا کېناست ويې ويل:
ښه شو چې زه په ښه موقع د اوبو په منځ کې ستا له شا پورته شوم
،که نه نو ته بېچاره خوبه په اوبو کې ډوب شوی وای !